وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ (القران)

# نعتونه

## ملغلري




تصنیف

Ketabton.com

تصنیف

مولانا احمدعلی مردانی

نعتونه ملغلري

ناشر

اسلامي ادبي ټولنه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

د خوږو نعتونو شپږمه مجموعه

# نعتونه ملغلري

(خواږۀ او ښکلی نعتونه)

تصنیف

مولانا احمدعلی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلامیة

علامه محمدیوسف بنوریؒ ټاون کراچی)

یونیورستی روډ خوره بانډه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمٰن الرحیم

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | ښکلے پیغمبر ﷺ ښکلي یادونه |
| تصنیف | مولانا احمدعلي مرداني |
| صفحات | 174 |
| شمیر | ........................................ |
| بیعه | ........................................ |
| اشاعت | ........................................ |
| د چاپ ځائي | اسلامي ادبي تولنه مردان |

د مولانا احمدعلی مردانی نورلیکلی شوی

## د نعتونو چاپ شوی کتابونه

★ رڼا د سحر صفحات 360 د اشاعت کال 2016

★ ښُکلا د چمن صفحات 388 د اشاعت کال 2016

★ د زړۀ سکون صفحات 248 د اشاعت کال 2017

★ حقیقی جانان ﷺ صفحات 288 د اشاعت کال 2018

★ عربی جانان ﷺ صفحات 352 د اشاعت کال 2018

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمٰن الرحيم

# صفا خبره، زما خبره

نعت د عربي ژبې تکی دی چې د صفت بیانولو په معنیٰ راځي ، څنګه چې لفظ د حمد استعمال شي نو دغه وخت د دې نه مراد د الله تعالیٰ تعریف مدح وثنا وي ،دغه شان که چرته لفظ د نعت استعمال شي نو د دې نه مراد به د حضور ﷺ صفت مدح وثنا وي . د حضور ﷺ اولني مدح خوان پخپله خالق د کائنات دی ، چې په خپل کلام قرآن مجید کښې بار بار د رسول الله ﷺ تعریف کوي ، په انسانانو کښې زما د علم مطابق اولني انسان چې ئې په شعرونو کښې د حضور ﷺ مدح وصفت بیان کړے وو ، هغه د حضور ﷺ تره ابو طالب دے، بیا د هغوی نه وروستو د حضور ﷺ په یارانو کښې د حضرت حسان بن ثابت ؓ نوم په خصوصي توګه اخستلے کیږي ، هغوی ته د حضور ﷺ په دربار کښې یو جُدا او لوئے مقام حاصل وو. د دوی نه علاوه ډیرونورو ګڼو صحابهٔ نعت خواني کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده . او نعت خواني ئې د خپل ځان د پاره د سعادت يوه ذريعه ګڼله ، د حضور ﷺ نعت خواني ، مدح وثنا په عربي ژبه کښې او بيا د عربي ژبې نه نورو ژبو ته د نعت خوانۍ او د نعت ليکلو دغه اثر منتقل شو ، او نن د هغې اثر په برکت په لراو بر کښې بيشميره نعت خوانان او نعت ليکونکی شاعران موجود دي . زما نعت ليکل هم د دغې اثر نتيجه ده . زما د ډير وخت نه دا خواهش وو چې زۀ د حضور ﷺ په شان مبارك کښې دومره شعرونه وليکم چې بل چاته په هغې تعداد سره دا سعادت نصيب نه وي . نو الحمد لله نن بيا بيا د الله کريم شکر اوباسم چې زۀ نن په دې مقام شوم چې ما د حضور ﷺ په شان مبارك کښې زما د اندازې مطابق دوه زره ( 2000 ) نعتونه اوليکل ، او زۀ دا خبره الحمد لله ډيره په فخر سره کووم چې په دومره تعداد سره به په يوه ژبه کښې ( زما د خپل علم مطابق ) يو شاعر هم دومره نعتونه نه وي ليکلي . دا خبره يقيناً زۀ د ځان د پاره يو ډير لوئے اعزاز ګڼم . مولیٰ کريم نه دعا ده چې زما د هر کتاب هر هر حرف دې په خپل دربار کښې قبول او منظور کړي او ماله زما مور پلار ، اُستاذانو ، ملګرو او زما سره مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکو تولو ملګرو له دې ئي نجات او باعث د شفاعتِ محمدی ﷺ وګرځوی. وافوض امری الی الله ان الله بصیر بالعباد. ربنا تقبل منا انك انت السمیع العلیم وتب علینا انك انت التواب الرحیم. وصلی الله تعالیٰ علیٰ خیر خلقهٖ محمد وآله واصحابهٖ واهل بیتهٖ اجمعین. امین


د دعاګانو طالب

# احمدعلی مردانی

( فاضل جامعة العلوم الاسلامیة

علامة محمد یوسف بنوریؒ ټاون کراچی )

کنال روډ خوره بانډه مردان

0312-9818511/0321-9818511


( د لیك نیټه: 30 جنوری 2019 )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمٰن الرحیم

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿1﴾

ځوك دے حقیقي جانان او ځوك دے مجازي جانان ؟
تا ته ښۀ ده پته ، حقیقي دے مدني جانان ﷺ
تۀ رانه تپوس کوے ښۀ رانه تپوس کوے
غوره دے د ټولو نه ، زمونږ عربي جانان ﷺ
د هر چا امام هغه، تل ماهِ تمام هغه
غوره په دنیا کښې دے ، هغه هاشمي ﷺ جانان
شك نشته بې شکه دے ، کړۀ عقیده کلکه دے
داسې په دنیا کښې بل نشته صفتي جانان
لاره د مولیٰ ئې ده ، حق له لار صفا ئې ده
ډیر و نن یاد کړے دے ، هغه قریشي جانان
د احمد وینا صفا ، د او وینا رښتیا صفا
ځوښ زمونږ د ټولو دے ، هغه ابدي جانان ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿2﴾

چې په نبیانو مرسلانو کښې بهتر دے
وایه څوك دے هغه ؟ هغه زمونږه پیغمبر دے
چې په آسمان کښې راختلے بره نمر دے
وایه څوك دے هغه ؟ هغه زمونږه پیغمبر دے
هغه کریم په ټول جهان کښې

عظیم هغه په هر مکان کښي
قمر دے هغه په اسمان کښي
هغه دنیا کښي د اسلام هریو سحر دے
ووایه څوك دے هغه ؟ هغه زمونږه پیغمبر دے

هغه بشیر هغه نذیر
هغه سراج هغه مُنیر
هغه محبوب د ربّ خبیر
داسي یاد شوے د دنیا په لر او بر دے
ووایه څوك دے هغه ؟ هغه زمونږه پیغمبر دے

هغه محبوب هم د انصارو
هغه مطلوب دے د دیندارو
هغه غمخوار دے د غمخوارو
په افسرانو کښي اوچت هغه افسر دے
ووایه څوك دے هغه ؟ هغه زمونږه پیغمبر دے

دا د احمدعلی بیان دے
دا ښۀ واضحه په جهان دے
زما دلبر زما ایمان دے
د زړۀ سکون د زړۀ قرار د هر بشر دے
ووایه څوك دے هغه ؟ هغه زمونږه پیغمبر دے

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿3﴾

اُوپیــړنــــه مــا د مــحــمــد ﷺ زهٔ امتـــی یــمــه
هــغــــه مــقـتــدا مــي دے ،زهٔ ئـــي مـقـتـدی یـمــه
زهٔ پــه طــریـقــه د مـصـطـفـیٰ ﷺ ښـکـلـے روان یمـه
زهٔ دهــر بــاطل دپاره هــر ځــائــے کښي طوفان یمــه
مــا ســره رښــا د ایــمــان ځــکـــه مسلـمـان یمــه
ځـکـه تـولـو خـلـقـو کښي زهٔ ډیـر زیات قـیمـتی یمـه
هــغــــه مــقـتــدا مــي دے ،زهٔ ئـــي مـقـتـدی یـمــه
مـا دهـر ابـلـیـس سره په هر میدان کښي جنګ کړے
مــا د هــریو نیك سره دوستـی کړے ده څنګ کړے
کار ما د نبی ﷺ ښــهٔ پــه غیـرت سره په ننګ کړے
نــهٔ د مشــرکــانــو نـــه یــم نــهٔ زهٔ بدعتـــی یـمــه
هــغــــه مــقـتــدا مــي دے ،زهٔ ئـــي مـقـتـدی یـمــه
مـــا د عـــالـــمــانــو ســره میـنـــه پــه هــردر کـړے
مـــا دصـــالـــحـــانـــو ســره میـنـــه بـرابــر کـړے
ما ملـګـرتیا هـرځـائـے کښي دخیر پـه لرا و بر کړے
زهٔ پــه عـاشـقـانـو کښي عـاشق د پاك نبی ﷺ یمـه
هــغــــه مــقـتــدا مــي دے ،زهٔ ئـــي مـقـتـدی یـمــه
مـاســره اخـلاق د نبـــی ﷺ دغــه تـول عـمـل ښکلے
مـاســره سنـت د نبـــی ﷺ ښـهٔ ئي دے بدل ښکلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر بشر سنت سره ښائسته ښکاریږي تل ښکلے

زۀ احمدعلي په نسب دا رنګ قریشي یمه

هغه مقتدا مې دے، زۀ ئې مقتدي یمه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿4﴾

ژوند چې د جانان ﷺ سره وي خوند کوي

ژوند چې د ایمان سره وي خوند کوي

ژوند کښې چې درود او سلامونه وي

ژوند کښې چې د خوږ نبي ﷺ یادونه وي

ژوند چې اطمینان سره وي خوند کوي

ژوند چې د جانان ﷺ سره وي خوند کوي

ژوند کښې چې سیرت د مصطفیٰ ﷺ راشي

ژوند کښې چې د پاك نبي ﷺ ادا راشي

ژوند چې په ښۀ شان سره وي خوند کوي

ژوند چې د جانان ﷺ سره وي خوند کوي

ژوند کښې چې رڼا د محمد ﷺ وي تل

ژوند کښې چې ښُکلا د محمد ﷺ وي تل

زړۀ د حق بیان سره وي خوند کوي

ژوند چې د جانان ﷺ سره وي خوند کوي

هر قدم وي ښکلے د جهان زما

هر قدم وي ښکلے عالیشان زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محشر سامان سره وي خوند کوي
ژوند چې د جانان ﷺ سره وي خوند کوي

دغه د ژوندون يو تمنا زما
دغه هر طرف ته يو صدا زما

ژوند چې د قرآن سره وي خوند کوي
ژوند چې د جانان ﷺ سره وي خوند کوي

داسي دا احمدعلي ارمان دے نن
ژوند ئې د دنيا چې په مردان دے نن

ژوند چې مونځ أذان سره وي خوند کوي
ژوند چې د جانان ﷺ سره وي خوند کوي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿5﴾

په زړۀ کښې مې ساتلے تخيَل د محمد ﷺ
له هر څۀ نه دے ښکلے تخيَل د محمد ﷺ

دا خيال او تخيَل د ډيرو کمو په نصيب وي
راغلے راله غلے تخيَل د محمد ﷺ

نيکانو صالحانو ته دنيا کښې دا نصيب وي
ما زړۀ پورے نيولے تخيَل د محمد ﷺ

ژوندون له د سکون او اطمينان دے يو سبب
هر وخت ما رابللے تخيَل دمحمد ﷺ

په منيو دے دنيا کښې ورله نشته دے آرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چـانـه چـې نـن تـلـے تـخيَـل د مـحمـد ﷺ
احـمـد پـه دغـې خيال او تـخيَـل كښې دے خوشحاله
هـر چـا ښـكـلـے لـيـكـلـے تـخيَـل د مـحمـد ﷺ

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿6﴾

زۀ د نبـى ﷺ پـه لاره ځـمـه بل طرف تـه نـۀ ځـم
د هـاشـمـى ﷺ پـه لاره ځـمـه بـل طـرف تـه نـۀ ځـم
نيـغـه ده لاره د ګـنـدونـو نـه ده پـاكـه پـاكـه
نيـغـه ده لاره د غـمـونـو نـه ده پـاكـه پـاكـه
د مـدنـى ﷺ پـه لاره ځـمـه بل طرف تـه نـۀ ځـم
زۀ د نبـى ﷺ پـه لاره ځـمـه بل طرف تـه نـۀ ځـم
دا د نيـكـانـو صـالـحـانـو لاره دلتـه كښـې ده
د عـالـمـانـو امـامـانـو لاره دلتـه كښـې ده
د قـريـشـى ﷺ پـه لاره ځـمـه بل طرف تـه نـۀ ځـم
زۀ د نبـى ﷺ پـه لاره ځـمـه بل طرف تـه نـۀ ځـم
ځـم پـه دې لار بـه شـم ملـګـرے د اصـحابو رضه سره
ځم پـه دې لار بـه شم ملـګـرے خپـل احبابو رضه سره
د عـربـى ﷺ پـه لاره ځـمـه بل طرف تـه نـۀ ځـم
زۀ د نبـى ﷺ پـه لاره ځـمـه بل طرف تـه نـۀ ځـم
لار مـې ده خـوښـه ده د احـمـدعلى بيان دلتـه دے
لار مـې ده خـوښـه د احـمـدعلى اعلان دلتـه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ د مکی په لاره ځمه بل طرف ته نۀ ځم
زۀ د نبی ﷺ په لاره ځمه بل طرف ته نۀ ځم

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿7﴾

سفر د مديني دے ځکه نن په ما اختر دے
نظر مې په روضې دے ځکه نن په ما اختر دے
روان شومه روان ورته ،خوشحاله په جهان
روان شومه روان ، راشه لږ خواله په جهان
اثر دې جذبې دے ځکه نن په ما اختر دے
سفر د مديني دے ځکه نن په ما اختر دے
خبر مې دی د حاله انسانان د کلی کور
خبر مې دی د حاله ټول یاران د کلی کور
نظر مې په جنګلې دے ځکه نن په ما اختر دے
سفر د مديني دے ځکه نن په ما اختر دے
خواږۀ خواږۀ یادونه راسره دی په دې لاره
خواږۀ خواږۀ یادونه راسره دی خوشبوداره
اثر د دې حصې دے ځکه نن په ما اختر دے
سفر د مديني دے ځکه نن په ما اختر دے
ایسار به دلته نشم نور احمده په جهان
دا ټول مې دے لیکلے د خیالونو یو بیان
خوږ یاد د دې کوځې دے ځکه نن په ما اختر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سفر د مديني دے څکه نن په ما اختر دے

## د جنګِ اُحد درد ناك منظر﴿ 8 ﴾

غم په هر طرف وو چې زمونږه جانان ﷺ څنګه دے؟
هغه په مونږ ګران نبي ﷺ ، دلبر د جهان څنګه دے ؟
ورځ وه د احد د جنګ دا هريو صحابی ؓ وئيل
ورځ وه دغيرت او ننګ دا هريو صحابی وئيل
څنګه دے محبوب زمونږ هغه مهربان څنګه دے ؟
هغه په مونږ ګران نبي ﷺ ، دلبر د جهان څنګه دے ؟
فکر د صديق ؓ سره وو فکر د عمر ؓ سره
فکر د عثمان ؓ سره وو فکر د حيدر ؓ سره
اوګوره منظر عجيبه ، دغه ميدان څنګه دے ؟
هغه په مونږ ګران نبي ﷺ ، دلبر د جهان څنګه دے ؟
ټول راجمع شوی وو کافر چې په مکه کښې وو
غټ غټ کافران د پاك نبي ﷺ مقابله کښې وو
سرے وينے پرتے وے لاندے دغه دوران څنګه دے
هغه په مونږ ګران نبي ﷺ ، دلبر د جهان څنګه دے ؟
ورځ د امتحان وه په اصحابو ؓ ټولو دلته کښې
ورځ د ډير خفګان وه په اصحابو ؓ ټولو دلته کښې
اوګوره اصحابو ؓ ته علي ؓ او عثمان ؓ څنګه دے ؟
هغه په مونږ ګران نبي ﷺ ، دلبر د جهان څنګه دے ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



يــاد بــه دا مــنـظــروي زمــا هيـر بــه دا حـمـد نشـي

يــادبــه پــه هــر دروي زمــا هيـر بــه دا حـمـد نشـي

ږك د غــم او درد نــه دا ليـكـلـے بيـان ښـنگـه دے ؟

هغه په مونږ گران نبي ﷺ ، دلبر د جهان ښنگه دے ؟

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ (تبليغ) ﴿ 9 ﴾

انســانـــه ! كـــۀ پــه سچــه مسـلـمـان ئـي راځــه

عـــاشــق كـــۀ د نبــي اخــرزمــان ﷺ ئـي راځــه

تبـلـيـغ كښـي نـوررنـا ده دغــه كـار دے د نبـي ﷺ

تبـلـيـغ كښــي نــوررنـــا ده دغـــه كـــار د هــرولــي

پـــه سـچـــه تـــابـعـــدار كـــۀ رحـمٰـن ئـي راځــه

عـــاشــق كـــۀ د نبــي اخــرزمــان ﷺ ئـي راځــه

هـــريـــو قـــدم دے دلـتـــــه پــــه دي لاره قـيـمـتـــي

هـــريـــو ادم دے دلـتـــــه پــــه دي لاره قـيـمـتـــي

تــابـع كـــۀ د مــولــىٰ غـنـــي سبـحـان ئـي راځــه

عـــاشــق كـــۀ د نبــي اخــرزمــان ﷺ ئـي راځــه

اجـر وثـواب ډيـرزيـات پـه هـرقـدم دلـتـه كښـي دے

ښـائسـتــه پـه ټـول جهـان دغـه عـالَم دلـتـه كښـي دے

مـــلـــگـــري پــــه دنيـــا كـــۀ دَ قـــران ئـــي راځــه

عـــاشــق كـــۀ د نبــي اخــرزمــان ﷺ ئـي راځــه

مــونـځــونــه او ذكـرونـه پـه دي لاره بانـدي ډيـر دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعـلـــیٰ عبــادتــونـــه پــه دي لاره بــانـدي ډیـر دی
عــامـل پــه طـریـقـه کـۀ د جـانـان ﷺ ئـي راځـه
عـــاشــق کـــۀ د نبـــی اَخــرزمــان ﷺ ئـي راځـــه
نـفـرت دلتــه د شـرك نــه د بـدعـت نـه پـه هردر
نـفــرت دلتـــه د شـــر نـــه شـــرارت نـــه پـــه هــردر
داعـــی کـــۀ پـــه دنیـــا دحـــق بیـــان ئـــي راځـــه
عـــاشــق کـــۀ د نبـــی اَخــرزمــان ﷺ ئـي راځـــه
اعـلـــیٰ دا مـــدرســـه د ښـــۀ اخـلاقـو د جهـــان
ښـتـــه دلتـــه هـــر حـــصـــه د ښـــۀ اخـلاقـو د انـسـان
خیـر خـوا کـۀ پـه دنیـا تـۀ د خپـل ځـان ئـي راځـه
عـــاشــق کـــۀ د نبـــی اَخــرزمــان ﷺ ئـي راځـــه
حیـــا وفـــا ده دلتـــه هـــر مـــؤمـــن لـــه د جهـــان
ښـــائسـتـــه فـــضـــا ده دلتـــه هــر مؤمـن لـه دجهـان
طـــالـــب کـــۀ د ګـــلـــونـو ګـــلستـــان ئـي راځـــه
عـــاشــق کـــۀ د نبـــی اَخــرزمــان ﷺ ئـي راځـــه
د زړونـــو اطـــمـیـــنـــان پـــه دغـــي لاره مـلاویـــږی
زړنـــا د هـــر ایـــمـــان پـــه دغـــي لاره مـلاویـــږی
طـــالـــب کـــۀ د سـکـون او اطـمـیـنـان ئـي راځـــه
عـــاشــق کـــۀ د نبـــی اَخــرزمــان ﷺ ئـي راځـــه
ښـائسـتـۀ دغـه ژوندون د ے اے احـمـده ! پـه جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



جورېږي او پخېږي په دې لاره کښې ایمان
دښمن کۀ ابلیس او دشیطان ئې راځه
عاشق کۀ د نبی آخرزمان ﷺ ئې راځه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿10﴾

زۀ داعی د حق ښکلی اسلام یمه
زۀ د محمد ﷺ د در غلام یمه
خوښ مې دے هر کار د مصطفیٰ ﷺ دلته
خوښ مې دے دربار د مصطفیٰ ﷺ دلته
زۀ عاشق د دغې در امام یمه
زۀ د محمد ﷺ د در غلام یمه
ما د هر بدعت نه نفرت کړے دے
ما د شرارت نه نفرت کړے دے
زۀ داعی د ښکلی حق نظام یمه
زۀ د محمد ﷺ د در غلام یمه
مَل یم د صدیق اکبرؓ زۀ دلته کښې
مَل یم د حضرت عمرؓ زۀ دلته کښې
زۀ ښائسته د دین په هر کلام یمه
زۀ د محمد ﷺ د در غلام یمه
خوښه طریقه مې د عثمانؓ ښکلې
لاره د حضرت علیؓ سلمانؓ ښکلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ روان د دوی په هر یو ګام یمه
زۀ د محمد ﷺ د در غلام یمه
زۀ احمد دا ذکر تذکره کوم
دغه ذکر زۀ په خوند مزه کوم
زۀ خبر د دوی د هر مقام یمه
زۀ د محمد ﷺ د در غلام یمه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿11﴾

نۀ یمه غدّار نۀ بې ایمان یمه
زۀ د خپل نبی ﷺ په لار روان یمه
نۀ زۀ د ابلیس سره ملګرے یم
نۀ د چارسویس سره ملګرے یم
نور سره روان زۀ د قرآن یمه
زۀ د خپل نبی ﷺ په لار روان یمه
لرے د مشرك نه بدعتی نه یم
لرے د شیطان، شرارتی نه یم
زۀ انسانیت لرم، انسان یمه
زۀ د خپل نبی ﷺ په لار روان یمه
نۀ یمه حاسد نۀ مې حسد خوښ دے
نۀ مې په دنیا دلته یو بد خوښ دے
ښۀ دلته په سچه مسلمان یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ د خپـــل نبـــی ﷺ پـــــه لار روان يـــمـــــه
ربَـــه ! هـــر ګــنـــاه نـــه مـــي تـــويـــه دلتـــه
ربَـــه ! هـــر خـــطـــا نـــه مـــي تـــويـــه دلتـــه
زۀ احـــمـــد صـــادقـــه پــــه بيـــان يـــمـــه
زۀ د خپـــل نبـــی ﷺ پـــــه لار روان يـــمـــــه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿12﴾

اے بـــادِ صبـــا ! د مـــديـــنـــي دے هـــريـــو در ښــکلے
لاړ شـــه مـــديـــنـــي تـــه د دنيـــا دے دا سفر ښــکلے
لاړ شـــه ارمـــانـــونـــه د دنيـــا د در پـــوره کـــړۀ نـــن
اُوکـــړۀ ديـــدنـــونـــه ، حسرتـــونـــه خپـل پوره کړۀ نـن
ښـــکلے هــر مـــنظر نـــه په دنيا دے دا منظر ښکلے
لاړ شـــه مـــديـنـي تـــه پـــه دنيا دے دا سفر ښـــکلے
مـيـنـه محبـت هلتـه کښـي هـريـو سعـادت هلتـه
لـويـو نعـمتـونو کښـي دے هريو لوئـے نعمت هلته
ورشـــه نـــظر اُوکـــړه ددي در دے هـــر نـــظر ښـــکلے
لاړ شـــه مـــديـنـي تـــه پـــه دنيا دے دا سفر ښـــکلے
هـــلـتـــه قـــافـــلـــے د لـــرے لـــرے رسيـــدلـــی دی
هلتـه کښـي ادب شتـه انسانان هلته کښي غلي دي
رحـم وکـرم هلتـه کښـي وريـږي هـر سحـر ښکلے
لاړ شـــه مـــديـنـي تـــه پـــه دنيا دے دا سفر ښـــکلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـا احـمـدعلـی تـه ، هغـه در ځکـه یاد شوے دے
زړۀ مـې ورسـره پـه سـکون شوے ، آباد شوے دے
ځـکـه چې نسبت ورسره دے د پیـغمبر ﷺ ښکلے
لاړ شــه مـدينې تـه پـه دنيا دے دا سفر ښـکلے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿13﴾

ښـکلے ئې کو څے تولے دی ، ښکلی ئې کورونه دی
ښار د مدينې ښـکلے دے ، ښکلے ئې یادونـه دی
در دے د صـديـق اکبـرؓ او دا دے د عـمـرؓ کـلـے
در دے د حـضـرت عثمـانؓ او دا دے د حيدرؓ کلے
ورشـه خـوشبـودار پـکښـې قسـم دے مـحفلونـه دی
ښار د مدينې ښـکلے دے ، ښکلے ئې یادونـه دی
دغـــه د حسـانؓ کـلـے دے دغـه عـالیشـان کلے
ستـورے پـه دنيـا کښـې د نبی آخـرزمـان ﷺ کلے
هـلتـــه رڼـا ګـانـے دی او هـلتـه کښې ګـلـونـه دی
ښار د مدينې ښـکلے دے ، ښکلے ئې یادونـه دی
هـلتــــه قـدمـونــــه د نبیــــانـو ســـردار ايـخـی دی
هلتـه قـدمـونـه مـصطفیٰ ﷺ خوشبودار ايخی دی
هـلتـــه د بـرکـت نـه ډك دنيـا کښې عـمـلـونـه دی
ښار د مدينې ښـکلے دے ، ښکلے ئې یادونـه دی
ځـکـــه نـن احـمـدعلـی کـړيږی ورپسے دلتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه نن احمدعلی ژړېږي ورپسې دلته
نن ورته یاد شوي هغه در هغه وختونه دي
ښار د مدینې ښکلې دې، ښکلې ئې یادونه دي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿14﴾

سفر د ښکلی ښار د مدینې دې راځه
یاد شوې مې دلدار د مدینې دې راځه
راځه چې لاړ شو لاړ شو هغه در ته د نبی ﷺ
راځه چې لاړ شو لاړ شو هغه در ته د مکی ﷺ
یاد شوې مې غمخوار د مدینې دې راځه
سفر د ښکلی ښار د مدینې دې راځه
راځه چې شو ملګرې په دنیا د دې سفر
راځه چې خپل ژوندون کړو په دنیا کښې منوّر
یاد شوې مې سردار د مدینې دې راځه
سفر د ښکلی ښار د مدینې دې راځه
راځه چې هر لمحه شی قیمتی د دې جهان
راځه چې دا ژوندون زمونږه تول شی عالیشان
یاد شوې مې تاجدار د مدینې دې راځه
سفر د ښکلی ښار د مدینې دې راځه
احمدعلی! بس پرېږده خپل وطن کلې مردان
کوځې ته د نبیانو د سردار ﷺ شه زر روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



عــالــی صــفـت ګـفتــار د مــدیـنـې دے راځــه
ســفــر د بــکـلــی ښــار د مدیـنـې دے راځــه

### نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿15﴾

تبـلیـغ کــار د نبــی اَخــرزمــان ﷺ دے راځــه
دا کــار د هــر مــؤمــن او مسـلـمـان دے راځــه
دا کــار د مـحـمـد ﷺ عـربـی دے اے مسلمـانـه!
تـاپـریښـے وُلـے کـار دا پـه دنیا کښې دے انسانـه!
دنیــا ځــائــے د انســان د امتــحــان دے راځــه
تبـلیـغ کــار د نبــی اَخــرزمــان ﷺ دے راځــه
اخـلاق پـه دغـې لاره کښـې زده کیـږي د نبـی ﷺ
سـنـت پــه دغـې لار کښـې بیـانیـږي د نبـی ﷺ
نُــور راشــه د دې لار پــه هــر مـکــان دے راځــه
تبـلیـغ کــار د نبــی اَخــرزمــان ﷺ دے راځــه
انــوار د مـحـمـد ﷺ پـه دغـې لاره کښـې پـراتـهٔ دی
آثــار د مــحـمـد ﷺ پـه دغې لاره کښـې پـراتـهٔ دی
دنیــا کښــې حـفـاظـت د هـر شیـطـان دے راځــه
تبـلیـغ کــار د نبــی اَخــرزمــان ﷺ دے راځــه
بــرکـات د مـحـمـد ﷺ کـهٔ لیـدل غـواړے دلتـه دی
صـفـات د مـحـمـد ﷺ کـهٔ لیدل غـواړے دلتـه دی
ګــواه پــه دې خبــره هــر انســان دے راځــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبليغ كار د نبي اخرزمان ﷺ دے راځه
محنت په دغې لار كښې د اسلام دلته كښې كيږي
دانا انسان په دې خبره دلته كښې پوهيږي
ملګرے د دې لارے حق قران دے راځه
تبليغ كار د نبي اخرزمان ﷺ دے راځه
تعليم په دغې لار كښې د مونځونو هرساعت دے
احمده ! دا بيان ليكلے ټول تا حقيقت دے
زمونږه دين خځ ګران نهٔ دے اسان دے راځه
تبليغ كار د نبي اخرزمان ﷺ دے راځه

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿16﴾

دا چې ښائسته ښكلے د نمر په شان رڼا كلے دے
وايه د چا كلے دے ؟ د مصطفىٰ ﷺ كلے دے
دلته صديق عمر عثمان دے پاتے شوے وروره !
دلته بلال سره سلمان دے پاتے شوے وروره !
وايه دنيا كښې كوم د ټولو نه بالا كلے دے
وايه د چا كلے دے ؟ د مصطفىٰ ﷺ كلے دے
دلته ياران د محمد ﷺ رسول اللّه وُسيږي
اصحابان د محمد رسول اللّه ﷺ وُسيږي
د هريو ګند نه په دنيا باندې صفا كلے دے
وايه د چا كلے دے ؟ د مصطفىٰ ﷺ كلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلتـــه چینـــې د عـلـم نُـور پـــه هــر مقـام بهیـږي
دلتــه چینـــې د حِلـم هـر ځـائـې کښي تمام بهیـږي
قســـم دې راشــــه پـــه دنیــــا د اولیـــاء کـلـــې دې
وایــه د چـا کلـې دې ؟ د مـصـطفیٰ ﷺ کلـې دې
ځــکــه احــمــد ئــې هــر ســحــراو هــر ماښام یادوي
ځــکــه احــمــد ئــې بــرابــر پـــه هــر مـقــام یــادوي
پــه کــائــنـات کښي د امـام الانبیـاء ﷺ کلـې دې
وایــه د چـا کلـې دې ؟ د مـصـطفیٰ ﷺ کلـې دې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 17 ﴾

راتــــه وو وایــــه د نبیــــانــو خــوك امــام ﷺ دې
حــق مــحــمــد ﷺ نبــي ﷺ دې، مــاوِ تــمــام دې
هــــغــــــه امــــــام د اوَلیــــنـــو تـــولـــو
مــــاوِ تـــمـــــام د اوَلیـــنـــو تـــولـــو
شــان اوشــوکــت چــي پــه نــصیـب کښي ئي مُدام دې
حــق مــحــمــد ﷺ نبــي ﷺ دې، مــاوِ تــمــام دې
مــــاوِ تــــمـــــام د آخـــریـــنـــو هـــغــــه
امــــام د تــولـــو مــؤمــنیــنــو هــغــــه
عــالــی صـفـت ئـي هـر طـرف تـه هـر کـلام دې
حــق مــحــمــد ﷺ نبــي ﷺ دې، مــاوِ تــمــام دې
ډیـــر پـــه دنیـــا کښـــي قـــدر مـــنــده هـغـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عـــالـــی صـفـــت ډيـــر عـــزت مـنـده هـغـــه
نُـــور د دنيــــا د هـــر سـحـــر او د مـــاښـــام دے
حـق مـحـمـد ﷺ نبـــی ﷺ دے، مـاهِ تـمـام دے
ورتـــــــه صـــــادق ورتــــــه امـيـــن وائـــــی
ورتـــــــــه د دوجهــــــــان حسيــــن وائــــــی
هـغـــه رهبـر پـــه دې دنيـا د خـاص او عـام دے
حـق مـحـمـد ﷺ نبـــی ﷺ دے، مـاهِ تـمـام دے
هـغـــه قـــرآن کښـــي پـــه طـــٰـه يـــاديـــږی
پـــه هـــر صـفـــت ســـره اعـلـــیٰ يـــاديـــږی
داسـې دنيــا کښـې ئې احـمـده ! الـوئـے مقـام دے
حـق مـحـمـد ﷺ نبـــی ﷺ دے، مـاهِ تـمـام دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿18﴾

در تـــــــه د سيَـــدالابـــــرار ﷺ راځـــــــه
خيـــر لــــــه دې در تـــــه بـــار بـــار راځـــه
خيـــر د جهـــان د پـــاره دلتـــــه کښـــي دے
خيـــر هـــر انســـان د پـــاره دلتـــه کښـــي دے
راځـــــه د پـــاك نبـــی ﷺ پـــه لار راځـــه
در تـــــــه د سيَـــدالابـــــرار ﷺ راځـــــــه
دلتــــه بـــركـــت پـــه هـــر مـقـــام د ربَ دے
دلتـــــه رحـــمـــت پـــوره تـــمـــام د ربَ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه وطن ته د تاجدار راځه
در ته د سيّدالابرار ﷺ راځه
نور او رڼا په دې مقام پرته ده
دلته رڼا د خاص او عام پرته ده
دغې رڼا ته د غمخوار راځه
در ته د سيّدالابرار ﷺ راځه
در دغه هر بشر لېدل غواړي نن
احمده ! هر مؤمن ورتلل غواړي نن
در ته د پاك نبي ﷺ سردار راځه
در ته د سيّدالابرار ﷺ راځه

## نعتِ مصطفٰی ﷺ ﴿ 19 ﴾

كاش چې زما عمر مدينه كښې تېر يدلے
هلته د سلام سره درود مې تل وئيلے
هلته د روضې سره مې ناسته هر ساعت وے
شنې روضې جنګلې سره مې ناسته هر ساعت وے
داسې د جهان دغه ژوندون وې زما ښكلے
كاش چې زما عمر مدينه كښې تېر يدلے
ناسته او ولاړه مې ورضې سره سحر وے
هر يوه لمحه راته دا در په دې نظر وے
هر يوه لمحه مې په روضه نظر ساتلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاش چې زما عمر مدینه کښې تېر یدلے
زړۀ پورے ادب مې وې تړلے ښۀ تمام
دغه طريقه وے زما هلته کښې مدام
ما درود سلام هلته وئيلے غلے غلے
کاش چې زما عمر مدینه کښې تېر یدلے
دغه تمنا الرى احمد د دې جهان
دغه تمنا ده د مؤمن او مسلمان
هلته کښې مې خوب کوُلے هلته پاڅيدلے
کاش چې زما عمر مدینه کښې تېر یدلے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿20﴾

مدينه كښې چې د چا تيره شوے زندگی ده
هر لمحه ئې د جهان ، ښۀ ښائسته ده قيمتی ده
هر لمحه کښې ئې سکون دے د دنيا په هر قدم
رڼا دلته هر بشر له په دنيا کښې ابدی ده
ورته سپك چې چا کتلی په دنيا کښې دی ذليله
په نسبت سره اُوچته مدينه د پاك نبی ﷺ ده
ستوری دلته د رڼا دی هر بشر ته ده معلومه
مونږ اخستے هر رڼا په دنيا د صحابیؓ ده
صحابهؓ په نيغه لار دی عقيده لرمه دلته
د دوی لاره په دنيا کښې د مکی ﷺ او مدنی ﷺ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته نور د شریعت دے په هر ځائے کښې هدایت دے
رڼا دلته نه اخستے د دنیا هریو ولی ده
مدینه د نور نه ډکه دا مې کلکه عقیده ده
هر قدم باندې دنیا کښې اے احمده! صفتی ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿21﴾

راشه مینه مې په زړهٔ کښې د خپل خوږ ښائسته نبی ﷺ ده
مجازي مینه مې نهٔ ده زما مینه حقیقی ده
ټول جهان ته ده معلومه زهٔ مدّاح د مصطفیٰ ﷺ یم
طریقه مې په دنیا کښې د مکّی او مدنی ﷺ ده
نهٔ نظر ساتم په بل نهٔ اُمید لرم د بل
ما المن نیولے دلته دیو لوئے بشر عالی ده
دا هر چا ته ده معلومه، دلته کښې د ربّ رضا ده
دلته کښې هریو بشر له څوك چې غواړي کامیابی ده
ټول سیرت ئې نور رڼا دے داسې مونږ ته ده معلومه
خوشه کړے هغه مونږ له په دنیا کښې عاجزی ده
د غریب یتیم ملګرے هغه هر ځائے په هر لاره
خوشه کړے په دنیا کښې هغه ځان له فقیری ده
بادشاهان او وزیران ئې ټول د در وو غلامان
داسې دلته په دنیا کښې هغه کړے بادشاهی ده
فکر مند زمونږ د پاره هر ساعت هغه احمده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



احـــاديثــو كښـې راغـلــے ئـې صـدا د اُمّتـــى ده

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿22﴾

عـقيـده مې ده مضبوطه ، پوخ ايمان مې په نبي ﷺ دے
مـقـتدا مې د جهـان دے هـريـو څيز ئې مقتدى دے
مُـرسلانـو كښې امام دے پـه وليانو كښې امام دے
رحـمة الـلـعٰـلـميـن ، ورسـره هـم هـاشـمـي ﷺ دے
پـه صـادق سـره يـاديږي ، كلـه ذكـر چې ئې كيـږي
پـه لـقـب سـره اميـن ، ورسـره هـم مـدنـي ﷺ دے
تـاج د سـر د هـر بشـر دے ، نورانـي صفـت قمـر دے
نـمـر روښانـه پـه دنيـا كښې ، عاليشانـه قريشي دے
پـه وَالّيـل سره ئې ذكـر ، د مـولـىٰ پـه دې قرآن شتـه
په طٰهٰ ﷺ سره ياد شوے مُرسلانو كښې مكي دے
صـحـابـهؓ ئې تـول دي ستورى اے احمده ! د جهان
لـوئـے مـقام ئې په دنيا كښې د عاشق هر اُمّتى دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿23﴾

كـلــه تــهٔ حـج لــه يـــا عـمـــري تــه چـې ځــے
ســلام مـــې يـــوســـه ، مـدينـې تـــه چـې ځـــے
ســلام مـــې يـــوســـه پـــه ادب ســـره تـــهٔ
پيـــغـــام مـــې يـــوســـه پـــه ادب ســـره تـــهٔ
كـلــه د پـــاك نبـــي ﷺ كـوځــے تـــه چـې ځــے

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلام مي يوسه، مديني ته چي ځے
دا لوئے عمل په عملولو کېږي دے
دا لوئے عمل عبادتونو کېږي دے
وايه درود دغي حصي ته چي ځے
سلام مي يوسه، مديني ته چي ځے
نور د نبي ﷺ په هر مقام هلته دے
نور د نبي ﷺ سحر ماښام هلته دے
خيال کوه خيال دے علاقي ته چي ځے
سلام مي يوسه، مديني ته چي ځے
هلته نعتونه د نبي ﷺ کوي خوند
ښکلي يادونه د نبي ﷺ کوي خوند
ښۀ په ادب شۀ، باغيچي ته چي ځے
سلام مي يوسه، مديني ته چي ځے
کور د ادب او احترام دلته کېږي
قول په دنيا د هر امام دلته کېږي
خيال کوه ډير، دغي چيني ته چي ځے
سلام مي يوسه، مديني ته چي ځے
داسي احمدعلي په جار وئيلي
داسي احمدعلي بار بار وئيلي
ځۀ په ادب، دي محلي ته چي ځے

(c) ketabton.com: The Digital Library


سلام مې يوسه، مدينې ته چې ځې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿24﴾

فضا بدله شوه، موسم بدل شو
راغې نبي ﷺ، عرب عجم بدل شو
مينه ښوره په هر طرف باندې شوه
لاړو خزان، هر ځائې موسم بدل شو
دښمني ورکه د جهان نه شوله
نفرت په مينه په کَرَم بدل شو
اختر هر ځائې ته هريو کورته راغې
په خوشحالو سره هر غم بدل شو
آواز او چغې د انصاف جوړې شوې
بادشاه د ټولو د هر چَم بدل شو
يو انقلاب په هر طرف ښکاره شو
ژوند د اولاد د ټول آدم بدل شو
احمد په هغه ذات سلام وئيلې
د چا له مخه چې عالَم بدل شو

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿25﴾ ( هجرت د مدينې)

راځه صديقهؓ ! مدينې ته چې ځو
د ښځۀ انصارو قبيلې ته چې ځو
دلته ظلمونه په هر لور باندې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلتـــه ظـلــمــونــه کـور پــه کـور بــانـدي دي
ځــو دانـــصـــارو مــحـلـــي تـــه چــي ځــو
راځـــه صـديـقـــهؓ ! مــديـنــي تــه چــي ځـو

دلتـــــه رنـــا تــــر لــــري لــــري نشتـــــه
دلتـــــه وفـــا تــــر لــــري لــــري نشتـــــه
راځــــه رنـــا هــغــي حـصــي تــه چــي ځـو
راځـــه صـديـقـــهؓ ! مــديـنــي تــه چــي ځـو

دلتـــه کـبـي شـرك دلتـــه کـبـي کـفـر عـام دے
دلتـــــه ګـــنـــده د هــــر بشـــر کــــلام دے
مــونـــږ د انـــصـــارو در کـوځـي تــه چــي ځـو
راځـــه صـديـقـــهؓ ! مــديـنــي تــه چــي ځـو

دلتـــه هــر ځـــائـے دي تـکـلـيـفـونــه ښــهٔ ډيـر
دلتـــه هــر ځـــائـے مـصـيـبـتـونــه ښـــهٔ ډيـــر
ځــو د آرام اوس بـــاغـيـچــي تـــه چــي ځــو
راځـــه صـديـقـــهؓ ! مــديـنــي تــه چــي ځـو

دا د مـــولـــیٰ حـــکــم راغـــلـــے دے نـــن
احـــمـــده ! تـــا ښـــکـــلـــے لـيـکـلـے دے نـن
مــونـــږ مـديـنـــي مــنــوري تـــه چــي ځــو
راځـــه صـديـقـــهؓ ! مــديـنــي تــه چــي ځـو

★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿26﴾

راځــــه راځــــه زر مـدیـنـــې تـــه چـې ځـو
د پــاك نبــی ﷺ کـلـــی کـوځـې تــه چـې ځـو
پـــریــــږده دنیـــا دا کـــاروبـــار دلتـــه کښـې
پـریـــږده خپـل کـور کـلـے او ښـار دلتـه کښـې
راځـــه انــوارولـــه ، روضـــې تـــه چـې ځـو
د پــاك نبــی ﷺ کـلـــی کـوځـې تــه چـې ځـو
پــــریـــــږده یـــــاران د دې دنیـــــا د در
شـــورو ، شـــورو کـــړۀ ، مبـــارك ســـفـــر
راځـــه دې در تـــه بـاغیـچـې تـــه چـې ځـو
د پــاك نبــی ﷺ کـلـــی کـوځـې تــه چـې ځـو
در مبــــــارك دمـــدیــــنـــې دے تـــول
در مبــــــارك هـــم د مـــکـــې دے تـــول
د رحـــمتـــونـــو دې حـــصـې تـــه چـې ځـو
د پــاك نبــی ﷺ کـلـــی کـوځـې تــه چـې ځـو
در دا آبـــاد دے پـــه صـدیــقؓ او عـــمـرؓ
ښــائستـــۀ دا در دے پـــه عثـمــانؓ او حیـدرؓ
راځـــه راځـــه دې عـلاقـــې تـــه چـې ځـو
د پــاك نبــی ﷺ کـلـــی کـوځـې تــه چـې ځـو
ویـــنـــا الحـــمـــده ! دا خــوږه دلتـــه کښـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذكر كوه په هر حصه دلته كښې
مونږه د نور حكمت چينې ته چې ځو
د پاك نبي ﷺ كلي كوڅې ته چې ځو

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿27﴾

مونږه كعبې ته ياروضې ته چې ځو
ځو به په شوق، مونږ مدينې ته چې ځو
ځكه محبوب د انبياء هلته دے
ځكه محبوب د پاك الله هلته دے
ځو به په شوق، دغې حصې ته چې ځو
مونږه كعبې ته ياروضې ته چې ځو
دردِ صديقؓ، دردِ عثمانؓ عليؓ دے
دردِ عمرؓ، دردِ هريو ولي دے
ځو به په شوق، دې باغيچې ته چې ځو
مونږه كعبې ته ياروضې ته چې ځو
دردِ حسنؓ اودِ حسينؓ يادېږي
دردِ اصحابؓ دے لكه نمر ځليږي
ځو به په شوق، دغې چينې ته چې ځو
مونږه كعبې ته ياروضې ته چې ځو
هلته رحمت هلته بركت ښكاره دے
احمده! هلته محبت ښكاره دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو به په شوق، دغي کوڅي ته چي ځو
مونږه کعبي ته يا روضي ته چي ځو

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿28﴾

راځه ښائسته ښکلي جانان له چي ځو
مونږه نبی اخرزمان ﷺ له چي ځو
هغه دلبر د دلبرانو نبی ﷺ
هغه افسر د افسرانو نبی ﷺ
راځه هغه ښکلي انسان له چي ځو
مونږه نبی اخرزمان ﷺ له چي ځو
ورسره ښکلي ټول جهان دغه دے
ورسره ښکلي پاس اسمان دغه دے
څو چي راځه نور او عرفان له چي ځو
مونږه نبی اخرزمان ﷺ له چي ځو
ورته عرب ورته عجم ولاړ دے
ښه په ادب بني ادم ولاړ دے
يو ځائے ټول مونږه مهربان له چي ځو
مونږه نبی اخرزمان ﷺ له چي ځو
دا د احمد سلام چي هير دے نشي
دا د احمد کلام چي هير دے نشي
راځه حديثو له قران له چي ځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـونـــږه نبـــی اخـــرزمـــان ﷺلـــه چـــي ځـــو

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 29 ﴾

ځـــو چـــي راځـــــه د تـــاجـــدار ﷺ كـــلـــی تـــه
د مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ خيـــر الابـــرار ﷺ كـــلـــی تـــه
مشك او عـــنبـــر هـــلتـــــه پـــــه لارو كنبـــي دي
دا در پـــــه در هـــلتـــــه پـــــه لارو كنبـــي دي
ځـــو چـــي راځـــه ډيـــر خـــوشبـــودار كـــلـــی تـــه
د مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ خيـــر الابـــرار ﷺ كـــلـــی تـــه
هـــلتـــــــه دلـــــدار د دلـــــدارانـــــو تـــولـــو
هـــلتـــــه تـــاجـــدار د انســـــانـــــانـــو تـــولـــو
راځـــه چـــي ځـــو مـــونـــږ د ســـردار ﷺ كـــلـــی تـــه
د مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ خيـــر الابـــرار ﷺ كـــلـــی تـــه
هـــلتـــه هـــر كـــور كنبـــي نـــور رڼـــا پـــرتـــه ده
هـــلتـــه حيـــا هـــلتـــه وفـــا پـــرتـــه ده
راځـــــه چـــي ځـــو د وفـــــادار كـــلـــی تـــه
د مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ خيـــر الابـــرار ﷺ كـــلـــی تـــه
هـــلتـــه رحـــمـــت د دوجهـــان وسيـــږي
احـــمـــده ! نـــور د هـــر انســـان وسيـــږي
راځـــه چـــي ځـــو مـــونـــږ د غـــمـــخـــوار كـــلـــی تـــه
د مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ خيـــر الابـــرار ﷺ كـــلـــی تـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿30﴾

راځه چې ځو د مصطفیٰ ﷺ کلي ته
د محمد رسول الله ﷺ کلي ته
هلته دربار د مصطفیٰ ﷺ عربي
هلته ګلزار د مصطفیٰ ﷺ عربي
ځو چې راځه هغې رنا کلي ته
د محمد رسول الله ﷺ کلي ته
هلته هر در کښې یو خوشبو پرته ده
دغې سفر کښې یو خوشبو پرته ده
راځه چې ځو هغې بالا کلي ته
د محمد رسول الله ﷺ کلي ته
هم د دمې د خاص او عام مقام دے
هم د ادب او احترام مقام دے
راځه چې ځو ښکلي صفا کلي ته
د محمد رسول الله ﷺ کلي ته
غواړي احمد دغه سفر دلته کښې
ارمان لري په هر یو در دلته کښې
ایسار چې نشے، ځو اعلیٰ کلي ته
د محمد رسول الله ﷺ کلي ته

★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿31﴾

په مدینه کښې د نبیانو یو افسر دے
دیدن ئې غواړمه زۀ، خیر البشر ﷺ دے

لکه د نمر په شان ځلیږي
نور د جهان ئې دے ښوریږي
قمر ئې حُسن نه شرمیږي
داسې دنیا کښې لوئې مقام لری بهتر دے
دیدن ئې غواړمه زۀ، خیر البشر ﷺ دے

زمونږ د زړونو اطمینان دے
نور دې زمکے او آسمان دے
اخلاق ئې ټول دغه قرآن دے
شفیع زمونږ د ټولو هغه پیغمبر ﷺ دے
دیدن ئې غواړمه زۀ، خیر البشر ﷺ دے

یاد په یٰسین او په طٰهٰ دے
یاد په لقب خیر الوریٰ ﷺ دے
یاد محمد رسول الله ﷺ دے
زما د زړۀ اطمینان هر ځائے په هر در دے
دیدن ئې غواړمه زۀ، خیر البشر ﷺ دے

هغه صادق، هغه امین دے
هغه په ټولو کښې حسین دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم اوّلين او آخرين دے
د دلبرانو په دنيا باندې دلبر دے
ديدن ئې غواړمه زۀ ، خير البشر ﷺ دے

دا د احمد على وينا ده
دا د مولىٰ نه ئې دُعا ده
دغه په زړۀ ئې تمنا ده
د رهبرانو تولو دلته کښې رهبر دے
ديدن ئې غواړمه زۀ ، خير البشر ﷺ دے

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿32﴾

يادے راته ستا د در کوڅے شولے
لرے يم په ما ادا ورځے شپے شولے
کله به درځمه مدينے ته زۀ
کله به درځمه ستا روضے ته زۀ
ګرانے د ژوندون راته لمحے شولے
لرے يم په ما ادا ورځے شپے شولے
هر يوه لمحه راته اُوس ګرانه شوه
ياده مدينه مې عاليشانه شوه
يادے راته هغه تذکرے شولے
لرے يم په ما ادا ورځے شپے شولے
غواړمه او سوال مې د اللّٰه نه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوا ړمه او سوال مې د مولیٰ نه دے
کله چې رایادے دے جنګلے شولے
لرے یم په ما دا ورځے شپے شولے

نن صبا کوومه تیاریه مه
تا پسے احمد علی کړیږمه
ما ته دے رایادے باغیچے شولے
لرے یم په ما دا ورځے شپے شولے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿33﴾

بنکلے اورنا مې دغه شپه شوله
خیال کښې چې مې کله مدینه شوله

نن رابانديِ تیر ښکلی وختونه شو
یاد د هغې در مې چې ګلونه شو
یاده چې مې دغه ګلدسته شوله
بنکلے اورنا مې دغه شپه شوله

ریاض الجنت راته رایاد شولو
زړهٔ ورسره دلته مې آباد شولو
زړهٔ زما خوشحاله هر حصه شوله
بنکلے اورنا مې دغه شپه شوله

هلته محفلونه خوشبوداره دی
هلته کښې انوار په هره لاره دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلـــه چـي راياده ئـي کـوڅـــه شـولـــه
بشـــکـلـــے اوربـــا مـــي دغـــه شپـــه شـولـــه
زۀ احـــمـــد بـــــه دغـــــه تـــصـــوَر کــوُم
دغـــــه تـــصـــوَر بـــــه هـــر ســـحـــر کــوُم
جــوړه تـــريـــنـــه بشـــکـلـــے تـذکـره شـولـــه
بشـــکـلـــے اوربـــا مـــي دغـــه شپـــه شـولـــه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿34﴾

راڅـــه چـي څــود مـصـطـفـیٰ ﷺ کـلـی تـــه
د مـــحـــمـــد رســول الـلّـــه ﷺ کـلـــی تـــه
پـــه ټـولـو کـلـو کـښـي اعـلـیٰ کـلـے دے
د نـــمـــر پـــه شـــان حسيـــن رنـــا کـلـــے دے
څـــو چـــي راڅـــه هـغـــي رنـــا کـلـــی تـــه
د مـــحـــمـــد رســول الـلّـــه ﷺ کـلـــی تـــه
لاړے ئـــــي بشـــکـــلـــــے د جهـــــان د لارو
هــــر مســـلـــمـــــان ئــــي قـــدردان د لارو
څـــو چـــي راڅـــه د مـجـتـبـیٰ ﷺ کـلـی تـــه
د مـــحـــمـــد رســول الـلّـــه ﷺ کـلـــی تـــه
ذرَه ذرَه ئـــــي قيـــمـــتـــــی د جهـــــان
ذرَه ذرَه ئـــــي د دنيــــا عـــــاليشـــــان
راڅـــه چـي څــو مـونـږ د طـــه ﷺ کـلـی تـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محمد رسول الله ﷺ کلی ته
نن دا احمد علی ارمان دغه دے
تل دا احمد علی بیان دغه دے
څو چي را ځه د اولیاء کلی ته
د محمد رسول الله ﷺ کلی ته

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿35﴾

ناست وے د رسول الله ﷺ روضے سره
ژوند وے د اصحابوؓ باغیچے سره
دغه تمنا د دي جهان مي ده
دغه یو دعا د دي جهان مي ده
ژوند وے د روضے ښکلے جنګلے سره
ناست وے د رسول الله ﷺ روضے سره
خوښه په دنیا کښي مدینه مي ده
خوښه د دي در هره کوڅه مي ده
تن مي وے د دغي در مزے سره
ناست وے د رسول الله ﷺ روضے سره
ژوند چي تیریدلے مدینه کښي مي
ژوند چي تیریدلے دي کوڅه کښي مي
تل وے د رسول الله ﷺ کوڅے سره
ناست وے د رسول الله ﷺ روضے سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــــا بــــانـــدي بـــاران د رحـــمتــونـــو ورے

مـــــا بــــانـــدي بـــاران د بـــرکتـــونـــو ورے

ژونـــدورے داصـــحـــابــوؓ تـــذکـــرے ســـره

نـــاســـت ورے د رســـول الـلّـــه ﷺ روضـــے ســـره

مـــا درود ســـلام وئيـــلـــے هـــلتـــه کبنـــي

مـــا دغـــه کـــلام وئيـــلـــے هـــلتـــه کبنـــي

دغـــه بيـــان ورے مـــي حـــوصـــلـــے ســـره

نـــاســـت ورے د رســـول الـلّـــه ﷺ روضـــے ســـره

زۀ احـــمـــد خـــادم پـــه مـــديـــنـــه کبنـــي ورے

زۀ احـــمـــد خـــادم ئـــي پـــه کـــوڅـــه کبنـــي ورے

کـــوروے زمـــا دغـــي در حـــصـــے ســـره

نـــاســـت ورے د رســـول الـلّـــه ﷺ روضـــے ســـره

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿36﴾

زۀ د مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ ســـره پـــه خـــوا کبنـــي ورے

زۀ د مـــديـــنـــي بـــکـــلـــے فـــضـــا کبنـــي ورے

ژونـــد مـــي تيـــرولـــے اطـــمـيـــنـــان ســـره

ژونـــد مـــي تيـــرولـــے د قـــرآن ســـره

لاس مـــي هـــميشـــه ربّ تـــه دُعـــا کبنـــي ورے

زۀ د مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ ســـره پـــه خـــوا کبنـــي ورے

ژونـــد مـــي پـــه ســـنـــت ســـره بنـــائـــســـتـــۀ ورے تـــول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند مې شريعت سره ښائسته وے تېول
زۀ د مصطفىٰ ﷺ په نور رڼا کېږمې وے
زۀ د مصطفىٰ ﷺ سره په خوا کېږمې وے
کار مې د نيکانو ملګرتيا وے نن
کار مې د هر نيك سره وفا وے نن
ياد د صالحانو په دنيا کېږمې وے
زۀ د مصطفىٰ ﷺ سره په خوا کېږمې وے
کار وے د احمد علی رښتيا وئيل
کار وے د احمد علی صفا وئيل
زۀ مولىٰ ته هر وخت په ژړا کېږمې وے
زۀ د مصطفىٰ ﷺ سره په خوا کېږمې وے

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿37﴾

قسم دے ډير حسين ئې په نبيانو کښې بالائي
خاتم الانبياء ﷺ ئي ته، خاتم الانبياء ﷺ ئي
رڼا د هر مکان ئي ته، د هريو در ښکلائي
خاتم الانبياء ﷺ ئي ته، خاتم الانبياء ﷺ ئي
خائسته دي ستا نو مونه
عالى دي تول ګلونه
مونږ ستا تول مقتديان يُو، ته زمونږه مقتدا ئي
خاتم الانبياء ﷺ ئي ته، خاتم الانبياء ﷺ ئي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شفيع تــهٔ دَ محشـرئــي درنځور دزړهٔ دوائـي
خـاتـم الانبيـاء ﷺئـي تـهٔ ، خـاتـم الانبيـاء ﷺئـي
اصـــحــــابؓ دى ستـــــا تـــول ستـــوری
هـــر څـــوك چــي ورتــــه ګـــوری
دنيـا كښـي د هـر چا د پاره دلتـه كښـي خيرخوائـي
خـاتـم الانبيـاء ﷺئـي تـهٔ ، خـاتـم الانبيـاء ﷺئـي
سـاقــی ئـي د كـوثـر هـم تـهٔ امـام الاوليـاء ئـي
خـاتـم الانبيـاء ﷺئـي تـهٔ ، خـاتـم الانبيـاء ﷺئـي
بشيـــــرئـــي هـــم نـــذيـــرئـــي
داعـــــــی د ربّ خبيـــــــرئـــــي
مخلوق كښي په لقب سره حسين بدرالدجیٰ ﷺئي
خـاتـم الانبيـاء ﷺئـي تـهٔ ، خـاتـم الانبيـاء ﷺئـي
وَالّيل سره دي زلفي دی ، په مخ تهٔ وَالضُّحیٰ ئي
خـاتـم الانبيـاء ﷺئـي تـهٔ ، خـاتـم الانبيـاء ﷺئـي
مـونــږ ستـــا پـــه لارروان يُـو
ځـــوانـــان كــــهٔ بـــوډاګـــان يُـو
دنيـا كښـي د هـرچـا دپـاره دلتـه رهـنـمـائـي
خـاتـم الانبيـاء ﷺئـي تـهٔ ، خـاتـم الانبيـاء ﷺئـي
اول ئـي ، پـه اٰخـر كښـي تـهٔ راغلـے پـه دنيا ئـي
خـاتـم الانبيـاء ﷺئـي تـهٔ ، خـاتـم الانبيـاء ﷺئـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



احـــــمـــــد ستـــــامـــــدح خـــوان يـــم
ســـــــاكـــــن زهٔ د مـــــــردان يـــــم
صـفـاتـو كـښـي رسـولـه ! ﷺ تــهٔ د ټولو نـه جدا ئـي
خــاتـم الانبيـاء ﷺ ئي تـهٔ ، خـاتـم الانبيـاء ﷺ ئي
ولاړ د حـق د پـاره هرطرف تـه مـصطفیٰ ﷺ ئـي
خــاتـم الانبيـاء ﷺ ئي تـهٔ ، خـاتـم الانبيـاء ﷺ ئي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿38﴾

ډيـر مـي دے ارمـان چي مـديـنـي تـه زهٔ وے تـلـے
هــلـتـــه د روضـــي ســـره نـــزدې زهٔ وسيـــدلـــے
دغـــه پـــه دنيـــا كښـــي د مولـیٰ نـــه مـي دُعـا ده
دغـــه مــي مــولــیٰ تـــه پــه دنيـا كښـي الـتـجـا ده
دا ژونـــدون مـــي هــلـتـــه تيـرولـے غـلـے غـلـے
هــلـتـــه د روضـــي ســـره نـــزدې زهٔ وسيـــدلـــے
هــلـتـــه وظيــفـــه مـــي د درود ســره سـلام وے
هــلـتـــه دا رنـــا زمـــا ســـره سـحـر مـــاښـام وے
در تــه د نبـی ﷺ مـي هـر ساعـت هلتـه كـتـلـے
هــلـتـــه د روضـــي ســـره نـــزدې زهٔ وسيـــدلـــے
هلتـه كـښـي مـي نـاستـه د نيـكـانو سره تل وے
هـلـتـه كـښـي مـي ناستـه عـالـمانو سـره تـل وے
مـــاتـــري حـديـثـــونـــه د نبـــی ﷺ چـي اوريـدلـے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته د روضې سره نږدې زړه وسيدلے
هلته د قرآن سره نږدے په هر محل وے
هلته زړه احمد د صالحانو سره مَل وے
هلته حديثونه اونعتونه مې ليکلے
هلته د روضې سره نږدې زړه وسيدلے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 39 ﴾

ښائسته ښار د مصطفیٰ ﷺ دے، مدينه خو مدينه ده
دغه ښار رڼا رڼا دے ، مدينه خو مدينه ده
په صديقؓ،عمرؓ سره هم دا ممتاز دے او جدا دے
په عثمانؓ او په حيدرؓ، سره ښکلے اعلیٰ دے
د نفاق نه تول صفا دے، مدينه خو مدينه ده
ښائسته ښار د مصطفیٰ ﷺ دے، مدينه خو مدينه ده
هم مدفن د محمد ﷺ دے هم وطن د محمد ﷺ دے
ځائے مسکن د محمد ﷺ دے، يو چمن د محمد ﷺ دے
ځکه تولو کښې بالا دے، مدينه خو مدينه ده
ښائسته ښار د مصطفیٰ ﷺ دے، مدينه خو مدينه ده
ځائے مسکن د عاشقانو، د نبی ﷺ د در يارانو
ځائے مسکن د عالمانو، د نيکانو صالحانو
هر صفت سره جدا دے، مدينه خو مدينه ده
ښائسته ښار د مصطفیٰ ﷺ دے، مدينه خو مدينه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ذکر مزيدار دے، حق احمده ! ستا ګفتار دے
هريو زړۀ لره قرار دے، موسم دلته د بهار دے
ياد په هر قسمه ښُکلا دے، مدينه خو مدينه ده
ښائستهٔ ښار د مصطفیٰ ﷺ دے، مدينه خو مدينه ده

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿40﴾

د رحمت باران وريږي مدينې بانديې
رحمتونه راوريږي هر کوڅې بانديې
دغه ښکاري اولياء ته په نظر هلته کښې
دغه ښکاري اولياء ته په هر در هلته کښې
شته اثار د رحمتونو هر حصې بانديې
د رحمت باران وريږي مدينې بانديې
دا اثر او برکت د مصطفیٰ ﷺ هلته دے
دا دولت او لوئے عظمت د مصطفیٰ ﷺ هلته دے
د رحمت باران دے هلته په جنګلې بانديې
د رحمت باران وريږي مدينې بانديې
راوريږي انوارات په هر طرف هلته کښې
راوريږي برکات په هر طرف هلته کښې
رحمتونه دي په هريو قبيلې بانديې
د رحمت باران وريږي مدينې بانديې
کاتبان ئې خوشحاله دي دلته هر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساکنان ئې خوشحاله احمده ! هر وخت
رحمتونه دي په هر یو قافلې باندې
د رحمت باران ورېږي مدینې باندې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿41﴾

چا مدینه چې دلته کښې په دې دنیا ولیده
هغه د ټول جهان په یو ځائے کښې ښکلا ولیده
ډېر د قسمت دي خاوندان چې مدینه ووینې
ډېر د عظمت دي خاوندان چې مدینه ووینې
خوش نصیب خلقو په دنیا باندې بیا بیا ولیده
چا مدینه چې دلته کښې په دې دنیا ولیده
دا په قسمت باندې ده چا ته ئې دیدار چې ووشي
ډېر په قسمت ده چې دیدار ورته بار بار چې ووشي
چا نن په وېښه چا په خوب کښې ښهٔ اعلیٰ ولیده
چا مدینه چې دلته کښې په دې دنیا ولیده
ښکلے منظر د چمنونو د وطن د نبي ﷺ
ښکلے منظر بیا د ګلونو د چمن د نبي ﷺ
مینه کونکو په طلب سره هر خوا ولیده
چا مدینه چې دلته کښې په دې دنیا ولیده
ورته احمدعلي د تلو په انتظار کښې دے نن
لاس په دعا دلته خپل کلي کښې خپل ښار کښې دے نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه دې اُميـد دے ، زړۀ ئـې وائــی کـاش کـۀ تـا وليده
چــا مــدينــه چې دلتــه کښې پــه دې دنيــا وليـده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿42﴾

نـــور د تــــول جهـــــان ئـــې نبـــــی ﷺ
ډيـــر پـــــه اللــــه ګـــران ئـــې نبـــی ﷺ
غـــوره لــــه هــــر چـــا ئـــې رســولـــه ! ﷺ
تـــۀ خيـــرالـــورئ ﷺ ئـــې رســولـــه ! ﷺ
د مـــــولـــــیٰ راز دان ئـــــې نبـــــی ﷺ
ډيـــر پـــــه اللــــه ګـــران ئـــې نبـــی ﷺ
نـــور ســـره بشـــر ئـــې رســـولـــــه ! ﷺ
نـــور د هـــر نـــظـــر ئـــې رســولـــه ! ﷺ
زړۀ لــــه اطــــميــــنــــان ئـــې نبـــی ﷺ
ډيـــر پـــــه اللــــه ګـــران ئـــې نبـــی ﷺ
زلــــفـــــې د وَالَّيـــــل تـــــــۀ لــــــرے
مـــخ د وَالـــضُّـــحـــــیٰ بښـــــۀ لـــــرے
ذکـــــر پـــــه قـــــرآن ئـــــې نبـــــی ﷺ
ډيـــر پـــــه اللــــه ګـــران ئـــې نبـــی ﷺ
نـــوم لـــــــرے يـسيـــــن د جهــــــان
تـــــل کـــــوی احـــــمـــــد دا بيـــــان
دوســـــت د پـــــاك سبـــحـــان ئـــې نبـــی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیــــرپــــه الـــلّـــه ګـــران ئـــې نبـــی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿43﴾

ډیـــرعـــــالـــی مــقـــام دے نبــــی ﷺ
خـــوښ د خـــــاص او عـــــام دے نبــــی ﷺ
خـــوښ د عـــــلـــمــــاء دے هـــغــــه
خـــوښ د اولیـــــاء دے هـــغــــه
مــــقتـــــدا امـــــام دے نبــــی ﷺ
خـــوښ د خـــــاص او عـــــام دے نبــــی ﷺ
نـــور د پـــاس أســـمـــان دے هـــغــــه
نـــور د هـــر مـــکـــان دے هـــغــــه
نــمــر، مـــاهِ تـــمـــام دے نبــــی ﷺ
خـــوښ د خـــــاص او عـــــام دے نبــــی ﷺ
نـــور د شـــریـــعـــت دے هـــغــــه
نـــور د ســـعـــادت دے هـــغــــه
نـــور د هـــر مـــابنـــام دے نبــــی ﷺ
خـــوښ د خـــــاص او عـــــام دے نبــــی ﷺ
وایـــمـــه احـــمـــد د مـــردان
زار تـــریـــنـــه شـــم زار پـــه جهـــان
یـــاد شیـــریـــن کـــلام دے نبــــی ﷺ
خـــوښ د خـــــاص او عـــــام دے نبــــی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿44﴾

وواېـــه اشـنـــا راتـــه، زړهٔ کــړېـــږم چـا پسـې
زړهٔ کــړېــږم دلتـه کښـې ، پـه رسول الله ﷺ پسې

ډېـــــر ډېـــــر مــــي يـــــاديــــږي نـــن
کـــــلــــــه زړهٔ صبـــــريـــــږي نـــن
نـــــهٔ نــــور ايســـــاريــــږي نـــن
نـــور نـــــاوختــــــه کيــــږي نـــن

زړهٔ ورځـمـــه هـلتــه کښې ، هـغـه در ښـُـکـلا پسـې
زړهٔ کــړېــږم دلتـه کښـې ، پـه رسول الله ﷺ پسې

زارئــــــي د هــــرګـــــل نـــــــــه شــم
زارئــــــي د مـــحــــفــــل نـــــــــه شــم
زارئــــــي د عـــــمـــــل نـــــــــه شــم
زارئــــــي د مـــحــــل نـــــــــه شــم

زړهٔ کــړېـــږم دلتــه کښــي ، سيّدالـورىٰ ﷺ پسې
زړهٔ کــړېــږم دلتـه کښـې ، پـه رسول الله ﷺ پسې

هــــــرقـــــدم اعــــلــــــىٰ لــــــری
حُســــــن او ښُــــکـــــلا لـــــــری
ښــــــهٔ پــــوره وفـــــــا لـــــــری
ښــــــهٔ پــــوره حيـــــا لـــــــری

زړهٔ کــړېـــږم دلتــه کښــي ، هـغـه رهـنـمـا پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ کرېږم دلته کښې، په رسول اللّٰه ﷺ پسې
نور د مسلمان هغه
نور د پاس آسمان هغه
نور د هر مکان هغه
نور دے د مردان هغه
زۀ احمد کرېږمه ، هغه مجتبیٰ ﷺ پسې
زۀ کرېږم دلته کښې، په رسول اللّٰه ﷺ پسې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿45﴾

یادېږي د رسول اللّٰه ﷺ حسین چمن زما
ارمان لرم چې شي مې په دنیا مدفن زما
قسم دے چې عزت ئې د نبي ﷺ له مخه نن دے
قسم دے چې عظمت ئې د نبي ﷺ له مخه نن دے
قربان ئې د وجود نه شه دنیا کښې تن زما
ارمان لرم چې شي مې په دنیا مدفن زما
لرے تر ینه بدبو ده ، د نبي ﷺ له مخه نن
کوڅو کښې ئې خوشبو ده، د نبي ﷺ له مخه نن
کرېږي ورپسے څکه وجود بدن زما
ارمان لرم چې شي مې په دنیا مدفن زما
سبب د ځلیدو ئې بل څۀ نۀ دے په دنیا
د پاك نبي ﷺ نسبت سره حُسن لري شکلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولیٰ! کله به جوړشی هغه درمسکن زما
ارمان لرم چې شی مې په دنیا مدفن زما
یاران د محمد ﷺ په کښې وسیږی په دنیا
د ستورو په شان بوره تول ځلیږی په دنیا
دنیا کښې دلته خوش ئې دے هرخوا سُخن زما
ارمان لرم چې شی مې په دنیا مدفن زما
احمدعلی د تلو ورته ارمان لری مدام
په زړهٔ باندې دا درد دغه بیان لری مدام
یادیږی وطنونو کښې اعلا وطن زما
ارمان لرم چې شی مې په دنیا مدفن زما

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿46﴾

زما جانانه! ﷺ په خیر راغلے
اے قدردانه! ﷺ په خیر راغلے
سفر دے څنګه وو، پاس د آسمان
سفر دے څنګه وو، په هر مکان
اے عالیشانه! ﷺ په خیر راغلے
اے قدردانه! ﷺ په خیر راغلے
مکه شوه پاتے وروستو لتانه
زما محبوبه! ﷺ زما جانانه! ﷺ
عالی انسانه! ﷺ، په خیر راغلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے قدردانه! ﷺ په خیر راغلے
ستا انتظار وو پاس په آسمان کښې
ستا انتظار وو په لامکان کښې
راغلے دنیا ته، په خیر راغلے
اے قدردانه! ﷺ په خیر راغلے
ستا احترام کښې هر چا اله خیر دے
درود سلام کښې هر چا اله خیر دے
اے مهربانه! په خیر راغلے
اے قدردانه! ﷺ په خیر راغلے
نور او رڼا وه په هر آسمان کښې
شپه د معراج وه، په لامکان کښې
ګرانه، اے ګرانه! په خیر راغلے
اے قدردانه! ﷺ په خیر راغلے
زار ترینه زار شم په دي جهان
کوم احمد زۀ دغه اعلان
عالی بیانه! په خیر راغلے
اے قدردانه! ﷺ په خیر راغلے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿47﴾

مدینه کښې خلق ښکلی، راته هروختے یادیږی
د نبی ﷺ د ښکلی کلی راته هروختے یادیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولیاء هلته وسیږي ،دا هر چا ته ده معلومه
علماء هلته وسیږي ،دا هرچاته ده معلومه
په ادب تهول هلته غلي ، راته هروختے یادیږي
مدینه کښې خلق ښکلي ، راته هروختے یادیږي
کور هغه دے د نیکانو ، مونږه تول یُو تري خبر
کور دَ نُور د اماماتو ، مونږه تهول یُو تري خبر
ورته خلق څکه تلي ، راته هروختے یادیږي
مدینه کښې خلق ښکلي ، راته هروختے یادیږي
د صدیقؓ عمرؓ دے کور ، هر بشر په دي خبر دے
د عثمانؓ ، حیدرؓ دے کور ، هر بشر په دي خبر دے
لکه ستوري ځلیدلي ، راته هروختے یادیږي
مدینه کښې خلق ښکلي ، راته هروختے یادیږي
کور د آل د محمد ﷺ دے اے احمده ! په دنیا کښې
کور پخپله د احمد ﷺ دے ، لاثاني دے په رڼا کښې
د یادونو په کښې څلي ،راته وختے یادیږي
مدینه کښې خلق ښکلي ، راته هروختے یادیږي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿48﴾

ناست د مصطفیٰ ﷺ ښکلے چمن کښې وے
ملاست د پاك نبي ﷺ ښکلے وطن کښې وے
وخت مې تیریدلے هغه ښار کښې نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت مي تیریدلے هغه دار کښي نن
ژوند مي د سکون دغه مسکن کښي وے
ملاست د پاك نبي ﷺ ښکلے وطن کښي وے
هلته کښي په ژړه ، بیا درود مي وے
فضل بیا په سر ، د ربّ ودود مي وے
ناست د مصطفیٰ ﷺ ښکلے مدفن کښي وے
ملاست د پاك نبي ﷺ ښکلے وطن کښي وے
ذکر مي سلام وے د درود سره
مینه محبت وے د ودود سره
هر وختے په دي ښکلے سُخن کښي وے
ملاست د پاك نبي ﷺ ښکلے وطن کښي وے
زړۀ ته مي نصیب وے اطمینان هلته
کولے احمد دغه شان بیان هلته
هر شیطان نه هلته په امن کښي وے
ملاست د پاك نبي ﷺ ښکلے وطن کښي وے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 49 ﴾

تا رانه تپوس کوو د چا سره مي مینه ده ؟
ما درته وئیل د مصطفیٰ ﷺ سره مي مینه ده
نشته د بل چا سره په زړۀ کښي دلته مینه مي
دغه ګواهي ورکوي دلته دغه وینه مي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـه واضـحـه دلتـه د طـٰه ﷺ سره مي مينـه ده
تـا رانـه تپـوس کـوو د چـاسـره مـي مينـه ده ؟
مينـه دغـه مينـه د عـاشق پـه زړۀ کښـي تل بـه وي
مينـه د محبوب سره هـر ځـائـے پـه هر محل بـه وي
وايمـه پـه جـار ، خيـر الـورٰی ﷺ سره مي مينه ده
تـا رانـه تپـوس کـوو د چـاسـره مـي مينـه ده ؟
مينه کښي خـوندونه او مزے په هر مکان شته دے
مينـه کښي خـونـدونـه او مـزے د مسلمان شته دے
ځـکـه د امـام الانبيـاء ﷺ سـره مـي مينـه ده
تـا رانـه تپـوس کـوو د چـاسـره مـي مينـه ده ؟
دلتـه کښـي هريـو بشـر پـه دغـه مينـه پـائـی نـن
جـار سـره پـه جـار سـره احـمـدعـلـی دا وائـی نـن
هر سـاعـت پـه هـر مـقـام ، طـٰه ﷺ سره مي مينه ده
تـا رانـه تپـوس کـوو د چـاسـره مـي مينـه ده ؟

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿50﴾

عـاشـقـان دی راوتـلـی ، اوس بـه ځـی او روانيـږی
قـافـلـي د هـغـي کـلـی ، اوس بـه ځـی او روانيـږی
پـه طـلـب د مـديـنـي دی ، بهـر شـوی لـه خپل کوره
پـه طـلـب د مـديـنـي دی ، جدا شـوی د پـلار موره
پـه ادب سـره تـول غـلـی ، اوس بـه ځـی او روانيـږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عــاشـقــان دي راوتــلــى ، اوس بــه ځــى او روانيــږي

د سـنـت پـه نور رڼا كښې ، دوي ژوندون دلته تير كړے

شــر ئــي دلتــه د جهــان هرطـرف تـه دے هـيـر كړے

هم پټـكـى پـه سـروهـلي ، اوس به ځي او روانيـږي

عــاشـقــان دي راوتــلــى ، اوس بــه ځــى او روانيــږي

د بـدعـت نـه لـرے لـرے هر طـرف تـه پـه هـر لـور

ښـائسـتـه كړے دوي كښې هريو په سنت سره خپل كور

پـه سنـت سره دي ښـكـلي ، اوس به ځي او روانيـږي

عــاشـقــان دي راوتــلــى ، اوس بــه ځــى او روانيــږي

مخ صـورت ئي نـوراني ، ښـۀ ښـائسـتـه دي په لباس

پـه زړۀ درد لـرونـكـى خلـق ، اے احمده ! د احسـاس

چـا چـي دلتـه دي ليدلى ، اوس بـه ځـي اوروانيـږي

عــاشـقــان دي راوتــلــى ، اوس بــه ځــى او روانيــږي

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿51﴾

ښـائسـتـه پـه ټول جهان كښي ډير حسين مدني ﷺ دے

محـبـوب پــه ټـول جهـان د ربّ متين مدني ﷺ دے

امـــام د مـــرســـلانـــو ورتــــه وائـــى هـــر بشـــر

يــخ والــے پـــه دنيــا كښـــي د دنيــا د هـــر نــظـــر

بهتـــر د بهتـــريـــن نــــه ، بهتــــريـــن مـدنـــى ﷺ دے

محـبـوب پــه ټـول جهـان د ربّ متين مدني ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهبـر د مـخـلـوقـاتو پـه دنيـا بـاندې يـاديـږي
رښـا صـورت دنيـا کښـې لـکـه نمر بره ځليـږي
صـادق سـره يـاد شـوے پـه اميـن مـدنـي ﷺ دے
مـحبوب پـه ټول جهان د ربّ متين مدني ﷺ دے

پـه سر سيورے دنيـا کښې د رحمـت دے هرساعت
پـه سـر سيـورے دنيـا کښې د هر چا دے د راحت
طٰـهٰ سـره قـراٰن کښـې پـه يٰسين مـدنـي دے
مـحبوب پـه ټول جهان د ربّ متين مدني ﷺ دے

احـمـد عـلـي ئـې ذکـر پـه ادب کـړے تـمـام
دنيـا کښـې د درود سـره بـه وائـي تـل سـلام
سُخن سـره دنيـا کښـې ډير شيـرين مدني ﷺ دے
مـحبوب پـه ټول جهان د ربّ متين مدني ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿52﴾

ځـمـه مـدينـې تـه زۀ هـلـتـه مـې دلبـر ووسـي
هلتـه کښې محبوب د ربّ ، سيّد البشر ﷺ ووسي
هلتـه کښې محبوب د ربّ ، واوره تـۀ ، اٰرام کوي
هـلـتـه عـاشـقـان ورځـي ، ټول ورتـه سلام کوي
در د نـور او نـمـر هغـه ، ځـکـه هلتـه نمر ووسي
ځـمـه مـدينـې تـه زۀ هـلـتـه مـې دلبـر ووسـي
هلتـه کښې رهبـر زمـونږ ، ښکلے پـه سيرت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته کښې دلبر زمونږ ، ښکلے په صورت سره
هلته رڼاګانے دي ، ځکه چې قمر ووسی
ځمه مدینې ته زۀ هلته مې دلبر ووسی
هلته کښې وفا پرته ، هر یوه حصه کښې نن
هلته کښې حیا پرته ، هر یوه حصه کښې نن
روح د هر بشر هلته ښکلے پیغمبر ﷺ ووسی
ځمه مدینې ته زۀ هلته مې دلبر ووسی
ګران دے په احمدعلی ، هر چا ته معلومه ده
ګران دے په هر یو ولی ، هر چا ته معلومه ده
خوښه مدینه مې ده ، دلته مې افسر ووسی
ځمه مدینې ته زۀ هلته مې دلبر ووسی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿53﴾

لوئے مقام د پاك نبی ﷺ هر انسان منلے دے
مسلمان منلے دے ، مسلمان منلے دے
دلته د جهان نه تلے دے مولیٰ له
بره هر اسمان نه تلے دے مولیٰ له
زړۀ له هر ساعت ما اطمینان منلے دے
لوئے مقام د پاك نبی ﷺ هر انسان منلے دے
حق ئې شفاعت دے ، ورځ چې د محشر وی
دغه حقیقت دے ، ورځ چې د محشر وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هريو په دنيا كښې حق سلطان منلے دے
لوئے مقام د پاك نبي ﷺ هرانسان منلے دے
دلته كښې تعريف ئې كړے هر بشر دے
خپل دے كه پردے دے، عاليشان دلبر دے
مونږه په دنيا كښې مهربان منلے دے
لوئے مقام د پاك نبي ﷺ هرانسان منلے دے
وَالضُّحىٰ رخسار ئې شته دے په قرآن كښې
زلفے تورے شته وَالَّيل بيان كښې
هر تېكے ما دلته كښې د قرآن منلے دے
ښكلے له هرچانه، هغه محمد ﷺ دے
ډېر زيات عاليشانه، هغه محمد ﷺ دے
ګل د ګلستان دے ټول جهان منلے دے
لوئے مقام د پاك نبي ﷺ هرانسان منلے دے
غوره له هرچانه دا مې عقيده ده
واوره قدردانه! دا مې عقيده ده
ما احمد ئې دلته هر بيان منلے دے

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿54﴾

په سيرت سره اعلىٰ دے، عربي زما جانان ﷺ دے
هر صفت سره جدا دے، عربي زما جانان ﷺ دے
كار ئې دلته هر ساعت چې د مولىٰ د رضا كړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ له دلته ئې راکړې د وحدت دلته کښې پړے
ځليدونکے دے رڼا دے ،عربی زما جانان ﷺ دے
په سيرت سره اعلیٰ دے ،عربی زما جانان ﷺ دے

د توحيد سبق ئې مونږ ته ، هر ساعت دلته ښودلے
په خپل نور سره ئې دلته رڼا کړے هريو کلے
لاثانی چې په ښکلا دے ،عربی زما جانان ﷺ دے
په سيرت سره اعلیٰ دے ، عربی زما جانان ﷺ دے

په صادق سره ياد شوے هر طرف ته په هر لور دے
په امين سره ياد شوے د دنيا په هريو کور دے
مجسمه تپول حيا دے ، عربی زما جانان ﷺ دے
په سيرت سره اعلیٰ دے ، عربی زما جانان ﷺ دے

زۀ احمد ئې ثناخوان يم د دنيا په دې مقام
وايه دلته هر ساعت په هغۀ درود سلام
حق زمونږه مقتدا دے ، عربی زما جانان ﷺ دے
په سيرت سره اعلیٰ دے ،عربی زما جانان ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿55﴾

ماته ياران د مدينې ښکلے دلبر ﷺ يادوی
د زړۀ سکون راته هر ځائے کښې په هر در يادوی
په نور سنت کښې رڼا ګانے د نبی ﷺ وويمه
ټول شريعت کښې رڼاګانے د نبی ﷺ وويمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتــه هــروخــت د مـديـنــې هغــه قـمـر يــادوي
مــاتــه يــاران د مـديـنې ښـکـلـې دلبر ﷺ يـادوي
چــې ذکــر دلتــه د نبــي ﷺ وي د اصـحـابوؓ کـلـه
چــې ذکــر دلتــه د نبــي ﷺ وي د احبــابو کـلـه
مـــا تـــه دا ذکـــر مـحـمـد خيــر البشــر ﷺ يــادوي
مــاتــه يــاران د مـديـنې ښـکـلـې دلبر ﷺ يـادوي
نـاسـتـه صـديقؓ سـره عـمرؓ سره هغـه کلی کـښې
نـاسـتـه عثمـانؓ سره ، حيدرؓ سره هغـه کلی کـښې
مـاتـه د نـاسـتـې يـو حسيـن ښـکـلـې منظر يادوي
مــاتــه يــاران د مـديـنې ښـکـلـې دلبر ﷺ يـادوي
ښـکـلـې موسم د مديـنې د مـصـطفیٰ ﷺ د کلی
ښـکـلـې موسم او نـظـارې د مـصـطفیٰ ﷺ د کلی
مـاتــه مـاښـام سـره د هـغــه ځـائـې سحر يادوي
مــاتــه يــاران د مـديـنې ښـکـلـې دلبر ﷺ يـادوي
هغـه کـوڅـه احمده ! تـولـه نـورانــی هلتـه کـښې
ذرّه ذرّه احــمــده ! تـولـــه نـورانـــی هــلتـــه کـښــې
يــاران راتـــه د مـديـنـــې ښـکـلـې افسر يــادوي
مــاتــه يــاران د مـديـنې ښـکـلـې دلبر ﷺ يـادوي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿56﴾

اے دوستــه ! زر تيــار شـه ، راځـه چې مدينه تـه ځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالب د حقي لار شه، راځه چي مدينه ته ځو
طالب د دي ګلزار شه، راځه چي مدينه ته ځو
طالب د حقي لار شه، راځه چي مدينه ته ځو
ښائسته ښکلے وطن هغه
ښائسته ښکلے چمن هغه
د پاك نبی ﷺ مدفن هغه
عالی لری سُخن هغه
لګیا په دي ګفتار شه، راځه چي مدينه ته ځو
اے دوسته! زر تیار شه، راځه چي مدينه ته ځو
هلته کښي رحمتونه دی
هلته کښي برکتونه دی
هلته کښي نعمتونه دی
عالی ئي تول وختونه دی
طالب د نور انوار شه، راځه چي مدينه ته ځو
اے دوسته! زر تیار شه، راځه چي مدينه ته ځو
دا ځائے د عالمانو دے
دا ځائے د صالحانو دے
دا ځائے د امامانو دے
دا ځائے د عاشقانو دے
طالب د دغي دار شه، راځه چي مدينه ته ځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے دوستـــه ! زر تیــار شـــه ، راځـــه چې مدینه تــه ځو
احـــــمـــــدعـــلـــــى ګـــويـــــا دے نــــن
طـــــــالـــــــب د دې رنـــــــا دے نــــن
طـــــالـــــب د دې ښـُــکـــــلا دے نـــن
ګـــويـــــا پــــه حـــق ويـــنـــا دے نـــن
خبـر شـۀ ، خبــردار شــه ، راځـه چـې مـدينه تـه ځو
اے دوستـــه ! زر تیــار شـــه ، راځـــه چې مدینه تــه ځو

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿57﴾

(قرآن کريم ته د حضور ﷺ اخلاق وئيلے شي)

قـــرآن د مـــولـــیٰ دے حــق کـــلام زنـــده بـــاد
هـر ځـــائـے پـــه دې دنيـــا بـانـدې اسلام زنده باد
مـنـلـى ئـې دى مـونـــړه تـول پـه جـمع ايـاتـونـه
مـنـلـى ئـې دى مونـړه پـه دنيا باندې حکـمـونـه
دنيـــا کښـې د مـولـیٰ ښـکـلـے پيـغـام زنـده بـاد
قـــرآن د مـــولـــیٰ دے حــق کـــلام زنـــده بـــاد
ذکـــر پـــه کښـې راغـلـے د تـوحيـد دے بــار بـــار
قسـم دے خـــوشبـــوداره دے د زړونـــو دے قــــرار
د پـــاك الـلّـــه دے دلتـــه لـوئـے انـعـام زنـده بـاد
قـــرآن د مـــولـــیٰ دے حــق کـــلام زنـــده بـــاد
ښـودلـے ئـې د مينـې مـحبـت مـونـړ تـه سبق

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښودلے ئې هرخواته د عظمت مونږ ته سبق
دنیا کښې په هرځائے ئې لوئے مقام زنده باد
قرأن د مولیٰ دے حق کلام زنده باد

زنګ زړونو نه لرکیږي په دې هرځائے د جهان
په دې سره پاکیږي دغه زړونه د انسان
هرځائے زمونږ د پاره دے امام زنده باد
قرأن د مولیٰ دے حق کلام زنده باد

هر حرف باندې ثواب لري دنیا کښې هر ساعت
احمد علی بیان کړۀ خلقو ته ټول حقیقت
رهبر دے په دنیا د خاص او عام زنده باد
قرأن د مولیٰ دے حق کلام زنده باد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿58﴾

## (قرأن کریم ته د حضور ﷺ اخلاق وئیلے شی)

ښکلے په دنیا کښې دقرأن ښائستۀ ګفتار دے، ووایه دا تل
راشه تلاوت ئې هر سحر مابښام پکار دے، ووایه دا تل
څوك چې تلاوت کوی، نه لری څۀ غم
نور دے دعرب دلته، نور دے دعجم
راشه په دنیا کښې هم زړونو تل قرار دے ووایه دا تل
راشه تلاوت ئې هر سحر مابښام پکار دے، ووایه دا تل
دلته یو یو حرف باندې، لس لری نیکے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختموي دنيا كښي تل ، دلته كښي بدے

ډهال د جهنم نه د دنيا په هره لار دے ، ووايه دا تل

راشه تلاوت ئي هر سحر ماښام پكار دے ، ووايه دا تل

كار د صالحانو دے ، څوك چي تلاوت كوي

كار د امامانو دے څوك چي تلاوت كوي

خوند ئي په دنيا كښي له ګبينه مزيدار دے، ووايه دا تل

راشه تلاوت ئي هر سحر ماښام پكار دے ، ووايه دا تل

حل د مشكلاتو دے ، څوك چي تلاوت كوي

امن د بدعاتو دے ، څوك چي تلاوت كوي

خوښ په دي جهان د مصطفىٰ خير الابرار ﷺ دے ووايه دا تل

راشه تلاوت ئي هر سحر ماښام پكار دے ، ووايه دا تل

دي كښي خوشحالي شته دے دلته د دنيا د در

دي كښي خوشحالي شته دے هر ځائے كښي د هر بشر

تالره ! احمده ! ښۀ ملګرے په هر دار دے ووايه دا تل

راشه تلاوت ئي هر سحر ماښام پكار دے ، ووايه دا تل

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 59 ﴾

خوند د مديني ښكلے سفر كښي دے

خوند ئي د ديدار په هريو در كښي دے

ښكلے په دنيا كښي ښائسته ښار دے

ښكلے هر ګلزار نه ئي ګلزار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوند د دغي در پـه هـر سحـر کـېبـي دے
خوند د مدينـي ښـکلـے سـفـر کـېبـي دے
ځکـه ئـي خـوشـحـالـه سـاکـنـان دي
دوی پـه لـوئـے رحـمـت کـېبـي دجهـان دي
خوند د دغي در پـه پـه هـر منظـر کـېبـي دے
خوند د مدينـي ښـکلـے سـفـر کـېبـي دے
نـور پـه هـر طـرف هـلتـه وريـږي
هـلتـه لاعـلاج خـلـق ښـه کيـږي
خوند د محـمـد ﷺ پـه هـر نظـر کـېبـي دے
خوند د مدينـي ښـکلـے سـفـر کـېبـي دے
زهٔ احـمـد پـه جـاربـه دا بيـان کـووم
هـر ځـائـے بـه ئـي ذکـر د لـوئـے شـان کـووم
خوند د مـصـطـفـیٰ ﷺ پـه هر خبر کـېبـي دے
خوند د مدينـي ښـکلـے سـفـر کـېبـي دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿60﴾

اے پـه مـخـلـوقـاتـو کـېبـي سيّد الابـراره ﷺ
زار دے د نـامـي نـه شم اے نبـي سـرداره ﷺ
غـوره هـر چـانـه ئـي اے محـمـد مصطفیٰ ﷺ
ډيـر زيـات مهـربـانـه ئـي اے محـمـد مصطفیٰ ﷺ
غـوره د هـر لارے نـه ستـا ده ښـکلـے لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زار دے د نامې نه شم اے نبي سرداره ﷺ
نور د شریعت دلته هر چا نه اوچت لرے
مینه محبت دلته هر ځائے هر ساعت لرے
اے د زړۀ سکون زما، اے د زړۀ قراره
زار دے د نامې نه شم اے نبي سرداره ﷺ
اوّلین په تولو کښې دلته کښې یادیږے تۀ
نمریا د قمر پشان دلته کښې ځلیږے تۀ
زار دے هر ادا نه شم، زار دے شم د ښاره
زار دے د نامې نه شم اے نبي سرداره ﷺ
زۀ دے مدح خوان یمه دلته کښې احمدعلی
ستا په لار روان یمه دلته کښې احمدعلی
مقتدا زمونږ نبي ﷺ، اے عالي ګفتاره
زار دے د نامې نه شم اے نبي سرداره ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿61﴾

تۀ ئې په نبیانو کښې نبي آخرزمان ﷺ
تۀ ئې امامانو له امام د هر مکان
څکه دے مدّاح دے د مولیٰ ښکلے قرآن
څکه دے مدّاح دے د دنیا هر یو انسان
غوره په دنیا کښې ئې د تولو مخلوقاتو نه
لوئے سبق اغستے مونږ ستا د معجزاتو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـمـرئـي يـا قـمـرئـي پـه ښکـلا کښې د أسمان
تـــهٔ ئـــي پـــه نبيـــانو کښــي نبـــی آخـــرزمـان ﷺ
لـوئـے مـقام دنيا کښې د أسمان په شان اوچت لرے
خـورم قسـم پـه زړهٔ کښې ډير زيات مينه محبت لرے
څـــکـــه پـــه لـــقـــب سـره يـادېـږے مهـربـان
تـــهٔ ئـــي پـــه نبيـــانو کښــي نبـــی آخـــرزمـان ﷺ
څـومره چې اصحابؓ دلته دی، ټول ښائسته ګلونه دی
ستـوری د أسـمـــان دی، مـلغرے دی لعلونـه دی
هـــريـو مـــي شـــامـل دے د دنيـــا پـــه دي ايمـــان
تـــهٔ ئـــي پـــه نبيـــانو کښــي نبـــی آخـــرزمـان ﷺ
زهٔ احـمـد پـه جـار سـره بـه سـتـا مـدح وصفت کوم
ذکـر بـه رسـولـه! ﷺ ستـا د نـور د او د رحـمـت کـوم
ستـــا پـــه نـــور رڼـــا سـره انســـان شـولـو انســـان
تـــهٔ ئـــي پـــه نبيـــانو کښــي نبـــی آخـــرزمـان ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿62﴾

مـــديـــنـــه ښـــار مـــي د جـــانـــان ﷺ کـلـے دے
لـــکـــه يـــو ګـــل د ګـــلستـــان کـلـے دے
ښـکـلـے ډيـر ښـکـلـے دے، اعلـیٰ کلـے دے
ښـکـلـے ښـکـلـے د مـصطـفـیٰ ﷺ کلـے دے
ښـائستـه بـه ولـے نـه وی، دا کـور د پـاک نبی ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښائسته به ولے نه وي ، دا کورد هرولی دے
لکه يو ستورے دآسمان کلے دے
مدينه ښار مي د جانان ﷺ کلے دے
رڼا به وُلے نه وي ، دا ځائے د پاك نبی ﷺ دے
صفا به وُلے نۀ وي ، دا ځائے د پاك نبی ﷺ دے
غوره ښائسته پـه هر بيان کلے دے
مدينه ښار مي د جانان ﷺ کلے دے
اصحابؓ دلته وسيږي ، ياران د محمد ﷺ
احباب دلته وسيږي، هر آن د محمد ﷺ
له ميني ډك د مهربان کلے دے
مدينه ښار مي د جانان ﷺ کلے دے
احمده ! هرطرف ته ، تريـنه خوشبو خوريږي
رحمت برکت هلته کښي ، پـه هريو کور وريږي
دوست د مولیٰ غني سبحان کلے دے
مدينه ښار مي د جانان ﷺ کلے دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿63﴾

نور نۀ ايساريږم ، مديني طرف ته ځم
زۀ ځم ، ځم ، ځم ، د نور چيني طرف ته ځم
زار د مديني نه ، هغه ښار مي د جانان ﷺ دے
زار هغي دربار نه چي دربار مي د جانان ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



زار هغې ګلزار نـه چې ګلزار مې د جانان ﷺ دے
ځـم ، ځـم ، ځـم دې بـاغيـچـې طـرف تـه ځـم
نـور نـۀ ايسـاريـږم ، مـديـنـې طـرف تـه ځـم
هـلتـه پـه هـركـور د رحـمتـونـو يـو بـاران دے
هـلتـه پـه هـرلـور د رحـمتـونـو يـو بـاران ددے
هـلتـه کښـې شـۀ شـور د رحـمتـونـو يـو بـاران دے
نـور نـۀ ايسـاريـږمـه روضـې طـرف تـه ځـم
نـور نـۀ ايسـاريـږم ، مـديـنـې طـرف تـه ځـم
هلتـه کښـې صـديقؓ عمرؓ دے ، هلته کښې عثمانؓ دے
هلته کښې علي حيدرؓ دے ، هلته کښې سلمانؓ دے
هلتـه کښـې مدّاح دنبي ﷺ حضرت حسان دے
زۀ د دغـې خـلـقـو در کـوڅـې طـرف تـه ځـم
هـلتـه نـازل شـوے د مـولـىٰ ښـکـلے قرآن دے
دغـه دے دليـل زمـونـږه ، دغـه حق بـرهـان دے
مـا احـمـد ئـې ذکـر نـن ليـکـلے پـه مردان دے
زۀ د انـوارانـو دې حـصـې طـرف تـه ځـم
نـور نـۀ ايسـاريـږم ، مـديـنـې طـرف تـه ځـم

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 64 ﴾

د مينې مـحبـت هـغـه سردار ﷺ دے مدينه کښې
صـادقـه د جهـان عـالـي ګـفتـار دے مدينه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامن محبت سبق ئې مونږ ته دے ښودلے
دانا په هر صفت، هغه هوښیار دے مدینه کښې
ادا ئې کړلو حق د پاك اللّٰه امانت
عظیم صفت انسان امانت دار دے مدینه کښې
سیرت سره کامل هغه صورت سره کامل دے
سرتاج د حسینانو حُسندار دے مدینه کښې
شاهد په ښۀ اخلاقوئې اغیار هم د جهان دی
ښائسته ورسره دا رنګ هر دربار دے مدینه کښې
احمد ئې په نسبت باندې خوشحاله هر ساعت دے
ملګرے د مظلوم، هغه غمخوار دے مدینه کښې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿65﴾

دلبر د دلبرانو دے دلدار ﷺ مدینه کښې
وُسیږی مې دلبر خیرالابرار ﷺ مدینه کښې
خوشبو ورسره هر ځائے هر طرف ته جوړه شوے
له دې وجے هر ځائے دے خوشبودار مدینه کښې
په مینه محبت باندې ممتاز په ټول جهان دے
سکون په هر مقام دے په هر لار مدینه کښې
علاج کۀ د زړۀ غواړے مدینه منوره شته
موجود دے هر بشر لره غمخوار ﷺ مدینه کښې
په لاره ئې روان د زمانے ټول امامان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهبــر د رهبــرانــو دے ســردار ﷺ مديـنــه کښـې
طــالــب ئــې د وطـن او د ديدن پــه دې جهـان دے
احـمـدعـلـی تـل غـوارې ئـې ديدار ﷺ مـدينـه کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿66﴾

ځـمـه شـنـې روضـې تـه ځـم ، دلـته مې ژوند ګران دے
ځــمــه خپــل دلبـر لـره ، هـلـتــه مې جانان ﷺ دے
نــور نـــه ايســـاريـــږمـــه ، ډيــر راتـــه يــاديـــږی
کــلـــه بـــه ســـفــــر زمـــا دلتـــه شـوروکيــږی
ځـــمـــه خپـل افسـرلـره ، نــور د ټـول جهــان دے
ځـمـه شـنـې روضـې تـه ځـم ، دلـته مې ژوند ګران دے
يــو يــوه لــمـحــه پـه ما سـختــه ده ، ښـه ګـرانــه ده
مينـه مې رسـول ﷺ سره زړهٔ کښـې لـه پخوا نـه ده
ځـــمـــه هـــغـــه درلـــره ، در چـې د قـــرآن دے
ځـمـه شـنـې روضـې تـه ځـم ، دلـته مې ژوند ګران دے
ځـنـګــه بـه وی ښـار ښـکـلـے ، ښـار د مدينې رټـه !
ځـنـګــه بـه وی يار ښـکـلـے ، يار د مدينې رټـه !
يـــار هـغـــه ليـدل غـوارم، دغـــه مـې ارمـان دے
ځـمـه شـنـې روضـې تـه ځـم ، دلـته مې ژوند ګران دے
خــوا کـښـې اُوسـيـدل غــوارم سيّدالـوریٰ ﷺ ســره
خـوا کښـې اُوسيـدل غـوارم زهٔ د مـصـطفیٰ ﷺ سـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال د پاك اللّٰه نه مې دا په هر مكان دے
څمه شنې روضې ته څم ، دلته مې ژوند ګران دے

نه به لرم غم په سر ، زهٔ چې مدينه كښې يم
نه به لرم غم په سر ، زهٔ چې په روضه كښې يم
هلته كښې مولىٰ زمونږ ايښے اطمينان دے
څمه شنې روضې ته څم ، دلته مې ژوند ګران دے

سوال دے د احمدعلى ، دغه ئې دعا ده نن
سوال دے د احمدعلى ، يو ئې التجا ده نن
ډير را ته ياد شوے نن هغه مهربان دے
څمه شنې روضې ته څم ، دلته مې ژوند ګران دے

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿67﴾

رهنما زما او ستا
محمد رسول اللّٰه ﷺ
مقتدا دے د هر چا
محمد رسول اللّٰه ﷺ

مقتدا د مقتدى
مقتدا د هر ولى
هر صفت سره جدا
محمد رسول اللّٰه ﷺ

د هر سر د پاسه سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد خیر البشر ﷺ

ده وینا حقه رښتیا

محمد رسول الله ﷺ

بشارت سره بشیر

په صفت سره نذیر

ټول وجود وفا

محمد رسول الله ﷺ

نور او نمر خیر الابرار ﷺ

پاس قمر خیر الابرار ﷺ

په سیرت صفا صفا

محمد رسول الله ﷺ

داغ نه پاك هغه بنده

په افلاك هغه بنده

پاك له قسمه خطا

محمد رسول الله ﷺ

دامین په لقب یاد

اُستاذانو له اُستاد

رهنما دے دعقبی

محمد رسول الله ﷺ

زۀ احمد ئي ثناخوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ پـــــــــــــه لاره ئــــــــــــي روان

لارلـــــــــــــرى رڼـــــــــــــا رڼـــــــــــا

مـــــحـــــــمــــــد رســــول الــــــلّـــــــه ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿68﴾

كـلـه بـه ووينـم ارمان مي دےروضـه د نبی ﷺ

خيـال، تـصوّر كښي مي وسيـږى مدينه د نبی ﷺ

دا پـه دنيـا بـاندې دنيـا كښـي يو ارمـان لـرمـه

دغــه ارمـان پــه دې دنيـا پـه هـر مـكـان لـرمـه

كـلـه بـه ووينـم دنيا كښي باغيـچـه د نبی ﷺ

كـلـه بـه ووينـم ارمان مي دےروضـه د نبی ﷺ

دغــه دنيـــا كښــي هـر طـرف تــه آرزو لـرمــه

ارمـــان د پـــاك نبــي ﷺ د در زۀ د خـوشبـو لـرمـه

يـاديـږى مـاتـه د روضي ښـكلے جنګله د نبی ﷺ

كـلـه بـه ووينـم ارمان مي دےروضـه د نبی ﷺ

مـولیٰ نـصيـب مـي اُوسيدل په مدينه كښي تۀ كړے

مـولیٰ نـصيب مي اُوسيدل دغه حصه كښي تۀ كړے

يــاديـــږى مــاتـه ډيره ډيره كـور كـوڅـه د نبی ﷺ

كـلـه بـه ووينـم ارمان مي دےروضـه د نبی ﷺ

عـجـم كښـي تـنـګ يـمـه د دلـتـه نـه ورتـلل غـواړمه

وائـــي احـمـد دغـــه دربـــار بـــار ليـدل غـواړمــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتــه يــاديــږي د اصــحــابو ؓ گــلـدسـتــه دنبی ﷺ

كــلــه بــه ووينـم ارمان مي د ے روضـه د نبی ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 69 ﴾

مســـافـــره ! پـــه دلبـــر ﷺ مـــي ســلام وايـــه

د نبيـــانـــو پـــه افســـر ﷺ مـــي ســلام وايـــه

كـــلـــه لاړ شــــے چـــي حـــرم تـــه د نبـــی ﷺ

مـــخـــامـــخ شـــے پـــاك قـدم تـــه د نبـــی ﷺ

پـــه مـــحبـــوب د ربّ اكبـــر مـــي ســلام وايـــه

مســـافـــره ! پـــه دلبـــر ﷺ مـــي ســلام وايـــه

درنـــه هيـــر نشـــی ادب او احتـــرام

دا لازم دي پـــه خـــوَاص او پـــه عـــوام

پـــه حسيـــن صـــورت قـــمـــر مـــي ســلام وايـــه

مســـافـــره ! پـــه دلبـــر ﷺ مـــي ســلام وايـــه

درنـــه هيـــر نشـــی ســـلام ســـره درود

دا ده نـــخـــه پـــه دنيـــا د هـــر مســـعـــود

پـــه دلبـــر د هـــر بشـــر مـــي ســلام وايـــه

مســـافـــره ! پـــه دلبـــر ﷺ مـــي ســلام وايـــه

وايـــه ډيـــر ډيـــر ســـلامـــونـــه پـــه ادب

د احـــمـــد عـــلـــی پـــه زړهٔ د ے دا طـــلـــب

پـــه امـــام د هـــريـــو در مـــي ســلام وايـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مســـافــره ! پـــه دلبــر ﷺ مــي سلام وايــه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿70﴾

مــا تــــه يــاران د مـديـنـي هـغــــه دوران يــادوي
د مـديـنــي ښـكـلــي ګلونــه، ســاكـنـان يـادوي
دلتــــه پـــه خــوب ســاكـنـان د مـديـنـي وويـنـمـه
دلتـه پـه خـوب كـښـي دا منظر دورځــې شپــې وويـنـمه
مـاتـه صديقؓ عـمـرؓ عـلـيؓ حضـرت عثمانؓ يـادوي
د مـديـنــي ښـكـلــي ګلونــه، ســاكـنـان يـادوي
مـا چـي ئـي ذكـر دلتــه كـړے پـه اشعـارو كـښـي دے
اثـر ئـي پـروت د مـديـنـي پـه ټـولـو لارو كـښـي دے
مـاتـــه مـدّاح د مـحـمـد ﷺ حـضـرت حسّـان يـادوي
د مـديـنــي ښـكـلــي ګلونــه، ســاكـنـان يـادوي
هـغـــه ګـلـونـه دنبـي ﷺ د دردنيـا كـښـي چـي وو
ښـكـلـي لعلونه د نبي ﷺ د دردنيا كـښـي چـي وو
مــاتـــه حســنؓ، حسيــنؓ ګـلـونــه د جهـان يـادوي
د مـديـنــي ښـكـلــي ګلونــه، ســاكـنـان يـادوي
پــه حسيـنـانـو كـښـي حَسيـن هـر صحابيؓ راتـه نن
رښـــا احــمــده ! بــره ستـوري يـــادوي راتــــه نـن
مــاتــه حسيـن صـورت دلبـر ښـكـلـے سلمانؓ يـادوي
د مـديـنــي ښـكـلــي ګلونــه، ســاكـنـان يـادوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿71﴾

ما ته یاران د مدیني ښکلي سردار ﷺ یادوي
ذکر په مینه ئې کوي راته بار بار یادوي
ذکر ئې دلته په ښائسته ښکلي نومونو کوي
ذکر ئې دلته د عظمت د رحمتونو کوي
خاوند د میني محبت خیر الابرار ﷺ یادوي
ما ته یاران د مدیني ښکلي سردار ﷺ یادوي
لري تاج دلته کښي په سر د امامت عربی ﷺ
د هر بشر نه په دنیا دے ډیر اوچت عربی ﷺ
د دلبرانو ئې دلبر په هر یو دار یادوي
ما ته یاران د مدیني ښکلي سردار ﷺ یادوي
قران کښي ذکر ئې راغلے په یٰسین سره دے
یاد په دنیا کښي په صادقه او امین سره دے
حسین صورت دے ځکه دوی ئې حُسندار ﷺ یادوي
ما ته یاران د مدیني ښکلي سردار ﷺ یادوي
کله ئې ذکر د رخسار کله د مخ کوي دوی
ذکر ئې پټ کله په جار کله ! د مخ کوي دوی
راته دوی دلته کښي هر یار د تاجدار ﷺ یادوي
ما ته یاران د مدیني ښکلي سردار ﷺ یادوي
هغه قیامت کښي به شفیع دګناه ګار خلقو وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يار مددګار به دا ساعت هم د ديندار خلقو وي
راته ياران د مديني هغه تاجدار ﷺ يادوي
ذکر احمدعلی ئي دلته کښي په جار کړے دے
مينے ئي دلته کښي احمدعلی نه زړۀ وړے دے
کله ئي پټ راته ياران کله په جار يادوي
ما ته ياران د مديني ښکلے سردار ﷺ يادوي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿72﴾

حسين ښکلے صورت لري سردار ﷺ د مديني
د زړونو په دنيا کښي دے قرار د مديني
احمد په محمد سره ياديږي په جهان
محمود سره ياديږي د دنيا په هر مکان
حامد صفت لرونکے تاجدار ﷺ د مديني
حسين ښکلے صورت لري سردار ﷺ د مديني
سکون د ټولو خلقو د عرب دے په جهان
عالي غوره افضل په ټول نسب دے په جهان
د غم په وخت ملګرے دے غمخوار ﷺ د مديني
حسين ښکلے صورت لري سردار ﷺ د مديني
مؤمن ئي تذکره ښۀ په ادب سره کوي
غوره ئي هر اُمت نه په دنيا دے اُمتي
نسبت ورسره دے د حسندار ﷺ د مديني

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسین ښکلے صورت لری سردار ﷺ د مدینې
احمد علی ئې دلته کښې په ذکر نهٔ مړیږي
هر زرهٔ د دې جهان ورپسے دلته کښې کړیږي
خوند ناك او مزیدار دے هر ګفتار د مدینې
حسین ښکلے صورت لری سردار ﷺ د مدینې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿73﴾

دنیا د شرك نه ښه صفا کړه محمد عربی ﷺ
کلمه چې حق کلمه ادا کړه محمد عربی ﷺ
احساس پیدا شو هر بشر سره دنیا کښې دلته
لرے د هریو دربَلا کړه محمد عربی ﷺ
په نور سنت سره دیوال د هر بدعت پریوتو
د حق چې دلته کښې صدا کړه محمد عربی ﷺ
لاړو دنیا نه ضلالت په منده منده باندې
ورته چې دلته نور رڼا کړه محمد عربی ﷺ
اعلیٰ اخلاق سره کامل څکه نبی ﷺ یادیږی
معاف په مکه کښې هر خطا کړه محمد عربی ﷺ
هریو بشر ته مخامخ شو حق، باطل په ګوته
چې د قرآن ښوره وینا کړه محمد عربی ﷺ
ربَه! احمد ئې ثناخوان دے ټول جهان پیژنی
ربَه! راضی شے هم رضا کړه محمد عربی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿74﴾

مکه کښې خوشحالے وے پیغمبر ﷺ راغلے دے
احمد دے محمد خیر البشر ﷺ راغلے دے

آسمان کښې خوشحالے وے د نبي ﷺ په ولادت
راغلے دے دنیا ته مُرسلانو کښې اوچت
دلبر د دلبرانو خوږ افسر ﷺ راغلے دے
احمد دے محمد خیر البشر ﷺ راغلے دے

رڼا تولہ فضاوه د مکے مکرمے
ښائسته ئ تولہ هواوه د مکے مکرمے
حق زیرے مي دریاندي نُور سحر راغلے دے
احمد دے محمد خیر البشر ﷺ راغلے دے

محبوب د پاك الله، هغه محبوب د ملائك
مطلوب د پاك الله، هغه مطلوب د ملائك
تورتم کښې هر طرف ته رڼا نمر راغلے دے
احمد دے محمد خیر البشر ﷺ راغلے دے

احمده! خوشحالے وے پټ په پټ په عالَم
عرب کښې خوشحالے وے خوشحالے وے په عجم
رهبر د تولو خلقو پاس قمر راغلے دے
احمد دے محمد خیر البشر ﷺ راغلے دے

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿75﴾

اے عـاليشان حبيبه ! ﷺ، نور د جهان حبيبـه ! ﷺ
کلـه ستـا نور تـه رسـی، نمر د آسمان حبيبـه ! ﷺ
ستـا انـوارات خـوارۀ دی، پـه هـر مکان حبيبه ! ﷺ
اے عـاليشان حبيبه ! ﷺ، نور د جهان حبيبـه ! ﷺ

ستـا رڼا ګانـے غوارم، په هر مکان باندې دلته کښې
ستـا سـره قُـرب غـوارمـه، پـه هـر يو آن دلتـه کښې
غـوارمـه ستـا ديدن زۀ، د پاك سبحان حبيبـه ! ﷺ
اے عـاليشان حبيبه ! ﷺ، نور د جهان حبيبـه ! ﷺ

رڼـا ستـا نـور سـره دے دغـه عـجم دلتـه کښـې
رڼـا عـرب تـا سـره، هـر يـو عـالَم دلتـه کښـې
غـوره لټـانـه نشتـه، لـرم ايمـان حبيبـه ! ﷺ
اے عـاليشان حبيبه ! ﷺ، نور د جهان حبيبـه ! ﷺ

طـالبـان ستـا د رڼـا، دلتـه شـاهـان ووسيـږی
طـالبـان ستـا د رڼـا تـول وزيـران ووسيـږی
شـاهـان لـه دې وجـے دی ستـا خادمان حبيبـه ! ﷺ
اے عـاليشان حبيبه ! ﷺ، نور د جهان حبيبـه ! ﷺ

دغـه ويـنـا د احـمـد پـه هـر طـرف تـلـے ده
ويـنـا رښتيـا د احـمـد پـه هـر طـرف تـلـے ده
د هـريـو نـور نـه عـالـی ستا دے قرآن حبيبـه ! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے عـالیشان حبیبه ! ﷺ ، نور د جهان حبیبه ! ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿76﴾

حسیـــن خیـــر البشـــره ﷺ ! زمــا د زړګـــی ســـره
په مخلوقات کښې غوره ، محبوب د ربّ اکبره ! ﷺ
دنیـا اسـمـان دلتـه کښـې ، پیـدا دي سـتـا لـه مخـه
ټول انسـانـان دلتـه کښـې ، پیـدا دي سـتـا لـه مخـه
د هــر امــام دلتــه کښـې پــه دې جهـان رهبـره ﷺ
حسیـــن خیـــر البشـــره ﷺ ! زمــا د زړګـــی ســـره
حسیـن صـورت لـرے تـهٔ ، حسیـن سیـرت لـرے تـهٔ
یـو ګـلـدسـتـه د جهـان ، هـریـو صـفـت لـرے تـهٔ
د هـــر دلبـــر دلبـره ! ﷺ اے د دنیـــا ســحـــره ! ﷺ
حسیـــن خیـــر البشـــره ﷺ ! زمــا د زړګـــی ســـره
هـریـو فـدا لـتـا نـه ، د هـر سـلطـان سـلطـانـه ! ﷺ
نبـی اخـرزمـانـه ! ﷺ پـه اللـه ګـرانـه ګـرانـه ! ﷺ
کـلـکـــه پـخــه دے دلتــــه ، د هـــریـــو در خبـره
حسیـــن خیـــر البشـــره ﷺ ! زمــا د زړګـــی ســـره
مـــئیـــن پـــه تـــا یـــمـــه زهٔ ، فـــدا لــتـــا یـــمـــه زهٔ
ثـنـاخـوان دلتـه کښـې زهٔ ، سـتـا پـه هـرخوا یمـه زهٔ
وایـم احـمـد ، رسـوله ! ﷺ حسین صورت قمره ! ﷺ
حسیـــن خیـــر البشـــره ﷺ ! زمــا د زړګـــی ســـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿77﴾

بـښـکـلـے حـنـسـداره نبی ﷺ اے زمـا جـانـانـه!
زار شـمـه لـتـانـه نبـی ﷺ زار شـمـه لـتـانـه
اے پـه اللـه ګرانـه نبی ﷺ اے پـه اللـه ګرانه! ﷺ
زار شـمـه لـتـانـه نبـی ﷺ زار شـمـه لـتـانـه

ستـا پـه حُسن رنګ یـمـه ، دین سره پـه ځنګ یمه
شـرك سـره پـه جنګ یـمـه ،لـرے تـانـه تنګ یمه
تـاپسـے کـرپـږمـه ، مـحبـوبـه مهربـانـه! ﷺ
اے پـه اللـه ګرانـه نبی ﷺ اے پـه اللـه ګرانه! ﷺ

ستـا ښـکـلی سـنت سره ، تیـختـه هر بدعت اُوکړه
نـور سره ستـا دیـن سره ، تیـختـه هر ظـلمت اوکړه
غـوره مـخـلـوقـاتـو کښي ، تـه ئي عـالیشـانـه ﷺ
اے پـه اللـه ګرانـه نبی ﷺ اے پـه اللـه ګرانه! ﷺ

تیـخـتـه ظـلـم اوکړلـه ، ستـا چي شریـعـت راغـے
لاړلـو نـفـرت لاړو ، میـنـه مـحبـت راغـے
خـاتـم الـرُّسـل نبـی ﷺ ، پاك نبـی سـلطـانـه! ﷺ
اے پـه اللـه ګرانـه نبی ﷺ اے پـه اللـه ګرانه! ﷺ

تـا بـه یـادومـه تـل ، دلتـه پـه مـردان نبـی ﷺ
دلتـه کښي احـمـدعـلـی ، ستـا دے ثناخوان نبی ﷺ
نـعـت لیـکـی پـه میـنـه تـل ، دلتـه کښـي پخوانـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اے پـه اللّٰـه ګرانـه نبي ﷺ اے پـه اللّٰه ګرانـه ! ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿78﴾

زار شـم د روضـې ښـکلـے ، ر دے د دلبر ﷺ زمـا
زار د مـديـنـې ښـکـلـے ، ر دے د دلبـر ﷺ زمـا
ر دے د صـديـق ؓ دغــه ، دلتـه کښې عـمرؓ ووسی
ر دے د عثـمـانؓ دغـه ، دلتـه کښې حيدرؓ ووسی
دلتـه ورځـے شپـے ښـکلـے ، ر دے د دلبر ﷺ زمـا
زار د مـديـنـې ښـکـلـے ، ر دے د دلبـر ﷺ زمـا
دلتـه کښې حسنؓ ، حسينؓ خوب کوی آرام کوی
دلتـه کښې مخلوق د ربّ ، هر ساعت سلام کوی
دغــه نـظـارے ښـکـلـے ، ر دے د دلبـر ﷺ زمـا
زار د مـديـنـې ښـکـلـے ، ر دے د دلبـر ﷺ زمـا
کـور دے د حضرت بلالؓ ، کـور دے د سلمانؓ دغـه
کـور د ے د حضرت حمزهؓ ، کور دے د حسانؓ دغـه
دوی سـره کـوڅـے ښکلـے ، ر دے د دلبر ﷺ زمـا
زار د مـديـنـې ښـکـلـے ، ر دے د دلبـر ﷺ زمـا
کــور د مــحبــت دغـــه ، کـور د بــرکــت دغــه
ګـران دے پـه احـمدعلی ، کـور د هر عـزت دغـه
دغــه تـذکـرے ښـکلـے ، ر دے د دلبـر ﷺ زمـا
زار د مـديـنـې ښـکـلـے ، ر دے د دلبـر ﷺ زمـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زمزم اوبه ﴿79﴾

د برکتونو نه ډکې د زمزم اوبه دي
دم شوې دم اوبۀ دي، دا په حرم کښې
ورته دُعا د ابراهیمؑ ده
قبوله کړې رحمٰن رحیم ده
حاجیانو ځان سره راوړې، ښې محترم اُوبه دي
دم شوې دم اوبۀ دي، دا په حرم کښې
منډې وهلې هم هاجرې دي
د قربانۍ ډکې قصې دي
دغه جارې د پاك نبي د پاك قدم اوبه دي
دم شوې دم اوبۀ دي، دا په حرم کښې
ورسره یاد دې د اسماعیل
عالي نبي ﷺ دې د ربّ جلیل
مونږ له راکړې ربّ مولی په لوئې کرم اوبه دي
دم شوې دم اوبۀ دي، دا په حرم کښې
د هر رنځور دې دغه علاج
شیرین صفت دي دا په مزاج
عام په دنیا دي د عرب او د عجم اوبه دي
دم شوې دم اوبۀ دي، دا په حرم کښې
زمونږ نبي ﷺ په خپله څکلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـــــريـــــو ولــــــى بــــل تـــــــه نيــــولــــــى
د ډالــے شــکـــل کـښـي ورکـړی تـول عــاَلَـم اویــه دي
دم شــــوے دم اویـــــۀ دی، دا پــــــه حـــرم کـښـــي

څـــکـــلــــــی دی څـــکـــلـــــی دلتـــــــه مـــا دی
پــــــه ډیــــر ادب څـــــکـــلـــــی هــــر چـــــا دی
پــه هــر صــفــت ســره اوچتــے مــکـرَم اویــه دي
دم شــــوے دم اویـــــۀ دی، دا پــــــه حـــرم کـښـــي

څـــوك چــــي ديـــنــــداره او هـــوښيـــــار دي
احـــــمــــــده ! تــــل ئـــــي طـــلبـــگـــــار دي
ډکـــے د میـــنـــے مـــحبــت او د رحـــم اویــــه دي
دم شــــوے دم اویـــــۀ دی، دا پــــــه حـــرم کـښـــي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿80﴾

مــلــگـــری راتـــه هــغـــه د رکــوڅـــه رایـــادوی
خبـــرو کـښـــي دوی مــــاتـــه مــدیـنـــه رایـــادوی
کــلـــــه د صــدیـقؓ خبـــرے، کــلـــــه د عــمــرؓ
کــلـــــه د عثــمـــــانؓ خبــــرے، کــلـــــه د حیـدرؓ
مـــاتـــــه د اصـــحـــــابـــوؓ گـــلدستـــه رایـــادوی
مــلــگـــری راتـــه هــغـــه د رکــوڅـــه رایـــادوی

نـاستــه پــه چـمـن کـښـي د نبی ﷺ پـه مدینـه کـښـي
نــاستــه پــه وطـن کـښـي د نبـی ﷺ پـه مدینـه کـښـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــاتـــه عــالیشــانـــه ښـــۀ حـجـره رایــادوي
مــلــګــري راتـــه هــغــه درکــوځـــه رایــادوي
مــاتــه ښـــۀ مـنـظـر، هـغـه سحـر د مدینـي
مــاتـــه نــور او نــمــر ســره قـمــر د مـدیـنــي
مـــاتـــه ښــائستــۀ ښــۀ نـظــاره رایـــادوي
مــلــګــري راتـــه هــغــه درکــوځـــه رایــادوي
زۀ احـمـد ئــې ذکـر کـوُم دلتـه کښـي پـه میـنـه
تـول ده میـنـه میـنـه زمــا دلتـه کښـي ویـنـه
مـــاتـــه هـــر انـدام هـغـــه نـقـشـــه رایـــادوي
مــلــګــري راتـــه هــغــه درکــوځـــه رایــادوي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿81﴾

هرطرف ته په دنیا کښې، ښۀ موسم د بهار راغـے
خوشـحالـے شوے هرطرف ته، دنبیانو سردار ﷺ راغـے
د خـزان مـوسـم بـدل شـو، معطـره هـر مـحـل شـو
نـوراني هریـو مـحل شو، په شیطان باندې اوربل شو
یـو مـلـګـرے مهربانـه ، د دنیـا پـه دې لار راغـے
خوشـحالـے شوے هرطرف ته، دنبیانو سردار ﷺ راغـے
عـلـم ښـورشو هرطرف ته، حق په زور شو هرطرف ته
بـاطـل تـورشـو طـرف تـه، شرنسکورشو هرطرف ته
درنـځـورعلاج د پاره ، یو طبیب حسندار ﷺ راغـے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحالے شوے هرطرف ته، د نبیانو سردار ﷺ راغے

جهل هر ځائے نه روان شو، کور د شرك دلته كښې وران شو

جوړېنهٔ كور د نور ايمان شو، عام پيغام چې د قرآن شو

د مولیٰ نه هدايت، د دردمنده غمخوار ﷺ راغے

خوشحالے شوے هرطرف ته، د نبیانو سردار ﷺ راغے

د احمد هغه نبي ﷺ دے، مسلمان ئې مقتدي دے

رهنما چې حقيقي دے، هم مكي دے مدني دے

په راتلو سره دنيا كښې، هر طرف ته قرار راغے

خوشحالے شوے هرطرف ته، د نبیانو سردار ﷺ راغے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿82﴾

ښائسته ښكلے حسين له هر بشر مدني ﷺ دے

افسر د مخلوقاتو پيغمبر مدني ﷺ دے

اصحابؓ ئې ښكلي ستوري د آسمان دي په جهان

لازم د دغې ډلے دے ادب په مسلمان

د دوي په مينځ كښې ښكلے نور قمر مدني ﷺ دے

ښائسته ښكلے حسين له هر بشر مدني ﷺ دے

سيرت سره رڼا رڼا هر ځائے په هر طرف

صورت سره رڼا رڼا هر ځائے په هر طرف

كامل د ټول جهان د پاره نمر مدني ﷺ دے

ښائسته ښكلے حسين له هر بشر مدني ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښائسته په هريو نوم سره محبوب د ربّ اکبر
دنیا کښي هر بشر لره دے نورد هر نظر
د هريو درد پاره حق سحر مدني ﷺ دے
ښائسته ښکلے حسين له هر بشر مدني ﷺ دے

عرب ئې تذکره ډېر په ادب او احترام کړي
عجم ورته د مينې محبت هر وخت سلام کړي
علاج د هر رنځور په هريو در مدني ﷺ دے
ښائسته ښکلے حسين له هر بشر مدني ﷺ دے

صادق سره امين د هغه نوم په ټول عرب
عالي په نسبونو کښي لري هغه نسب
بينا سره هر ړوند لره رهبر مدني ﷺ دے
ښائسته ښکلے حسين له هر بشر مدني ﷺ دے

قرآن کښي ئې مولیٰ په ښکلی شان کړے صفت
دنیا کښي هر چا لره د سرسيورے رحمت
ياد شوے په ادب په لراوبر مدني ﷺ دے
ښائسته ښکلے حسين له هر بشر مدني ﷺ دے

احمد ئې ذکر کړے د سلام سره مدام
عالي د هر اسمان نه دے د پاك نبي ﷺ مقام
وجود سره قسم دے معطّر مدني ﷺ دے
ښائسته ښکلے حسين له هر بشر مدني ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 83 ﴾

په خوب کښې چې چا دلته پاك حضرت ﷺ ليدلے دے
دنيا کښې ئې قسم دے حقيقت ليدلے دے
کوم خوب کښې چې ديدار د محمد رسول اللّٰه ﷺ وی
کوم خوب کښې چې ديدار د مصطفیٰ خير الوریٰ ﷺ وی
دنيا کښې ئې حق نور د شريعت ليدلے دے
دنيا کښې ئې قسم دے حقيقت ليدلے دے
دروغ نۀ شی کيدلے دغه خوب د دې جهان
چې کله داسې خوب دلته کښې ووينی مسلمان
مقام سره دا خوب ئې ډير اوچت ليدلے دے
دنيا کښې ئې قسم دے حقيقت ليدلے دے
شيطان نۀ شی راتلے د مصطفیٰ ﷺ ښکلے صورت کښې
شيطان نۀ شی راتلے د نور رڼا ښکلے صورت کښې
احمده ! چې چا خوب په دې صفت ليدلے دے
دنيا کښې ئې قسم دے حقيقت ليدلے دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿84﴾

لکه د نمر په شان دے ښکلے د جانان ﷺ کلے
غواړې مې زړۀ ، چې مې ليدلے د جانان ﷺ کلے
په کښې صديقؓ عالی صفت حضرت عمرؓ وسيږی
په کښې عثمانؓ عالی صفت ښۀ برابر وسيږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـکــه د ستـورو ځـلیـدلـے د جـانـان ﷺ کـلـے
غـواړي مـې زړۀ ، چې مې لیـدلـے د جانان ﷺ کلے
در د حسـنؓ او د حسیـنؓ پـه هـر مـقـام یـادیـږي
در پـه هـر ځـائـے کـښې د ادب او احترام یـادیـږي
هـر چـا پـه لـوئے مـقام منلے د جانان ﷺ کـلـے
غـواړي مـې زړۀ ، چې مې لیـدلـے د جانان ﷺ کلے
ستوري اصحابؓ د مـحـمـد ﷺ دلـتـه پـه جمع ووسی
ښـکـلی احبابؓ د مـحـمـد ﷺ دلـتـه پـه جمع ووسی
مـا وی د زړۀ سـره نیسـلـے د جـانـان ﷺ کـلـے
غـواړي مـې زړۀ ، چې مې لیـدلـے د جانان ﷺ کلے
دا تـمـنـا د غـه دعـا او الـتـجـا لـرمـه
سـوال زۀ احـمـدعـلـی دنیـا کـښې دمولیٰ لـرمـه
تـل پـه ادب مـې یـادولـے د جـانـان ﷺ کـلـے
غـواړي مـې زړۀ ، چې مې لیـدلـے د جانان ﷺ کلے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿85﴾

راشـه د یـار ﷺ کـلـی کـښې خـونـدونـه دی
لـرے اُوسیـدونـکـو لـه دردونـه دی
تـول د مـدیـنـې خـلـق خـوشـحـالـه دی
تـول د دې حـصـې خـلـق خـوشـحـالـه دی
هـر طـرف دلـتـه چـمـنـونـه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشـــه ديــار ﷺ كـلـى كښې خـونـدونـــه دي

غـــم دلتــــه كښـــي نشتـــــه يــو بشـــر ســـره

غـــم دلتــــه كښـــي نشتــــه دے يـــو درســـره

هــر ځــائــے هــر طـرف تــه ښـــۀ يـادونـــه دي

راشـــه ديــار ﷺ كـلـى كښې خـونـدونـــه دي

هـرځـائـے كښـي خـوشبو دپاك نبى ﷺ شتـه دے

دلتـــه كښـي عــالــى هــر صـحـابـى ؓ شتــه دے

دلتـــــه بـــركتـــونــــه رحـــمتـــونـــــه دي

راشـــه ديــار ﷺ كـلـى كښې خـونـدونـــه دي

هـــريـــوه كــوڅـــه كښـــي نــوررنـــا شتـــــه دے

اے احــمـــده ! هـــرخـــوا تــــه وفــــا شتــــه دے

دلتـــــه نــــازل شـــوى آيــــاتـــونـــــه دي

راشـــه ديــار ﷺ كـلـى كښې خـونـدونـــه دي

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿86﴾

مـديـنـه كښې زۀ په خوا كښي د جانان ﷺ اُوسيدے

زۀ ســكـــون ســره هــروخــت پــه اطـمـيـنـان اُوسيـدے

دا ژونـدون مـي مـديـنــه كښـي تيـرولـے دجهـان

دا ژونـدون مـي دي حـصــه كښـي تيـرولـے د جهـان

راســره هــلـتــه كښي تـول خپـل خــانـدان اُوسيـدے

مـديـنـه كښي زۀ په خوا كښي د جانان ﷺ اُوسيدے

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صديقؓ سره نزدے وے هر ساعت په دې مقام
بيا په زړه مې جاري وے د درود سره سلام
زۀ په خوا كښې د عمرؓ او عثمانؓ اُوسيدے
مدينه كښې زۀ په خوا كښې د جانان ﷺ اُوسيدے

هلته كښې د رحمتونو وے په ما باندې باران
ما وئيلے مدينه كښې هر ساعت د ربَ قرآن
خوا كښې زۀ د مدينې د مهربان ﷺ اُوسيدے
مدينه كښې زۀ په خوا كښې د جانان ﷺ اُوسيدے

راسره وے مدينه كښې زما ښكلى اُستاذان
ما احمد ورته كتلے راسره وے شاګردان
خوا كښې زۀ د قدران د عاليشان ﷺ اُوسيدے
مدينه كښې زۀ په خوا كښې د جانان ﷺ اُوسيدے

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿87﴾

مسكن مې په دنيا باندې مولىٰ! چې مدينه وے
هر وختے مخامخ راته د پاك نبي ﷺ روضه وے
دعا مې هر ساعت دغه په زړه د جهان وے
غوښتلے دا دعا مې هر ساعت په هر مكان وے
نيولے مې په لاس د روضې ښكلے جنګله وے
هر وختے مخامخ راته د پاك نبي ﷺ روضه وے
هر وختے سلامونه مې وئيلے په محبوب ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما هغه دلبر ﷺ دے هر مؤمن ته دے مطلوب
شامله ورسره بیا د درود ښۀ وظیفه وے
هر وختے مخامخ راته د پاك نبي ﷺ روضه وے

خادم وے د روضے د محمد ﷺ په مدینه کښې
يو ګل وے د دنیا د پاك نبي ﷺ په باغیچه کښې
د مینے محبت راسره لاس کښې ګلدسته وے
هر وختے مخامخ راته د پاك نبي ﷺ روضه وے

ممکن ده چې مسکن مې مدینه شي د جهان
کۀ اُغواړي احمده ! حق مالك غني سبحان
پوره به مې ارمان د دې دنیا په دې حصه وے
هر وختے مخامخ راته د پاك نبي ﷺ روضه وے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿88﴾

ارمان لره دلته ، د درئې دیدن غواړم
دنیا کښې اُوسیدو له ، زۀ هغه چمن غواړم

حضور ﷺ په کښې اُوسیږي ، هر چا ته ده معلومه
پُرنُور په کښې اُسیږي ، هر چا ته ده معلومه
لیدل د محمد ﷺ دلته د وطن غواړم
دنیا کښې اُوسیدو له ، زۀ هغه چمن غواړم

هر ګل ئې خوشبوداره ، حسین په ټول جهان دے
خوشبو لري هر لاره ، هر درئې عالیشان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليدل ښکلے چمن، زۀ هغه مدفن غواړم
دنيا کښې اُوسيدولے، زۀ هغه چمن غواړم
سکون او اطمينان، هرچا سره په زړۀ دے
کامله نور ايمان، هرچا سره په زړۀ دے
رښا په هر مقام زۀ، د هغې مسکن غواړم
دنيا کښې اُوسيدولے، زۀ هغه چمن غواړم
عالي شرين سخن، هرځائے په هر مقام
احمدعلي ليکلے ښۀ دلته دے تمام
هروخت دلته په ژبه زۀ دغه سُخن غواړم
دنيا کښې اُوسيدولے، زۀ هغه چمن غواړم

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 89 ﴾

ښکلے په دنيا دی ورځے شپے د مدينے
غواړۀ د اللّٰه نه هغه ورځے هغه شپے
هغه ښکلے ښار په کښې هرخوا ته دی مزے
غواړۀ د اللّٰه نه هغه ورځے هغه شپے
لاړ شۀ لاړ شۀ لاړ شۀ، زر تۀ لاړ شۀ مدينے ته
لاړ شۀ لاړ شۀ لاړ شۀ، زر تۀ لاړ شۀ شنے روضے ته
غواړۀ د اللّٰه نه چې تۀ سوال کله کوے
غواړۀ د اللّٰه نه هغه ورځے هغه شپے
سوال کوه دا سوال دپاك اللّٰه نه تل مدام

(c) ketabton.com: The Digital Library



غــوارۀ پـــه دنيـــا بـــانـدې اوچـت دغـــه مـقــام
غـوارۀ غــوارۀ دلتـــه هـغـــه ښـکـلـے بـاغـيـچـے
غــوارۀ د الـلّـــه نـــه هـغـــه ورځـے هغــه شپـے
ځــکـــه دے ژړاکــولـــه، ځـکــه ئـې خـفــه
تـــاتــــه يـــاده شـــوے دانـــوارو ده چيـنـــه
تــاتـــه يــادے شوې دلتــه کـبـنـي هغــه کـوځــے
غــوارۀ د الـلّـــه نـــه هـغـــه ورځـے هغــه شپـے
اُوغــوارې مـولــىٰ کــۀ پـــه دنيــا بــاندې کـريـم
مـابـه پـاك نبـى ﷺ سـره کـړې هلتـه کـبـنـي مقيم
تــل کــوې احـمـــدعــلـــى بـــه دغـــه تـذکــرے
غــوارۀ د الـلّـــه نـــه هـغـــه ورځـے هغــه شپـے

اصحابؓ د نبي ﷺ ﴿90﴾

ښـکـلــے د هرګـل نــه د نبى ﷺ د ر ګـلـونـه دي
ښـکـلــے د جهـان ئـې پـه دنيا بانـدې وختـونـه دي
دوى پـه مـصـطـفـىٰ بـانـدې دلتـه ايمان راوړے دے
چـــا چـــې د وحـدت او اتـفـــاق نيـولـے پـړے دے
دوى دلتـــه کـبـنـي پـريـښـى بـهـتـريـن ښـۀ مثالـونـه دي
ښـکـلــے د هرګـل نــه د نبى ﷺ د ر ګـلـونـه دي
دوى پـه هــر مـقــام بـانـدې ښـۀ مينـه محبـت کـړے
چـا چـې لـه هـر شـر نـه پـه دنيـا دلتـه نفرت کـړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډك د رحمتونو نه ئې دلته قدمونه دي
ښکلے د هر ګل نه د نبي ﷺ د در ګلونه دي

لویه مرتبه لري صدیقؓ دے کهٔ عمرؓ عثمانؓ
لوئے مرتبه ده د علیؓ او د حضرت حسان
ښکلی د نبي ﷺ ئې بیان کړي صفتونه دي

هریو صحابیؓ ښکلے دے هریوه د دین رڼا
هریو صحابیؓ ښکلے دے دوی لري وفا حیا
ښکلے تصوّر د دوی دے لوئے د دوی خیالونه دي
ښکلے د هر ګل نه د نبي ﷺ د در ګلونه دي

دوی دي یاران د نبي ﷺ حق پسے روان دي دوی
دوی دي عاشقان د نبي ﷺ د دین قدردان دي دوی
دوی د دین د پاره برداشت کړي تکلیفونه دي
ښکلے د هر ګل نه د نبي ﷺ د در ګلونه دي

دوی له کوثر د نبي ﷺ دوی له رضا د ربّ
دوی له رڼا د ربّ ده دوی له ښُکلا د ربّ
دغه حق بدله ده دوی د پاره جنتونه دي
ښکلے د هر ګل نه د نبي ﷺ د در ګلونه دي

دین د محمد ﷺ ئې نقل کړے تول په جمع دے
دین حق د احمد ئې نقل کړے تول په جمع دے
دوی د پاك نبي ﷺ نه نقل کړي حدیثونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـکـلـے د هر ګل نـه د نبي ﷺ در ګـلونـه دي
مـونـږ تـه ئـي کـلـمـه ښـودلـے ، مونږ تـه ئـي قـرآن
مـونـږ تـه ئـي ښـودلـے د ے سيرت ټول د جانان ﷺ
دوي نــه نـقـل شـوي د قـــرآن ټـول آيــاتـونــه دي
ښـکـلـے د هر ګل نـه د نبي ﷺ در ګـلونـه دي
ستوري د آسـمـان ورتـه وئـيـلـي پيغمبر ﷺ زمونږ
ستوري ټول روښان ورتـه وئـيـلـي پيـغمبر ﷺ زمونږ
دوي نــه نـقـل شـوي د اسلام واړه حـکـمـونــه دي
ښـکـلـے د هر ګل نـه د نبي ﷺ در ګـلونـه دي
مـا احـمـد ايـمـان پـه صـحـابـهؓ بـانـدي راوړے د ے
دوي د اتـــحـــاد او اتــفـــاق پـــړے نيــولـــے د ے
ښـکـلـي ئـي يـادونـه دي او ښـکـلي ئـي کـارونـه دي
ښـکـلـے د هر ګل نـه د نبي ﷺ در ګـلونـه دي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿91﴾

نــهٔ زهٔ دولــت غـواړمــه ، نــهٔ زهٔ خـانـي غـواړمــه
زهٔ د رســول ﷺ د ربــــس مـلـنـګـي غـواړمــه
نــهٔ مـي مـوټـر پـکــار د ے نــهٔ مـحلونـه غـواړم
کـافـي بــس يـاد د يـار ﷺ د ے نـهٔ مـحلونـه غـواړم
قُـرب هـرسـاعـت دلـتـه کـښـي زهٔ د نبي ﷺ غـواړمـه
زهٔ د رســول ﷺ د ربــــس مـلـنـګـي غـواړمــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــهٔ افســـري غـــوارمـــه ، دا نـــوكـــري غـــوارمـــه
د حـــق يـــاري غـــوارمـــه ، دا نـــوكـــري غـــوارمـــه
نـــهٔ وزات غـــوارمـــه نـــه بـــادشـــاهـــی غـــوارمـــه
زهٔ د رســـول ﷺ د ربـــس مـــلـــنـــگـــی غـــوارمـــه
نـــهٔ عيـــش عشـــرت غـــوارمه دلـتـه دنيـا كښـې وروره
نـــهٔ حـــكـــومـــت غـــوارمـــه دلـتـــه دنيـا كښـې وروه
دغـــريبـــی هلتـــه كښـي بـــس زندگـــی غـــوارمـــه
زهٔ د رســـول ﷺ د ربـــس مـــلـــنـــگـــی غـــوارمـــه
ســـحـــر مـــاښـــام غـــوارمـــه دغـــه دعـــا ده زمـــا
وائـــی احـــمـــد عـــلـــی نـــن دا التـــجـــا ده زمـــا
دوستـــی دنيـــا كښـــې دلتـــه د هـــاشـــمـی ﷺ غـوارمـه
زهٔ د رســـول ﷺ د ربـــس مـــلـــنـــگـــی غـــوارمـــه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿92﴾

لازم ده تـــا ســـره حبيبـــه ﷺ! دلتـــه ميـــنـــه
قـــربـــان قـــربـــان دے شـــمـــه ، لـــه ښـــكلـــے ديـنـه
ديـــن كښـــې وفـــا ديـــن كښـــې دے نـــور پـــروت دے
مـــزے خـــونـــدونـــه حـــق ســـرور پـــروت دے
نـــورُ الـــقـــمـره ! ﷺ حسينـانـو كښـې حسينـه ! ﷺ
قـــربـــان قـــربـــان دے شـــمـــه ، لـــه ښـــكلـــے ديـنـه
راتـــه ستـــا ديـــن پـــرده حيـــا ښـــائـــی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لار د جنت د ربّ رضا ښائي
په مُرسلانو کښې امام المرسلينه! ﷺ
قربان قربان دے شمه ، له ښکلے دينه
راته اخلاق په هره لار ښائي
راته علاج د هر بيمار ښائي
عالي صفته! ﷺ رحمة اللعالمينه! ﷺ
قربان قربان دے شمه ، له ښکلے دينه
دين دے دستور دي جهان ټول دے
دستور احمده! د مردان ټول دے
شرين ګفتاره په دنيا کښې له ګبينه!
قربان قربان دے شمه ، له ښکلے دينه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿93﴾

ساکن وے د عرب ، زۀ مدينه کښې اُوسيدلے
درود مي د سلام سره سحر ماښام وئيلے
په ژبه مي درود وے وظيفه مي د جهان وے
څادر کښې د رحمت پټ د مولیٰ غنی سبحان وے
سحر ماښام ورضے ته مي په دې سترګو کتلے
درود مي د سلام سره سحر ماښام وئيلے
سلام مي وظيفه وے د نجات دغه سامان
سلام مي وظيفه وے د دنيا په هر مکان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوڅه مې مدينه وې اوزما وې هغه کلي
درود مې د سلام سره سحر ماښام وئيلي
خادر زما ادب وې هر ساعت په دې مقام
زما سره هر وخت وې يو تحفه د احترام
ادب سره هر خواته مدينه کښې گرځيدلي
درود مې د سلام سره سحر ماښام وئيلي
په ژبه مې هر وخت وې د نبي ﷺ ښکلي صفت
احمده! د نبي ﷺ ما بيانولو فضيلت
ما بل ته دا سبق په مدينه کښې تل ښودلي
درود مې د سلام سره سحر ماښام وئيلي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 94 ﴾

مدينه ښکلي وطن راته يادېږي
خوشبودار حسين چمن راته يادېږي
ما چې کړې تصوّر د مدينې دے
مخامخ راته منظر د مدينې دے
د نبي ﷺ عالي مسکن راته يادېږي
خوشبودار هغه چمن راته يادېږي
رڼا گانې په کوڅو کښې ئې پرتې دي
هلته کښې دَ عائشې بي بي حجرې دي
د نبي ﷺ ښکلي مدفن راته يادېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشبودار هغه چمن راته یادیږي

برکات په کښې پراته په هر طرف دي

انوارات په کښې پراتهٔ په هرطرف دي

احمد وائي ډیر ډیر نن راته یادیږي

خوشبودار هغه چمن راته یادیږي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿95﴾

عاشقان په مدینې پسې کړیږي

زړهٔ ئې دلته وي خو هلته کښې اُوسیږي

زړهٔ کښې پروت چې وي اثر د محبت

ورته خوب کښې هم په ویخه دیدن کیږي

نادان د عشق له زور نه خبر نهٔ وي

عاشقان ورپسې هروختې ژړیږي

چې زړهٔ باندې وي داغ د محبت

داسې خلق له صورت نه معلومیږي

مبتلا چې وي د عشق په امتحان کښې

په مزه مزه بدن ئې ویلې کیږي

د احمد د حال نه خدایه! تهٔ خبر ئې

په دې ذکر باندې زړهٔ ئې نهٔ مړیږي

## فضیلت د درود شریف ﴿96﴾

په درود سره زنګ زړونو نه لرکیږي

وران کارونه ورسره دلته سمیږي
چا چې دلته وظیفه دغه ګرځولې

اطمینان به ورته هر وخت ملاویږي
حفاظت د هر یو غم نه په جهان دے

رحمتونه په دې سره نازلی
نعمتونه د جهان په دې کښې پټ دي

انسانان ورسره دلته کښې ځلیږي
انوارات د دې په ورد سره هر دم شته

مرتبه ورسره بره اُوچتیږي
څوك چې غواړي خوشحالی په هرمکان

خوشحالی ورسره هروخت حاصلیږي
هوښیارانو له تحفه ده په دې دنیا کښې

نادانان به کله دغې نه خبریږي
مسئلے ورسره ټولے دي حل شوے

لکه نمر په شان ډیوه ده او پړقیږي
د احمد کور کښې خوشبو د دې جهان ده

کله ذکر ورسره چې دلته کیږي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿97﴾

ته چې د نبی ﷺ په لار روان نشے
ته چې د نبی ﷺ نه زار قربان نشے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان ته امتي د نبي ﷺ مه وايه
ځان ته امتي د نبي ﷺ مه وايه
تا باندې لازم شکلې کارونه دي
شه درله پکار عبادتونه دي
تا لره پکار دلته مونځونه دي
تا سره په شمير دغه وختونه دي
ته چې پيروکار د پاك سبحان نشې
ته چې حقيقت پسې روان نشې
ځان ته امتي د نبي ﷺ مه وايه
ځان ته امتي د نبي ﷺ مه وايه
تا لره پکار په دين عمل دې نن
هر څومره که ګران درته مزل دې نن
تا لره پکار وفادار مَل دې نن
ګران درته که هر څومره ئې حل دې نن
ته چې وفادار د حق قران نشې
ته چې دلته مَل د حق بيان نشې
ځان ته امتي د نبي ﷺ مه وايه
ځان ته امتي د نبي ﷺ مه وايه
ته شه وفادار د صديقؓ عمرؓ
ته شه وفادار هم دعثمانؓ د در

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـــــه شــــه وفـــــادار هـــم د عـــلــــی حیــدر رض
تـــــه شــــه وفـــــادار د حـــق د هـــر افســـر
تـــــه کـــــه وفـــــادار نـــن د حسّـــان نشـــې
یـــاتـــــه وفـــــادار کـــــه د ســـلــمـــان رض نشـــې
ځـــان تـــــه اُمَتـــی د نبـــی ﷺ مــــه وایـــه
ځـــان تـــــه اُمَتـــی د نبـــی ﷺ مــــه وایـــه
تـــول دی صـــحـــابـــه رض ستـــوري د دیـــن دلتـــه
تـــابـــــانـــدي لازم ورســـــره میــــنــــــه ده
هـــریـــو دے ښــائستـــه ښــکـــلـــے حسیـــن دلتـــه
تـــابـــــانـــدي لازم ورســـــره میــــنــــــه ده
تـــه چـــي لـــرے دلتـــه د شیـــطــان نشـــې
اے احــــمــــده ! حـــق پســـے روان نشـــې
ځـــان تـــــه اُمَتـــی د نبـــی ﷺ مــــه وایـــه
ځـــان تـــــه اُمَتـــی د نبـــی ﷺ مــــه وایـــه

## ختم نبوت ﴿98﴾

ختمِ نبـوت ســره ولاړ بـــه ځـنګ پـــه ځـنګ یُو
مـونـږه بـه کـامیاب یُو چـي پـه دغي باندي رنګ یُو
مـونـږ ســره مـدد بـــه د مولیٰ غـنـی سبحـان وی
مـونـږ ســره مـدد بـــه د مولیٰ پـــه هر مـکـان وی
مـونـږ بـــه هـــر بـاطـل سره پـه هـر مقام پـه جنګ یُو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختم نبوت سره ولاړ به خڼک په خڼک یُو
ژوند دغه ژوندون به مونږه زار د خپل جانان ﷺ کړو
مونږه به فدا په دغه لار کښي تول سامان کړو
مونږ به دي عمل سره به ښکلی یُو او دنګ یُو
ختم نبوت سره ولاړ به خڼک په خڼک یُو
ښکلي عقیده ده دا ثابته د قران نه ده
دغه رنګ ثابته د نبی ﷺ ښکلی فرمان نه ده
لري لري مونږه د هر شر له شرك د زنګ یُو
ختم نبوت سره ولاړ به خڼک په خڼک یُو
دغه نصحیت دي د احمدعلی نن تهولو ته
ذکر حقیقت دي د احمدعلی نن تهولو ته
مونږ د قربانۍ په لار روان لکه پتنګ یُو
ختم نبوت سره ولاړ به خڼک په خڼک یُو

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 99 ﴾

ستا رهنما د دي دنیا د جهان هلته دي
لاړ شه مدیني ته جانان ﷺ هلته دي
هلته رڼا د هدایت ده
هلته رڼا د هر ظلمت ده
نازل شوي په دي دنیا کښي قران هلته دي
لاړ شه مدیني ته جانان ﷺ هلته دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته طبيب د هر رنځور دے
هلته د زړونو تولو سُرور دے
د پاك الله هغه محبوب قدردان هلته دے
لاړشه مديني ته جانان ﷺ هلته دے
هلته بشُكلا د هر بشره
هلته رڼا د هريو دره
لكه د نمر په شان روښانه انسان هلته دے
لاړشه مديني ته جانان ﷺ هلته دے
هلته خاتم د انبياء دے
احمده! نور د اولياء دے
په لقب ياد هغه بشير مهربان هلته دے
لاړشه مديني ته جانان ﷺ هلته دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 100 ﴾

په سنت بانديې عمل
نور دے نور د هر محل
د رنځور د زړۀ علاج
هر سنت دے حق اصل
ژوند په دې كښې وى ښائسته
مركړۀ اُور ورسره بل
أسانے لره كُنجى

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــه سـنـــت چـــي كـــړي مـــزل
بـــــركتـــونــــــه د مـــولـــــىٰ
چـــــي خـــوړل وي پـــــــه دي څـــكـــل
دا پـــــــرده لـــــــــه هـــــريـــوغـــم
پـــــــه دي ژونـــــد كــــــرۀ خپـــل بـــدل
زنــــدګــــــى پــــــه هــــر مـــقـــام
د رســـــول ﷺ پــــــــــــه لاره تـــلــــــل
ښُـــــــكــــــلا حُســــــن د جهـــــــان
اے احـــــمــــــــــده ! دلتــــــــــه تــــــل

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 101 ﴾

میـــنـــــه هـــرطــرف تــــه مــديـنـــي كـبنـــي ده
میــنــــه د رســول الــلّـــه ﷺ كــوخــي كبنـــي ده
میـــنـــــه شتـــــه دے شتـــه دے هـــر بشـــر لـــره
میـــنـــــه دلتــــه شتـــــه دے هــــر افســـر لـــره
میـــنـــــه د رســـول الــلّـــه ﷺ روضــي كبنـــي ده
میـــنـــــه هـــرطــرف تــــه مــديـنـــي كبنـــي ده
دلتــــه كبنـــي د میـــنــــے خــــاونــدان اُوســـى
دلتــــه كبنـــي د پـــاك نبـــى ﷺ يـــاران اُوســـى
میـــنـــــه د رســول ﷺ پــــه ګــلــدستـــي كبنـــي ده
میـــنـــــه هـــرطــرف تــــه مــديـنـــي كبنـــي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مينـــه تـقسيـم شـوے لـــه دے ښــار نـــه ده
مينـــــه تـــقسيـــم شـــوے د دې دار نـــــه ده
مينـــه ئـــې هـــر وخـــت پـــه تـــذکـرې کښـــې ده
مينـــــه هـــرطـــرف تـــــه مـــديـنـــې کښـــې ده
مينـــــه تـــرې اخستـــــے ده احـــمـــدعـلـــى
مينــــــه تــــرې اخستــــے ده هـــريـــو ولـــى
مينـــــه مـــديـنــے ســـره کـعبـــې کښـــې ده
مينـــــه هـــرطـــرف تـــــه مـــديـنـــې کښـــې ده

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 102 ﴾

د مـــديـنـــې د چـمـــن هـــر گـلـدستـــه ښـکـلـے ده
روضـــه روضـــه ښـکـلـــے ده ، د نـــور چـيـنـــه ښـکلـے ده
خــوشبــو خــوشبــو خـــوره ده د مـــديـنــې پـــه چـمـن
رڼـــا رڼـــا خــوره ده د مـــديـنـــې پـــــه وطـن
هـــره نـقشـــه ښـکـلـے ده دا تـــذکـره ښـکـلـے ده
روضـــه روضـــه ښـکـلـے ده ، د نـــور چـيـنـــه ښـکلـے ده
مشك او عـنبـر نـــه اعـلـىٰ دلـتـــه خـوشبـو پـرتــه ده
د هـــريـــو در نــــه اعـلــىٰ دلـتـــه خـــوشبـو پـــرتـــه ده
ذرّه ذرّه ښـــکـــلــــے ده ، هـــره حـــصـــه ښـکـلــے ده
روضـــه روضـــه ښـکـلـے ده ، د نـــور چـيـنـــه ښـکلـے ده
ورتـــه يـــاران د نبـــى ﷺ راغـلــے دلـتـــه کـښـــې دى

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــول عــاشـقــان دنبي ﷺ راغـلـے دلتــه کبنـي دی
هــره لــمـحــه ښـکـلـے ده ، هره لـحـظـه ښـکـلـے ده
روضــه روضــه ښـکـلـے ده ، د نـور چیـنـه ښـکلـے ده
تـول ســاکـنـان پــه کبنـي دی هـره لـمحه خوشحـالـه
تـول عــاشـقــان پـه کبنـي دی هره لحظه خوشحـالـه
احـمـــده ! دوی خبر کړه ، پـه کبنـي مزه ښـکـلـے ده
روضــه روضــه ښـکـلـے ده ، د نـور چیـنـه ښـکلـے ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 103 ﴾

دا ښـار د مـصـطـفـیٰ ﷺ دے خپل قدم پـه ادب اخله
دربــار د مـصـطـفـیٰ ﷺ دے خپـل قدم پـه ادب اخـلـه
دلتـــه نـظـــر تیـــټ کـــړۀ ، .کـوۀ تـل ئـي احتـــرام
دلتــه نـظـــر تیـټ کـــړۀ ، هـرطرف تـه پـه هرګـام
ګـلـزار د مـصـطـفـیٰ ﷺ دے خپـل قدم پـه ادب اخلـه
دربــار د مـصـطـفـیٰ ﷺ دے خپـل قدم پـه ادب اخـلـه
وایــــه درود وایــــه هـــر ســـاعـــت پـــه هـــر مـقـــام
جـــوړه وظـیـــفـــه کـــړۀ د ســـحـــر او د مــــاښـــام
بــازار د مـصـطـفـیٰ ﷺ دے خپـل قدم پـه ادب اخلـه
دربــار د مـصـطـفـیٰ ﷺ دے خپـل قدم پـه ادب اخـلـه
جـرمـونــه ګـنـاهـونـه پـه درود سره کـړۀ معـاف
پـــه ذکـــر ســـره هـــرخـوا د ودود ســره کـړۀ معـــاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دار د مصطفیٰ ﷺ دے خپل قدم په ادب اخله
دربار د مصطفیٰ ﷺ دے خپل قدم په ادب اخله
دلته کښې رحمتونه د مولیٰ غنی سبحان دی
احمدعلی وختونه د دې دربنۀ عالیشان دی
مزار د مصطفیٰ ﷺ دے خپل قدم په ادب اخله
دربار د مصطفیٰ ﷺ دے خپل قدم په ادب اخله

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿104﴾

دربنکلے د طٰهٰ ﷺ دے احترام ئې تل کوۀ
ښائسته ښکلے اعلیٰ دے احترام ئې تل کوۀ
ښائسته ښکلے منظر ئې په دنیا باندې یادیږی
ښائسته دلته هر در ئې په دنیا باندې یادیږی
حق در رښا رښا دے احترام ئې تل کوۀ
دربنکلے د طٰهٰ ﷺ دے احترام ئې تل کوۀ
مزے د ټولو خلقو هلته کښې په هریو در دی
انوار په دغې لارو د صدیقؓ او د عمرؓ دی
دردا د اولیاء دے احترام ئې تل کوۀ
دربنکلے د طٰهٰ ﷺ دے احترام ئې تل کوۀ
دردا دے د عثمانؓ هر بشر په دې خبر دے
دردا دے د حسّان هر بشر په دې خبر دے
کرم دلته هر خوا دے احترام ئې تل کوۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دربښکلې د طـه ﷺ دے احترام ئې تل کوۀ
سکون د زړۀ قرار دے داسې وائي مسلمان
سکون د زړۀ قرار دے احمد وائي د مردان
له شرکه نه صفا دے احترام ئې تل کوۀ
دربښکلې د طـه ﷺ دے احترام ئې تل کوۀ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 105 ﴾

حق ګفتار د مصطفیٰ ﷺ دے دغه یاد دلته ساته
غوره ټولو کښې اعلیٰ دے دغه یاد دلته ساته
حق خاتم د مُرسلانو ﷺ مونږ ته کړے نصیحت
په دنیا کښې بیان کړے ئې دے مونږ ته حقیقت
هریو کار چې د طـه ﷺ دے دغه یاد دلته ساته
غوره ټولو کښې اعلیٰ دے دغه یاد دلته ساته
حق امین په هریو څیز دے مصطفیٰ خیر الابرار ﷺ
تل عالي په هر لقب دے د نبیانو تاجدار ﷺ
یاد امام الانبیاء ﷺ دے دغه یاد دلته ساته
غوره ټولو کښې اعلیٰ دے دغه یاد دلته ساته
دا ایمان لره دلته اوّلین دے په دنیا کښې
دا ایمان لره دلته آخرین دے په دنیا کښې
په سیرت صورت رڼا دے دغه یاد دلته ساته
غوره ټولو کښې اعلیٰ دے دغه یاد دلته ساته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هريو يار ئي ستورے ښكلے د دنيا د پاس أسمان
په ښـۀ شان سره احمده ! تا دے كړے دا بيان
هر صفت سره جدا دے دغه ياد دلته ساته
غوره تولو كښې اعلىٰ دے دغه ياد دلته ساته

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿106﴾

د مدينې د چمن دلته هر ګل هر ښكلے دے
د نور نه ډك دلته كښې هريو محفل ښكلے دے
مقام ته نۀ رسي ئې نور چمنونه دلته
مقام ته نۀ رسي ئې نور محفلونه دلته
نور د نبي ﷺ سره ښۀ هريو محل ښكلے دے
د نور نه ډك دلته كښې هريو محفل ښكلے دے
په كښې اصحابؓ د نبي ﷺ اُوسي خوبونه كوي
په كښې احبابؓ د نبي ﷺ اُوسي خوبونه كوي
هريو مقام په نبي ﷺ هريو منزل ښكلے دے
د نور نه ډك دلته كښې هريو محفل ښكلے دے
د اطمينان د پاره عاشقان دلته اُوسي
د اطمينان د پاره تول ياران دلته اُوسي
كور او كوڅه دلته كښې ښۀ په اصل ښكلے دے
د نور نه ډك دلته كښې هريو محفل ښكلے دے
ځكه هر چا ته دلته دغه كوڅه ياديږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه هرچاته دلته پاکه روضه يادېږي
هريو مقام په نبي ﷺ دلته کښې تل ښکلے دے
د نور نه ډک دلته کښې هريو محفل ښکلے دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿107﴾

مينه مينه مدينه کښې ده
مينه د رسول الله ﷺ کوڅه کښې ده
هريو مينه په وجود سره
ذکر د سلام او درود سره
حسن او ښکل دغې چينه کښې ده
مينه مينه مدينه کښې ده
يويل نه زارېږي دا منظر ووينه
راشه قرباني د هر بشر ووينه
حُسن او ښکلا هغې نقشه کښې ده
مينه مينه مدينه کښې ده
دلته خاوندان خلق د مينے دي
دلته ساکنان خلق د مينے دي
حُسن او خوشبو دې ګلدسته کښې ده
مينه مينه مدينه کښې ده
در دے د صديقؓ او د عمرؓ عثمانؓ
در دے د عليؓ او د حضرت حسّان

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشـــــه هــــر مـــزه دغـــي حـــصـــــه کښې دا

مـيـنـــــه مـيـنـــــه مـيـنـــــه مـديـنـــــه کښي ده

مــــا بـــــانــدي ده ګــــرانــــــه دا حــمــد بيــــان

دردے ځـــکــــــه دا زمــــا د خــوږ جـــانـــان ﷺ

مـيـنـــــه ئـي هــــرخــواتـــــه تـذکــره کښې ده

مـيـنـــــه مـيـنـــــه مـيـنـــــه مـديـنـــــه کښي ده

## قرآن او سلام ﴿108﴾

اے دوستـه ! سلامونـه پـه جـانـان ﷺ وايـه وايـه

ورځــــے چــي مـديـنـــي نـو قـــرآن وايـــه وايـــه

قـــرآن د زړۀ نــــه زنګ د هـــر انســـان لـــرکـوی

قـرآن د زړۀ نــــه زنګ پــــه هـر مـکـان لـرکـوی

هر ځائـے کښي هر ساعـت پـه هر مکان وايـه وايـه

اے دوستـه ! سلامونـه پـه جـانـان ﷺ وايـه وايـه

عـمـل پـــه عـمـلـونـو کښي دا لـوئـے دے عبـادت

انســـان د پــــاره کــــار دے د نـجـــات د سـعـــادت

کــامـلــــه پـــه دنيــا کښـي حق بيـان وايـه وايـه

اے دوستـه ! سلامونـه پـه جـانـان ﷺ وايـه وايـه

رضـــا پـــه کښـي ده پـټــه د مـولـیٰ غـنـی سبـحـان

خبــــر دي خبــرے نــــه دے دلـتـــه مسلـمـــان

راغـلـــے حـــق کــلام د ربّ بـــرهـــان وايـــه وايـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے دوستــه ! سلامونـه پـه جـانـان ﷺ وايـه وايه
هـروخـت هـريـو ساعـت دے ستا ژبـه دا کلام وي
ستـا ژبــه دے پــه دي بانـدي لمبـه دلتـه مدام وي
نــور دلتـــه کښـي احـمـده ! دايـمـان وايــه وايــه
اے دوستــه ! سلامونـه پـه جـانـان ﷺ وايـه وايه

## د درود شريف او سلام فضيلت ﴿ 109 ﴾

درود سـره يـو ځـائـے ، هر ځـائـے سلام وايـه وايـه
دژونــد دا وظيـفــه کـړۀ ، تـل مُـدام وايــه وايــه
د زړۀ ســکـــون د پــاره هـــر بشـــر لـــره پـکـــار دي
د زړۀ ســکــون د پــاره هــر افســر لــره پـکــار دي
درود چـي نـاقـص نـۀ کـړے ، ښـۀ تـمام وايـه وايـه
دژونــد دا وظيـفــه کـړۀ ، تـل مُـدام وايــه وايــه
نيـکـانـو صـالـحـانو هرسحر ماښام لوستلے
ښــۀ لـويـو امـامـانـو هـر سحر ماښام لوستلے
نــوم ســره د نبـــي ﷺ پـــه احتــرام وايــه وايــه
دژونــد دا وظيـفــه کـړۀ ، تـل مُـدام وايــه وايــه
هر ځائے د مصيبت پـه ځـائے کښي دغه پکاريږي
رنـدو تــه کـلــه دغــه حقيقت دلتـه ښکـاريـږي
افـضـل ښـائستـۀ عـظيم ښـکلے کلام وايـه وايه
دژونــد دا وظيـفــه کـړۀ ، تـل مُـدام وايــه وايــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیرو کښي د جهان د پاره دغه حق ډیوه ده
د نُور حکمت د پاره پیدا کړے ربّ چینه ده
احمده! ځکه دا په هر مقام وایه وایه
د ژوند دا وظیفه کړۀ، تل مُدام وایه وایه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿110﴾

سلام ورته نسیمه! په جار جار وایه وایه
سلام مې د نبیانو په سردار ﷺ وایه وایه
نسیمه یوسه یوسه د سلام سره درود
نسیمه یوسه یوسه احترام سره درود
د مینې سلامونه په تاجدار ﷺ وایه وایه
سلام مې د نبیانو په سردار ﷺ وایه وایه
سلام په محترم باندې وئیل کړه وظیفه
سلام په هر قدم باندې وئیل کړه وظیفه
سلام په عالیشان خیر الابرار ﷺ وایه وایه
سلام مې د نبیانو په سردار ﷺ وایه وایه
د دې سره تړلی دی هر خواته برکتونه
د دې سره تړلی دی هر خواته رحمتونه
ځکه دا وظیفه په هره لار وایه وایه
سلام مې د نبیانو په سردار ﷺ وایه وایه
سلام سلامتي ده د دنیا د هر مکان

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد علی پوره کړلو په دي سره بیان
هیر نهٔ کړے سلامونه په دلدار ﷺ وایه وایه
سلام مې د نبیانو په سردار ﷺ وایه وایه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿111﴾

زما جانان ﷺ مدنی زما ایمان مدنی ﷺ
زما سکون د زړهٔ دے تل اطمینان مدنی ﷺ
زما آقا هغه دے، خیر الوریٰ ﷺ هغه دے
رڼا رڼا هغه دے، حُسن ښکلا هغه دے
لری لوئے شان مدنی ﷺ، اخلاق قران مدنی ﷺ
زما سکون د زړهٔ دے تل اطمینان مدنی ﷺ
د پاس قمر نه ښکلے، د بره نمر نه ښکلے
د هر سحر نه ښکلے، د هر بشر نه ښکلے
د ربّ برهان مدنی ﷺ، دوست د سبحان مدنی ﷺ
زما سکون د زړهٔ دے تل اطمینان مدنی ﷺ
کرم کرم هغه دے، ډیر محترم هغه دے
نور د عالَم هغه دے، اعلیٰ قدم هغه دے
روح د جهان مدنی ﷺ، کرم احسان مدنی ﷺ
زما سکون د زړهٔ دے تل اطمینان مدنی ﷺ
نوم ئې احمد احمده ! حسین ښائسته بیحده
دا ټول جهان خبر دے ، پاك له هر عیب حسده ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما بیان مدني ﷺ، زما اعلان مدني ﷺ
زما سکون د زړهٔ دے تل اطمینان مدني ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ {112}

زما دلدار مدني ﷺ ، دزړهٔ قرار مدني ﷺ
یادومه دلته کښې زهٔ  څکه بار بار مدني ﷺ
زما جانان ﷺ هغه دے ، زما ایمان هغه دے
دوست د جهان هغه دے ، دوست د سبحان هغه دے
کله په پټه پټه یادوم په جار مدني ﷺ
زما دلدار مدني ﷺ ، دزړهٔ قرار مدني ﷺ
د مُرسلانو امام ﷺ ، د اماماانو امام ﷺ
د حق یارانو امام ﷺ ، د صالحانو امام ﷺ
امام د ټولو خلقو عالي وقار مدني ﷺ
زما دلدار مدني ﷺ ، دزړهٔ قرار مدني ﷺ
یاد په طٰهٰ ﷺ سره دے ، په مصطفیٰ ﷺ سره دے
یاد په وفا سره دے ، په مقتدا سره دے
رهبر هر چا له دلته د حقے لار مدني ﷺ
زما دلدار مدني ﷺ ، دزړهٔ قرار مدني ﷺ
درود سلام په هغه ، سحر ماښام په هغه
درود سلام په هغه ، سلام مدام په هغه
ښکلے دے ښکلے دلته په هر ګفتار مدني ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمــا دلــدار مــدنــی ﷺ ، دزړۀ قــرار مـدنــی ﷺ
دزړۀ ټــکــور هــغــه دے ، د سترګو تـور هـغـه دے
پـه احـمـد ګـران دلتـه کښي د پلار او مور هغـه دے
هـغـه غـمـخـوار ﷺ مـدنـی ، هـغـه سـردار مدنی ﷺ
زمــا دلــدار مــدنــی ﷺ ، دزړۀ قــرار مـدنــی ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿113﴾

قـــربـــان شـــم قـــربـــان د نبـــی اٰخـــری نـــه
خـــاتـــم پـــه لـــقـــب دے د هـغـــه نبـــی ﷺ نـــه
ښـکـلـے دے ښـــۀ ښـکـلـے حسیــن حُـســنداره
راغــلــے دے دلتــــه زمــونـــږ د پـــاره
قــربـــان دا جهـــان شـــه دحـق قـریشـی ﷺ نـــه
خـــاتـــم پـــه لـــقـــب دے د هـغـــه نبـــی ﷺ نـــه
حسیـــن د جهـــان امـــام پـــه لـــقـــب دے
حسیـــن د جهـــان عـــالـــی پـــه نســـب دے
قــربـــان مـي وجـود شــه د خپـل هـاشـمی ﷺ نـه
خـــاتـــم پـــه لـــقـــب دے د هـغـــه نبـــی ﷺ نـــه
غـــوره لـــه هـــر چـــانـــه زمـونـږ نبـــی ﷺ دے
عـــالـــی عـــالیشـــانـــه زمـونـږه نبـــی ﷺ دے
قــربـــان مـــال وتـــن شـــۀ د حـق مـدنـی ﷺ نـــه
خـــاتـــم پـــه لـــقـــب دے د هـغـــه نبـــی ﷺ نـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدیقؓ ئي دے یار د غار په دنیا کښې
عمرؓ ورسره هم اُوسیږي په خوا کښې
قربان د عمرؓ نه قربان د علیؓ نه
خاتم په لقب دے د هغه نبی ﷺ نه

یادیږي مې ډیر ډیر د احمد بیان دے
دیدن ئي د جانان ﷺ نن دلته ارمان دے
قربان شم قربان رهبر ابدی نه
خاتم په لقب دے د هغه نبی ﷺ نه

## ختم نبوت عقیده ﴿114﴾

ختمِ نبوت عقیده ډیره عالیشانه ده
دغه بُنیادي عقیده دلته مسلمانه! ده
دغه دے بُنیاد زمونږ د دین او د ایمان دلته
دغه دے بنیاد د ښۀ ښائسته ښکلے قرآن دلته
دا په عقیدو کښې ښۀ اوچته له أسمانه ده
دغه بُنیادي عقیده دلته مسلمانه! ده

دغه ده ثابته د قرآن د ایاتونو نه
دغه ده ثابت د حضور ﷺ د حدیثونو نه
دغه نوراني عقیده هرخوا له پخوانه ده
دغه بُنیادي عقیده دلته مسلمانه! ده
دغه حق منلے صحابهٔؓ ټولو په جمع ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـړې دا ویـنـا حـق فـیـصـلـه تـولـو پـه جـمـع ده
ښـهٔ واضـحـه دغـه نـقـل شـوې اولـیـاء نـه ده
دغـه بُـنـیـادي عـقـیـده دلـتـه مـسـلـمـانـه ! ده
نـشـتـه پـه کـښـې شـك احـمـده ! دغـه حق بـیـشـکـه ده
مـهٔ چـیـړه مـؤمـنـه عـقـیـده دغـه نـازکـه ده
ښـکـلـې خـوشـبـوداره عـقـیـده دغـه انـسـانـه ! ده
دغـه بُـنـیـادي عـقـیـده دلـتـه مـسـلـمـانـه ! ده

## ختمِ نبوت ﴿115﴾

نـور ﷺ زمـا جانان ﷺ هغه ، نبی عالیشان ﷺ هغه
ختـمِ نبـوت سـره ، د ربّ دے بـرهـان ﷺ هـغـه
ختـم نبـوت سـره ، هـر ځـائـے کښـې رنـا رنـا
ختـمِ نبـوت سـره ، هـرځـائـے کښـې ښکـلا ښکـلا
حـکـم د رحـمـان هـغـه ، حسـن د مـکـان هـغـه
نـور ﷺ زمـا جانان ﷺ هغه ، نبی عالیشان ﷺ هغه
ختـم نبـوت بـانـدې ، کـلـك دلـتـه ولاړ يـمـه
ختـمِ رسـالـت بـانـدې ، کـلـك دلتـه ولاړ يـمـه
دیـن زمـا ایـمـان هـغـه ، ژونـد زمـا جـهـان هـغـه
نـور ﷺ زمـا جانان ﷺ هغه ، نبی عالیشان ﷺ هغه
دلـتـه کـښـې وفـا وفـا ، دلـتـه کـښـې حیـا حیـا
دلـتـه کـښـې د ربّ رضـا ، دلـتـه کـښـې وینـا صـفـا

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګـل د ګـلستـــان هـغـــه ، د حق دے اعـلان هـغــه
نـور ﷺ زمـا جانان ﷺ هغه ، نبی عالیشان ﷺ هغه
دغـــه عـقيـده مـيِ ده ، وايـمـــه پـــه جـار جــار
زۀ احـــمــد بيـــان كـــوم ، وايـمـــــه دا بـــار بـــار
رحـم د سُبـحــان هـغـــه ، رحـم پـــه انسـان هغــه
نـور ﷺ زمـا جانان ﷺ هغه ، نبی عالیشان ﷺ هغه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿116﴾

زۀ د مـحـمـد رسـول اللّٰـه ﷺ پـه ديـن قـوی يـمـه
كـلك مـحـمـدی يـمـه ، كلك مـحمدی يـمــه
زۀ پــه نـور ﷺ اسـلام سره د ټولـو نـه عـالـی يـمـه
كـلك مـحـمـدی يـمـه ، كلك مـحمدی يـمــه
نـۀ خـوښـومـه ، نـۀ خوښومه دلته كښي بدعت زۀ تل
نـۀ خـوښـومـه ، نـۀ خـوښـومـه شـريـا شـرارت زۀ تل
زۀ پــه نـور رنـا بــانـدي روان د پـاك نبـی ﷺ يـمـه
كـلك مـحـمـدی يـمـه ، كلك مـحمدی يـمــه
مـا هـريـو سـنـت د پـاك نبـی ﷺ دلتـه مـنلـے دے
دغـي نـور سـنـت سره ، ښـائسـتــه هريو ښار كلے دے
زۀ پــه نـور رنـا كښـي مـقـتـدی د هـاشـمـی ﷺ يـمـه
كـلك مـحـمـدی يـمـه ، كلك مـحمدی يـمــه
هـــريـو امـــر مـــا دلتــــه د ديـن اسـلام مـنلـے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هــريـو امــر مــا دلتـــه د حـق مُدام منلـے دے
يـاد پـه عـاشـقـانو كـښـې زۀ تل د قـريشـي ﷺ يمـه
كـلـك مـحـمـدي يـمــه ، كـلـك مـحمدي يمــه

مـيـنــه مـحبـت لـــرمـــه مـيـنــه مـحبت ښـائـم
زۀ احـمـدعـلـــى دلتـــه رښـــا د ديـن سـنـت ښـائـم
عشـق سـره د پاك نبـي ﷺ هـروخت ستـي سـتي يمـه
كـلـك مـحـمـدي يـمــه ، كـلـك مـحمدي يمــه

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿117﴾

حـق سـره ګـويـا يمـه ،اے نبـي ﷺ زۀ ستـا يمـه
تــۀ ئــي رهـنـمـــا زمـونـږ ، خـلـقـو تــه دا وايـمــه

مــقـتـدیـان يُـو تــا پسـے تــۀ مـقـتـدا زمـونـــږ
مـونـــږ روان يُـو تـا پسـے حق ئـي رهـنـمـا زمـونـږ
تــۀ حُسـن ښـكـلا زمـونـږ، داسـې پـه ويـنـا يمـه
تــۀ ئـي رهـنـمـــا زمـونـږ ، خـلـقـو تــه دا وايـمــه

تـا پسـے روان دي ټـول خـومـره چـې شـاهـان دي نـن
هـرخـوا تــه هـريـو وزيـر ستـا ټـول مـقـتـديـان دي نن
اے رښـا رښـا نبــي ﷺ، ستــا پـــه نــور رښـا يمــه
تــۀ ئـي رهـنـمـــا زمـونـږ ، خـلـقـو تــه دا وايـمــه

ستـا نــه وروسـتـو وروسـتـو دے هـريو امام هـر ولـي
ستـا نـه وروسـتـو وروسـتـو دي هـريو ستا دے مقتدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے وفا نبی ﷺ، ستا پہ مینہ پائمہ
تہ ئي رهنما زمونږ، خلقو تہ دا وایمہ
ستا د شفاعت اُمید دلتہ کښې احمد لری
ستا د شفاعت اُمید دلتہ نیك او بد لری
دا د ربّ نہ غواړمہ، زۀ لاس پہ دُعا یمہ
تہ ئي رهنما زمونږ، خلقو تہ دا وایمہ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿118﴾

زما ښکلے محبوبہ! ﷺ زۀ یم ستا د در ملنګ
د مولیٰ نہ دعاګو یم ، چې شم ستا پہ رنګ زۀ رنګ
دا ستا هریو سنت پہ ما دلتہ کښې ډیر ګران دے
دا ستا هریو سنت عالیشان دے هر بیان دے
بدعت سره هرخوا تہ زۀ پہ دې یمہ پہ جنګ
زما ښکلے محبوبہ! ﷺ زۀ یم ستا د در ملنګ
ستا در کښې هر بشر معطّره سراسر دے
ستا در کښې هر بشر منوّره سراسر دے
ما اُغواړۀ خپل ښار تہ، خپلے مور سره پہ څنګ
زما ښکلے محبوبہ! ﷺ زۀ یم ستا د در ملنګ
صدیقؓ عمرؓ عثمانؓ راتہ ګران دی ستا یاران
علیؓ دے کۀ حسانؓ راتہ ګران دی ستا یاران
پہ دوی باندې کووم هرطرف تہ دلتہ ننګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ښکلے محبوبه! ﷺ زۀ یم ستا د در ملنګ
احمدعلی مردان کښې ستا ليکلے دے صفت
مدّاح دے په دنیا کښې هر طرف ته هر ساعت
ستا ياد سره لر کيږي د زنګ شوی زړۀ نه زنګ
زما ښکلے محبوبه! ﷺ زۀ یم ستا د در ملنګ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿119﴾

رهبر زما او ستا دے محمد نبی اکرم ﷺ
اوچت دے له هرچا نه د عرب او د عجم
هیڅ څوك ورسره نشته مرتبه کښې دلته سَم
اوچت دے له هرچا نه د عرب او د عجم
نعمت دے لوئے نعمت دلته دیدار د محمد ﷺ
دولت دے لوئے دولت دلته دیدار د محمد ﷺ
خوندونه او مزه لري ديدار د محترم ﷺ
اوچت دے له هرچا نه د عرب او د عجم
قسمت سره هرچا ته ئي ديدار دلته کښې کيږي
قسمت سره باربار دغه ديدار نن ملاويږي
رحمت د پاك اللّٰه دے هر طرف ته په عالَم
اوچت دے له هرچا نه د عرب او د عجم
روضه ده د حق نور سره د هر برکت نه ډکه
وريږي رحمتونه پرې د هر رحمت نه ډکه

(c) ketabton.com: The Digital Library


عالی د هر حرم نه دے د پاك نبی ﷺ حرم
اوچت دے له هرچا نه د عرب او د عجم
احمد علی د پاره دے خادر د محبت
احمد علی د پاره دے یو سیورے د رحمت
د زړونو نه لرکیږي ئي په یاد سره هر غم
اوچت دے له هرچا نه د عرب او د عجم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿120﴾

په نبیانو کښي اعلیٰ ، غوره غوره له هر چا
محمد رسول اللّٰه ﷺ ، محمد رسول اللّٰه ﷺ
وفاداره او امین ، حسنداره ډیر حسین
اوّلین او آخرین ، بهترین ښۀ بهترین
یاد هرخواته په وفا ، په صورت سیرت صفا
محمد رسول اللّٰه ﷺ ، محمد رسول اللّٰه ﷺ
سیورے مونږ له د رحمت ، مونږ له نور د شریعت
تول دے مینه محبت ، ذکر ډیر لری اوچت
یاد دے یاد هم په حیا ، داسي دلته په هرخوا
محمد رسول اللّٰه ﷺ ، محمد رسول اللّٰه ﷺ
حق محبوب دے د رحمٰن ، سلطانانو کښي سلطان
ډیر بےحده مهربان ، نمر دنیا کښي د اسمان
د رنځور د زړۀ دوا ، داسي وائی هر دانا

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد رسول اللّٰه ﷺ ، محمد رسول اللّٰه ﷺ

په هغهٔ درود سلام ، دلته کښې سحر ماښام

د هر چا هغه امام ، احمد کړے دا کلام

حق لری خوږه وينا ، هر طرف ته په دنيا

محمد رسول اللّٰه ﷺ ، محمد رسول اللّٰه ﷺ

### نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿121﴾

ارمان د مدينې زما دے دليدو

هر وخت په مدينه کښې دے د اُوسيدو

ښائسته هغه مکان ، يو ګل د ګلستان

عالی هغه مکان ، دربار دے عاليشان

چمن کښې مې ارمان دے د پاتے کيدو

ارمان د مدينې زما دے دليدو

عرب کښې مې وے کور ، عجم نه لرے لرے

عرب کښې مې وے ګور ، عجم نه لرے لرے

لرم په زړهٔ ارمان د هلته ګرځيدو

ارمان د مدينې زما دے دليدو

خدمت ته زهٔ ولاړ هروخت وے په جهان

په ما د رحمتونو وے هلته کښې باران

ارمان مې دے هروخت روضې ته د کتو

ارمان د مدينې زما دے دليدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلام درود سره هروخت وينا مي وے په جار
احمدعلی کولے عمل دغه بار بار
زما سره هروخت وے د هغه درخوشبو
ارمان د مدينې زما دے دليدو

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿122﴾

شان د مصطفیٰ ﷺ دے ښۀ اعلیٰ ښکلے
داسې بشر نشته بل بالا ښکلے
څومره انبياء چې په دنيا کښې دی
هرځائے چې راغلی په دنيا کښې دی
غوره ټولو کښې دے مجتبیٰ ﷺ ښکلے
داسې بشر نشته بل بالا ښکلے
ټولو انبياء لره امام هغه
هرځائے کښې لری عالی مقام هغه
شافعِ محشر دے مصطفیٰ ﷺ ښکلے
داسې بشر نشته بل بالا ښکلے
ذکر ئې دراز او نياز ښور شوے دے
مشك هغه عنبر د هر کور شوے دے
ياد دے هرطرف ته په وفا ښکلے
داسې بشر نشته بل بالا ښکلے
د هريو حسين نه ډير حسين هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه اوّلين او آخرين هغه
خورم قسم هغه دے په رښتيا ښکلے
داسي بشر نشته بل بالا ښکلے
ما احمدئي ذکر په ادب کړے
ذکرئي عجم سره عرب کړے
ښکلے هر صفت سره طٰهٰ ﷺ ښکلے
داسي بشر نشته بل بالا ښکلے

## نعتِ مصطفٰی ﷺ ﴿123﴾

اے د پاك اللّٰه محبوبه! ښکلے عاليشانه! ﷺ
اے رسوله! ﷺ اے رسوله! زار شمه لتانه
ښکلے مخلوقاتو کښي تۀ ئي له هرچانه
اے رسوله! ﷺ اے رسوله! زار شمه لتانه
ښار دے په ښارونو کښي ښکلے دے اعلٰی دے ډير
کور دے په کورونو کښي ښکلے دے بالا دے ډير
دغه در ليدل غوارم سوال مي دے مولٰی نه
در دے ستا د نور په شان هريو ئي ليدل غواړي
در دے ستا د نور په شان ټول ورته ورتلل غواړي
ما هم ربّ نه غوښتے دے ستا در له پخوانه
غوره مخلوقاتو کښي غوره انبياء نه ئي
غوره مخلوقاتو کښي غوره له هرچانه ئي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے په مخلوقاتو کښي لوئے صفت سلطانه ! ﷺ

تـا بـانديږ سلام دے وي دلتـه کښـي سحر ماښام

تـا بـه بـانديږ سلام دےوي دلتـه کښي په هر مقام

اے پــه مــرسلانو کښـي ګـرانــه قدردانــه ! ﷺ

دلتــه کښـي احـمـد عـلــی دغــه يو بيان کوی

غــوارِي ديـدن ستــا دلتــه دغــه يو ارمــان کوی

غــوارِي دا دُعــا دلتــه هــر وخــت د الـلّــه نــه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿124﴾

مـلـګـرو! پـه دنيا کښي رهـنـما چي د چا شتـه

غم به هغهٔ څهٔ کړي مـصـطفیٰ ﷺ چي د چا شته

فـکـر بـه د څـهٔ کـړي چي رهبـرئي محمد ﷺ وي

فـکـر بـه د څـهٔ کـړي چـي دلبـرئي محمد ﷺ وي

غـم نـه بـه وي لـرے يو طـٰهٰ ﷺ چـي د چا شتـه

غم به هغهٔ څهٔ کړي مـصـطفیٰ ﷺ چي د چا شته

فـکـر بـه د څـهٔ کـړي چـي اسلام بـانديږ مئين وي

څوك چي په دنيا کښي حق کلام بانديږ مئين وي

زړهٔ د پــاره دلتــه کښــي دوا چــي د چــا شتــه

غم به هغهٔ څهٔ کړي مـصـطفیٰ ﷺ چي د چا شته

فـکـر بـه د څـهٔ کـړي پـه سنـت چي ئي عمل وي

فـکـر بـه د څـهٔ کـړي لـه بـدعـت چي لـرے تل وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاسره ملګري شــۀ دُعا چې د چا شته
غم به هغۀ څۀ کړي مصطفیٰ ﷺ چې د چا شته
قُرب چې د نیکانو لري نۀ به فکرمندوي
هغۀ اے احمده! په هرځائے به قدرمندوي
لاسو کښې ډیوه د حق رڼا چې دچا شته
غم به هغۀ څۀ کړي مصطفیٰ ﷺ چې د چا شته

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿125﴾

په بل چا څۀ کومه د جانان ﷺ کوڅه مې شته
ملګرو! د محبوب غنی سبحان ﷺ کوڅه مې شته
بل څوك مې پكار نۀ دي د ایمان كوڅه مې شته
ملګرو! د محبوب غنی سبحان ﷺ کوڅه مې شته
دوی مونږه ته شودلے نیغه لاره د اللّٰه ده
دا لاره نیغه لاره په دنیا کښې په هرخواده
د هریو خیر نه ډکه په جهان کوڅه مې شته
ملګرو! د محبوب غنی سبحان ﷺ کوڅه مې شته
کلمه د ربّ ئې مونږ ته رارسولے په دنیا ده
قسم دے نورانی ئې د دنیا هره ادا ده
د سرسیوری د پاره په هرآن کوڅه مې شته
ملګرو! د محبوب غنی سبحان ﷺ کوڅه مې شته
قرآن کښې ئې ښودلے مونږ ته هرڅۀ د جهان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تول هر څـهٔ ورتـه دلتـه کښې ښودلی يو رحمٰن دی

د هـغـې رهـنـمـا دښـهٔ انسـان کـوڅـهٔ مې شتـه

مـلـګرو ! د محبوب غنی سبحان ﷺ کوڅه مې شته

د نـــوم ســـره تـــړلـے ئــې رحـمـــت دے بـرکـت

د نــوم ســره تــړلـے ئــې احــمـده ! دے عــزت

د مينـــے مــحبــت د مهــربـان کـوڅــهٔ مـې شتـــه

مـلـګرو ! د محبوب غنی سبحان ﷺ کوڅه مې شته

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿126﴾

د عـــاشـــقـــانـــو پـــه نبـــی ﷺ مــې ســلام

پـــه هــغـــه ښــکـلـــی هــاشـمـی ﷺ مــې سلام

د مـــرســـلانـــو پـــه تـــولـــی هـــر ســـاعـــت

پــــــه مــــقـتــــدا او مــــقـتــــدی مــــې ســــلام

رڼـــــا د دیـــن د هــــــر بشـــــر د پـــــاره

پــــه دې مــــکـــی او مـــدنـــی ﷺ مـــې ســـلام

دغـــــه فـــضـــا چـــې مـعـطَـــره ئـــې کـــړه

پـــه داســـې ښـــکـلــی قــريشـــی ﷺ مــې ســلام

ستـــوری دنيـــا کښـــې د آســـمـــان يـــادیـــږی

پـــه هـــريـــو ښــکـلـے صـحـابـیؓ مـې سـلام

خـــلـــوص او مینـــــه مـــحبـــت لـــری چـــې

پـــه هــر مــؤمــن ، پـــه هــرولـــی مـــې ســـلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ئې د دين مُدام خدمت کړے دے
په داسې خلقو ابدي مې سلام
احمد د ښه خلقو خدمت منلے
ورته د مينے حقيقي مې سلام

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿127﴾

د مدينې لارو کوڅو کښې يو ملنګ وے
په هغه خاوره رنګ وے ، بس هلته اوسيدلے
چې وے د کور او خپل وطن نه لرے
نورے ما نکړے هلته کښې خبرے
په حقيقت کښې د رسول ﷺ د در پتنګ وے
په هغه خاوره رنګ وے ، بس هلته اوسيدلے
راته ژوندون دلته کښې ګران دے
راته ياد شوے خوږ جانان ﷺ دے
په دغې ياد سره د زړۀ مې لرے زنګ وے
په هغه خاوره رنګ وے ، بس هلته اوسيدلے
سحر ماښام مې ښۀ ښائسته وے
خوشبو په ژوند کښې مې پرته وے
د خوږ جانان ﷺ په ذکر سره هر وخت دنګ وے
په هغه خاوره رنګ وے ، بس هلته اوسيدلے
زۀ وے او ته وے اے جانانه ! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وائـــي احــمــد !نبــي ســلــطــانــه! ﷺ
پـه حـفاظت سره محفوظ له هريو جنګ وے
پـه هغـه خـاوره رنګ وے ، بـس هلتـه اوسيدلے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿128﴾

هر ځائے دے خوشبوداره ، وطن دا ډير حسين دے
ساکـن ئي محـمـد ﷺ دے ، د پاك الله نيازبين دے
ساکـن ئـي صـحابـهؓ دي ، ياران د مـحـمـد ﷺ دي
عـالـي پـه تـذکـره دي ، دوستـان د مـحـمـد ﷺ دي
هريو پـه کښي اعلیٰ دے ، اعلیٰ دے بهترين دے
ساکـن ئي محـمـد ﷺ دے ، د پاك الله نيازبين دے
دنيـا کښـي دے جـنـت کـۀ غـواړې ځوك جنت
يـو کـور د بـرکـت دے يـو کـور دے د رحـمـت
روضـي بـاندي ښائستـۀ منظر د ګنبد شيـن دے
ساکـن ئي محـمـد ﷺ دے ، د پاك الله نيازبين دے
پــه خـــاوره ئـي وفــا ده ، حيــا ده او ښـکـلا ده
صـفـا ده ښـۀ صـفـا ده ، رڼا پـه کښي هرخواده
ســاکـن ئــي مــرتبــه کښــي د ټـولـو اوّلين دے
ساکـن ئي محـمـد ﷺ دے ، د پاك الله نيازبين دے
دا کــور د هــر مــؤمــن دے دا کــور د هــر ولــی دے
احــمــد وائـــي پـــه جــار ، دا کــور د متـقــی دے

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا کـور د ښـهٔ صـادق دے ، دا کور د حق امیـن دے
ساکـن ئې مـحـمـد ﷺ دے ، د پاك الله نیازبین دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿129﴾

زهٔ بـلـبـل د مـدیـنـې د ګـلـسـتـان یـم
زهٔ عـاشـق د مـصـطـفیٰ ﷺ ښـکـلی جانان ﷺ یم
دسـنـت سـره ئـې مـیـنـه لـرم زړهٔ کښې
شـریـعـت سـره ئـې مـیـنـه لـرم زړهٔ کښې
تـابـعـداره د نبـی اخـرزمـان ﷺ یـم
زهٔ عـاشـق د مـصـطـفیٰ ﷺ ښـکـلی جانان ﷺ یم
مـال او سـر مـې تـرې قـربـان شـهٔ پـه دنیـا کښې
شـریـنـې ده د رسـول الـلـه ﷺ ویـنـا کښې
هـغـه در سـره لـه شـر نـه پـه امـان یـم
زهٔ عـاشـق د مـصـطـفیٰ ﷺ ښـکـلی جانان ﷺ یم
ډیـره خـوښـه مـې حـق لار د مـحـمـد ﷺ ده
لار مـې خـوښـه د هـریـار د مـحـمـد ﷺ ده
د اصـحـابؓ پـه لاره هـروخـتـے روان یـم
زهٔ عـاشـق د مـصـطـفیٰ ﷺ ښـکـلی جانان ﷺ یم
ښـهٔ اوچـت دے لـه کـوره هـغـه کـور
نـور ښـور شـوے د نبـی ﷺ دے پـه هـر لـور
زهٔ احـمـد ئـې پـه مـردان کښې ثـنـاخـوان یـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ عـاشق د مـصـطـفـىٰ ﷺ بـشـكـلـي جانان ﷺ يم

نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿130﴾

د خپـل نبـي ﷺ هـرځـائـے كـښـې مسلمان صفت كوي
جانـان ﷺ د هـر مـؤمـن دے د جانان ﷺ صفت كوي

څـوك دلـتـه يادوي ئـې پـه خپـل كـور كـښـې د دنيا
يـاديـږي هـرطـرف تـه پـه هـرلـور كـښـې د دنيا
مـخلـوق ئـې بـره پـاس پـه هر اسمان صفت كوي
د خپـل نبـي ﷺ هـرځـائـے كـښـې مسلمان صفت كوي

مـئـيـن پـه هـغـه ذات بـانـدې سلام وائـي تـمـام
عـمـل ئـې د دنيـا وي دلـتـه كـښـې دغـه مـدام
هـروخـت ئـې د مـولـىٰ بـشـكـلـے قـرآن صـفـت كـوي
د خپـل نبـي ﷺ هـرځـائـے كـښـې مسلمان صفت كوي

نبيـان او مـرسـلان ئـې مـقـتـديـان دي جـهـان
ولـيـان تـول امـامـان دي وريـسـے وروستـو روان
د هـغـه رهـنـمـا خـو تـول جـهـان صـفـت كـوي
د خپـل نبـي ﷺ هـرځـائـے كـښـې مسلمان صفت كوي

اغـيـار ئـې رحـمـت د مـحـبـت دلـتـه قـائـل دي
اغـيـار كـښـې پـه دنيـا كـښـې عظمت دلـتـه قائل دي
اغـيـار ئـې د دنيـا پـه هـر مـكـان صـفـت كـوي
د خپـل نبـي ﷺ هـرځـائـے كـښـې مسلمان صفت كوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبوب د ټولو خلقو محمد خیر البشر ﷺ
یخ والے په دنیا کښې دے د سترګو د نظر
احمدعلی ! په خپله ئې رحمٰن صفت کوی
د خپل نبی ﷺ هرځائے کښې مسلمان صفت کوی

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿131﴾

دوستانو ! په خیر راغلے چې کعبه مو ولیده
ورسره د رسول الله ﷺ کوڅه مو ولیده
ډیر ډیر خلق به تاسو په کعبے کښې وے لیدلے
ډیر ډیر خلق به تاسو په روضے کښې وے لیدلے
د پاك الله احسان وو چې روضه مو ولیده
منظر د طوافونو به وی ستاسو په نظر کښې
منظر د چمنونو به وی ستاسو په نظر کښې
قسمت سره قسم دے دا حصه مو ولیده
ورسره د رسول الله ﷺ کوڅه مو ولیده
لبیك لبیك نعرے وے په کعبه کښې هرطرف ته
درود وو سلامونه په روضه کښې هرطرف ته
په دغې لنډۍ ژوندون کښې دا مزه مو ولیده
ورسره د رسول الله ﷺ کوڅه مو ولیده
قطار په قطار خلق هلته کښې په هرطرف
د نور د انوار خلق هلته کښې په هر طرف

(c) ketabton.com: The Digital Library



شائسته ځه حسين منظر دا ګلدسته مو وليده
ورسره د رسول الله ﷺ کوڅه مو وليده
احمد د دغي درد ديدن دلته په ارمان دے
ارمان دغه دنيا کښي په هرځائے د مسلمان دے
ارمان لري چي دلته مدينه مو وليده
ورسره د رسول الله ﷺ کوڅه مو وليده

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿132﴾

کۀ کاميابی په محشر غواړو د الله به منو
ورسره هر ساعت د خپل نبي ﷺ وينا به منو
د هر شيطان نه او د شر نه به نفرت کوو مونږ
کار د دنيا په طريقه به د سنت کوو مونږ
سنت هر در د پاره هر خواته رښا به منو
کۀ کاميابی په محشر غواړو د الله به منو
کار د اسلام به هر طرف ته ښۀ په مينه کوو
شرين کلام به هر طرف ته ښۀ په مينه کوو
چي حق پرست وي په دنيا هغه مُلا به منو
کۀ کاميابی په محشر غواړو د الله به منو
مونږ د صديقؓ سره عمرؓ سره به مينه کوو
مونږ د عثمانؓ سره حيدرؓ سره به مينه کوو
د ټول اُمت نه مرتبه کښي دوی بالا به منو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــهٔ کــامیــابی پــه مـحشـر غـواړو د اللّٰــه بــه منـو
تاج د عزت کهٔ مونـږ پـه سـر پـه محشر غواړو هلته
تــاج د عـظـمـت کـهٔ مـونــږ پـه سـر برابر غواړو هلتـه
مــونـــږه قــدم پــه قــدم دلتـــه د مولـیٰ بــه منو
کــهٔ کــامیــابی پــه مـحشـر غـواړو د اللّٰــه بـه منـو
دغــه احــمـدعــلی هــرچــاتــه نصیـحت کـوی نـن
دغــه احــمـدعــلی هــرچــاتـه وضــاحت کـوی نـن
ګند نــه بــه ځـان لــرے ســاتـو ویـنـا صـفـا بـه منو
کــهٔ کــامیــابی پــه مـحشـر غـواړو د اللّٰــه بــه منـو

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿133﴾

ارمــان مــي دے ارمان پــه مـدینــه کـښـي اوسیـدے
ســـاکــن وے د رســول الــلّٰـــه ﷺ د رزهٔ د کــوڅــے
یـــادونـــه راســـره وے د اصـــحـــابـوؓ د نبــی ﷺ
یـــادونـــه راســـره وے د مــکـــی او مــدنـــی ﷺ
روضــه کـښـي پــه خـدمـت سـره دا وخـت مـي تیریدے
ســـاکــن وے د رســول الــلّٰـــه ﷺ د رزهٔ د کــوڅــے
هــروخــت وے مــخـــامـخ راتــه دربــار د مـحـمـد ﷺ
هــروخــت وے مــخـــامـخ راتــه ګـلـزار د مـحـمـد ﷺ
هــروخــت مــي وے پــه ژبــه بـانـدي دغـه تـذکـرے
ســـاکــن وے د رســول الــلّٰـــه ﷺ د رزهٔ د کــوڅــے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمت سره تر لې هر ساعت مې وې بدن
خدمت ته زۀ ولاړ د مصطفیٰ ﷺ وې د مسکن
قسمت مې د جهان لکه د نمر چې ځلیدې
ساکن وې د رسول الله ﷺ د درزۀ د کوڅې

ادب او احترام وې زما تن سره تمام
په زړه هر ساعت مې وې درود سره سلام
غذا زما درود وې هم په دغې وې ژوندې
ساکن وې د رسول الله ﷺ د درزۀ د کوڅې

یاران مې وې ملګری اے احمده! د جهان
مور پلار راسره هم وې، راسره وې اُستاذان
هروخت مونږ د رسول الله ﷺ روضې ته چې کتې
ساکن وې د رسول الله ﷺ د درزۀ د کوڅې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿134﴾

ربّه! غواړم ستانه ستانه، هغه دربۀ عالیشانه!
چې ساکن ئې محمد ﷺ دے، غواړم در هغۀ لتانه
ارمانی ئې د دیدن یم، ستا نه دغه مې دعا ده
ارمانی ئې د دیدن یم، تا ته تل مې التجا ده
اے خالق د تولو زمکو! ربّه! اے غنی سبحانه!
چې ساکن ئې محمد ﷺ دے، غواړم در هغۀ لتانه
د اصحابو؆ په ګاونډ کښې، دا ژوندون مې تیرولے

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه ادب ســره ورے هــلتــه اُوسيــدلــے غــلــے

دغــه ســوال مـي دے لــتــانـه ! اے خالـق د دوجهانـه !

چـي ساكـن ئي محمد ﷺ دے ، غوارم در هغهٔ لتانه

پاك وطن مي كور وطن ورے دغه سوال زما مولیٰ دے

پاك وطـن كښـي مـي مسـكن ورے ،دغه سوال درته زما دے

دا فــريــاد لــرم پــه ژړــه ! اے خبــر لــه هر انســانــه

چـي ساكـن ئي محمد ﷺ دے ، غوارم در هغهٔ لتانه

ربَــه تــاتــه مـي فـريــاد دے ربَــه تـاتــه مـي ژړاده

د احــمــد عــلــي پــه ژړــه ، هر ساعت دغــه ويــنا ده

اے مـئـيـن پــه مـخلـوقـاتـو ! اے مالكه مهربـانـه !

چـي ساكن ئي محمد ﷺ دے ، غوارم در هغهٔ لتانه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿135﴾

پـوخ د كـانـي پـه شان هريو حق خبر د محمد ﷺ دے

تيـز لـه چانه دنيا كښـي سـوچ نظر د محمد ﷺ دے

مـولـیٰ مـونـږ لـه گـرځـولـے نور رحمت د كُل عـالم

سيورے هر چاله دنيا كښي تل د سر د محمد ﷺ دے

ښــهٔ اخـلاق پــه هــر مـقـام مسلمان سره چـي نن دی

دغـــه دلتـــه پـــه دنيــا بــانـدي اثـر د مـحـمـد ﷺ دے

رنـا گـانـے ئـي ښـورے دی هـرطـرف تـه پـه جـهان

داسـي هـريـو صـحـابيؓ پـه لـر او بر د محمد ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ احمد ورسره هروخت زړۀ کښې مينه لرم دلته
يو قلعه د حفاظت عالي درد محمد ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿136﴾

اوچت اوچت زمونړ نبي ﷺ نبي ﷺ دے
عظيم صفت زمونړ نبي ﷺ نبي ﷺ دے
مئين په هغۀ ټول نيکان دلته دي
ټول محبت زمونړ نبي ﷺ نبي ﷺ دے
ورته قمر شُکلا کښې نۀ رسيږي
ټول ئې د سيوري لاندے دلته اُوسي
داسې رحمت زمونړ نبي ﷺ نبي ﷺ دے
دروغ ئې ژوند کښې چرته څوك نۀ مومي
حق صداقت زمونړ نبي ﷺ نبي ﷺ دے
مهربان هر ځائے په هرچا دلته کښې
ټول سخاوت زمونړ نبي ﷺ نبي ﷺ دے
ورته الله دوست د جهان وئيلے
عالي نسبت زمونړ نبي ﷺ نبي ﷺ دے
ورسره هريو دين منسوخ دلته دے
حق شريعت زمونړ نبي ﷺ نبي ﷺ دے
احمد ئې دلته اقتدا کړے ده
عزت عزت زمونړ نبي ﷺ نبي ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿137﴾

د ربّ احسان احسان نبی ﷺ نبی ﷺ دے
زما جانان ﷺ جانان ﷺ نبی ﷺ نبی ﷺ دے
کور کښې ئې هر ساعت نیکان اُوسیږی
کور کښې ئې شکلی انسانان اُوسیږی
نُور د هر یو مکان نبی ﷺ نبی ﷺ دے
زما جانان ﷺ جانان ﷺ نبی ﷺ نبی ﷺ دے
مشر د ټولو اولیاء دلته کښې
په هر طرف د علماء دلته کښې
مشر د جِن ، انسان نبی ﷺ نبی ﷺ دے
زما جانان ﷺ جانان ﷺ نبی ﷺ نبی ﷺ دے
دین ئې رڼا د ټول جهان د پاره
سنت ئې نور دے هر مکان د پاره
دوست د الله رحمٰن نبی ﷺ نبی ﷺ دے
زما جانان ﷺ جانان ﷺ نبی ﷺ نبی ﷺ دے
حق ئې کتاب او شریعت منمه
لار د فلاح دا هر ساعت منمه
زمونږه نُور ایمان نبی ﷺ نبی ﷺ دے
زما جانان ﷺ جانان ﷺ نبی ﷺ نبی ﷺ دے
قدر ئې زۀ د ټول اصحابؓ کوومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره مینه په هر باب کوومه
درب بیان، اعلان نبی ﷺ نبی ﷺ دے
زما جانان ﷺ جانان ﷺ نبی ﷺ نبی ﷺ دے
خوښ د اللّٰه دے دا په جار وایمه
احمد زۀ دلته کښې بار بار وایمه
قوی دلیل برهان نبی ﷺ نبی ﷺ دے
زما جانان ﷺ جانان ﷺ نبی ﷺ نبی ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿138﴾

په مُرسلانو کښې بالا عالیشان هلته دے
لاړ شه مدینې ته جانان ﷺ هلته دے
هلته فضا د محبت ده
هلته هوا د محبت ده
ښائسته د ټولو نه عالی گلستان هلته دے
لاړ شه مدینې ته جانان ﷺ هلته دے
هلته کښې زړونه خوشحالیږي
سکون هر زړۀ ته ملاویږي
اثر برکت په هر مقام د قرآن هلته دے
لاړ شه مدینې ته جانان ﷺ هلته دے
کور د حضرت رسول اللّٰه ﷺ دے
په هر صفت سره جدا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نُـور نــه ډك پــه دې دنيــا هر مكـان هلتــه دے
لاړ شــۀ مـديـنـــې تـــه جــانــان ﷺ هلتــه دے
خـــوشبـــو ده هـــلتـــــه پـــــه كـــوځـــو كښـــې
خـــوشبـــو ئـــې ده پـــــه تـــذكـــرو كښـــې
آغــاز دنيــا كښـــې د هـــريو ګلستــان هلتــه دے
لاړ شــۀ مـديـنـــې تـــه جــانــان ﷺ هلتــه دے
احـــمــــد پـــــه جــــار بيـــــان كـــوولـــو
احـــمــــد بـــــار بـــــار اعـــلان كـــوولـــو
درب دليــل ، سـكـون د زړۀ اطـمـيــان هـلتــه دے
لاړ شــۀ مـديـنـــې تـــه جــانــان ﷺ هلتــه دے

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿139﴾

غـواړم غـواړم د اللّٰــه نــه زۀ دوستـي د مـدنـي ﷺ
مينـه هرځائے هر ساعـت پـه دنيا د خپل نبي ﷺ
نـور مـې نـۀ دی څـۀ پـكـار ، بـس د دغـې يم طالب
يـم د ميـنـے طـلبـګـار ، بـس د دغـې يم طـالـب
لـمـن غـواړمــه هـر وخـت پـه دنيا د هاشمي ﷺ
مينـه هرځائے هر ساعـت پـه دنيا د خپل نبي ﷺ
بـس نسبـت مـې دے پكار ، د حضرت خير الابرار ﷺ
بــس نسبـت مـې دے پكار ، د نبيانـو د سـردار ﷺ
زۀ عـاشق يـم د هغـوی چې دے ياد پـه قريشي ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


مینـه هرځائـے هر ساعـت په دنیا د خپل نبی ﷺ

امـامـانـو لـــه امـام ، مـصـطـفـیٰ ﷺ خیـر الانـام

پـــه هـغــــۀ درود سـلام ، د سـحـر سـره مــاښـام

غـوارم غــوارم مـــه یـاری ، د عثـمـانؓ او د عـلـیؓ

مینـه هرځائـے هر ساعـت په دنیا د خپل نبی ﷺ

صـداقــت زۀ د صـدیـقؓ غـوارم دلتـــه پـــه دنیـا

عـدالــت زۀ د فـــاروق غـوارم دلتـــه پـــه هـرخـوا

یـــاری غـــوارم مــــه دلتــــه پـــه دنیـــا د هـــر ولـــی

مینـه هرځائـے هر ساعـت په دنیا د خپل نبی ﷺ

رښـــا غـــوارم د قـــرآن ، هـرســاعـت زۀ پـــه جهـان

د احـمـد دے دا بیـــان ، چــي ســاکن دے د مـردان

غـوارم غـوارم پـــه دنیـا د مـولـیٰ نـــه هـر نیـکـی

مینـه هرځائـے هر ساعـت په دنیا د خپل نبی ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿140﴾

مینـه ستـا زړۀ کښـي کـۀ پـرتـه د هاشمـی ﷺ ده

درود سـلام ووایـــه ، دغــه ستــا مینـه حقیقـی ده

پـــه کښـــي د هـــر مـؤمـن د پـاره کـامیــابـی ده

درود سـلام ووایـــه ، دغــه ستــا مینـه حقیقـی ده

څـــــــوك چــــــــي درود وائـــــــــی ســـــــلام

عـــــالـــــی بــــــه وی پـــــــه هــــــر مـقـــــام

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کــامیــابــی هــریــو بشــر لــه ابـدي ده

درود سـلام ووایـه ، دغـه سـتا مینـه حقیقـی ده

تــذکــره وی چــي جــانــان ﷺ

د پــاك نبــی آخــرزمــان ﷺ

خبــره دلتــه راشــه دغــه بنــهٔ قــوي ده

درود سـلام ووایـه ، دغـه سـتا مینـه حقیقـی ده

لــری ډیــرا جــر پــه جهــان

وائــی درود چــي مســلــمــان

مینــه پــه زړهٔ کښــي چــي د چــا د مدنــی ﷺ ده

درود سـلام ووایـه ، دغـه سـتا مینـه حقیقـی ده

ده وظیــفــه دعــالــمــانــو

احــمــده! هــرخــوا د نیــکــانــو

چــا چــي ده کــړے د هــغــهٔ خــوش نـصیبــی ده

درود سـلام ووایـه ، دغـه سـتا مینـه حقیقـی ده

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿141﴾

ارمــان لــرم پــه زړهٔ د مــدینــي د بنــکلــی دار

چــي کــلــه بــه ورځــمــه

د میـنــے مــحبــت زهٔ پــه دنیــا کښــي یم بیمـار

چــي کــلــه بــه ورځــمــه

ارمـان لـرم پـه زړهٔ کښـي ، چـي کلـه بـه پوره شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیان لرم په زړهٔ کښي چي کله به پوره شي
دا زړهٔ مي هغه درپسې دے ډېر زيات بیقرار
چي کله به ورځمه
د مینې محبت زهٔ په دنيا کښي يم بيمار
چي کله به ورځمه
ملګری رانه لاړل ، زهٔ دلته کښي کړیږم
په پټه پټه دلته ، هر وخت زهٔ ژړیږم
هر وخت مي دغه زړهٔ د هغي در دے طلبګار
چي کله به ورځمه
د مینې محبت زهٔ په دنيا کښي يم بيمار
چي کله به ورځمه
هر وخت مي تصور کښي ، وسيږی هغه در
په زړهٔ کښي په نظر کښي ، وسيږی هغه در
ياديږی هغه دروړته دنيا کښي بار بار
چي کله به ورځمه
د مینې محبت زهٔ په دنيا کښي يم بيمار
چي کله به ورځمه
مولیٰ نه مي دعا ده ، سحر سره ماښام
د زړهٔ نه مي وينا ده ، سحر سره ماښام
طالب احمدعلي دے هرساعت ئي د ديدار

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــــي كــــلــــــه بــــــه ورځـــمـــــــه

د مينـــې مـحبـت زۀ پـــه دنيـــا كښــي يم بيمـار

چـــــي كــــلــــــه بــــــه ورځـــمـــــــه

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿142﴾

ښـكـلـې د هـر لارنـــه ، د مـصـطـفىٰ ﷺ لاره

ديـــن د مـــحـــمـــد ﷺ دے ، د هـــرچـــا د پـــاره

ديـن د هـريـو ديـن نـــه ښـكـلـې دے اعلىٰ دے

ديـــن ئـــي نـــور رنـــا دے ، تـــول وفـــا دے

لاره ښـــكـــلـــے لاره ده اے طـــلـبـــگـــاره

ديـــن د مـــحـــمـــد ﷺ دے د هـــرچـــا د پـــاره

مينـــه مـحبـت دے خـوك چـي مينـــه غواړي

فـضـل او رحـمـت دے خـوك چـي ربَ تـــه ژاړي

غـــواړه دغـــه لاره لـــــه پـــروردېـــگـــاره

ديـــن د مـــحـــمـــد ﷺ دے د هـــرچـــا د پـــاره

دغـــه دے هـــرچـــا لـــه خـوك چـي پـــه عـجـم دي

دغـــه دے هـــرچـــا لـــه نـن چـي پـــه عـالَـم دي

د عـــــــرب د پــــــــاره لاره ده هـــــــواره

ديـــن د مـــحـــمـــد ﷺ دے د هـــرچـــا د پـــاره

هـــريـــو حـكـم دلـتـــه ښـــۀ ښـكـاره د ربَ شـتـــه

راشـــــه رنـــا دلـتـــــه د عـــجـــم عـــرب شـتـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دین د محمد ﷺ دے ښهٔ شرین ګفتاره
دین د محمد ﷺ دے د هرچا د پاره

ما احمد منلے هر امر په دې کښې
ښکلے دے ډیر ښکلے هر امر په دې کښې
خوب نه رابیدار شهٔ ځان کړه خبرداره
دین د محمد ﷺ دے د هرچا د پاره

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿143﴾

ربه! په سنت سره ښائسته کړے دا ماحول
غواړو مونږه ټول دغه غواړو مونږه ټول

غواړو تا نه تا نه هریو نور د شریعت دلته
غواړو تا نه تا نه هر ځائے سیورے د رحمت دلته
ربه! په مونږ وکړهٔ د خپل خاص کرم نُزول
غواړو مونږه ټول دغه غواړو مونږه ټول

غواړو تا نه غواړو حفاظت د هریو شر نه مونږ
غواړو تا نه غواړو حفاظت د هر ضرر نه مونږ
هر ځائے په انصاف سره وی دلته کښې تل تول
غواړو مونږه ټول دغه غواړو مونږه ټول

غواړو درنه غواړو د بدعت په ځائے سنت دلته
غواړو درنه غواړو احمد وائی حقیقت دلته
ربه! مونږ جولے درته نیولے دے کچکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



غـــوارو مـــونــــړه تـــول دغــــه غـــوارو مـــونــــړه تـــول

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿144﴾

زلفے یادے په وَالَّیل ئي ، یاد طٰهٰ او په یٰسین ﷺ دے
په نیازبینو کښي نیازبین دے ، اوّلین دے آخرین دے
مرسلان وریسے وروستو وودریدلی وو په مونځ کښي
حق ولیـان وریـســے وروسـتـو وودریدلی وو په مونځ کښي
د هــر چــا هـغـــه امام دے د هـرچـانــه بهـتـریـن دے
په نیازبینو کښي نیازبین دے ، اوّلین دے آخرین دے
پـه هـرځـائـے کـښـي مهـربانه د هغهٔ عالی صفت دے
قــدردانـــه عـــالـیـشــانـــه د هـغــهٔ حق فـضـیـلـت دے
دغـریـب سـړی مـلـګـرے پـه یـتـیـم بـانـدي مئین دے
په نیازبینو کښي نیازبین دے ، اوّلین دے آخرین دے
د مـظـلـوم سـړی مـلـګـرے مصطفیٰ ﷺ د دي جهان دے
د مظلوم سړی ملګرے مصطفیٰ ﷺ په هر مکان دے
دوست د ښهٔ خلقو هرخوا ته دوست د ربُّ الْعٰلمین دے
په نیازبینو کښي نیازبین دے ، اوّلین دے آخرین دے
خپـلـو تـولـو تــه ښــهٔ ګران دے محمد ﷺ د دوجهان
جــزء زمـــونــــړه د ایـمـــان دے مـحـمـد ﷺ د دوجهــان
ښـهٔ اخـلاق ښـکـلـے سیرت دے ، یاد صادقه او امین دے
په نیازبینو کښي نیازبین دے ، اوّلین دے آخرین دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر قدم ئې مبارك دے هر طرف ته په جهان
هر قدم ئې مبارك دے ګل دے ګل د ګلستان
د جهان سپرلے سپرلے دے، هريو در ورسره شين دے
په نيازبينو کښې نيازبين دے، اوّلين دے آخرين دے
د احمد علي په زړهٔ هر ساعت هغه اوسيږي
د زړهٔ غم ورسره دلته د هريو انسان ختميږي
د هرچا د زړګي سر دے د هرچا نه ډير حسين دے
په نيازبينو کښې نيازبين دے، اوّلين دے آخرين دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿145﴾

ژوندون راته ګران شو مے مدينه راته ياديږي
رسوله! ﷺ ستا چمن ښکلے کوڅه راته ياديږي
قسم دے په عجم کښې ډير زيات يم بيقراره
هر وخت ستا د ديدن يم دنيا کښې طلبګاره
له دې وجے هر وختے ستا روضه راته ياديږي
رسوله! ﷺ ستا چمن ښکلے کوڅه راته ياديږي
ياران د مدينې ستا صديقؓ دے که عمرؓ
يا حضرت عثمانؓ دے يا دے علي حيدرؓ
د دې ښائسته ګلونو ګلدسته راته ياديږي
رسوله! ﷺ ستا چمن ښکلے کوڅه راته ياديږي
ماښام ښکلے سحر، ښائسته هغه منظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــاس ستـــورې او قـــمـــر، رڼــا د پـــاســـه نـمـــر
مـنــظـــر د مــديـنـې هغــه نقشـــه راتـــه يـاديـږي
رسـولـه! ﷺ ستـا چـمـن ښـکـلـے کوڅه راته ياديږي
درود ســـره ســلام، ښـــائستـــهٔ ښـکـلـے کـلام
احـــمـــدہ! تـــل مـــدام، وائـــم پــــه احتــــرام
روضــه ســره نــزدے ښـکـلـے جنګله درتـه يـاديـږي
رسـولـه! ﷺ ستـا چـمـن ښـکـلـے کوڅه راته ياديږي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿146﴾

مـدحـه ئې د لـتـه تـهٔ کـوُلــے پـه دې خُلـے چې نهٔ شـے
څـنـګه عاشق ئې د رسول ﷺ په لاره تلـے چې نهٔ شـے
تـــهٔ دعـــويـــدار ئـــې د نبـــي ﷺ ســـره دمينـــے دلتـــه
تـــه دعـــويدار ئې هـاشـمـي ﷺ ســره د مينـے دلتـه
تـــهٔ پـــريښـــودلـــے د دنيـا دلتـــه مزے چې نـــهٔ شـے
څـنـګه عاشق ئې د رسول ﷺ په لاره تلـے چې نهٔ شـے
تـا نـه صـديقؓ عـمرؓ عثـمـانؓ وُلـے هير شوې دې نن
تـانـه علـيؓ، حـضرت حسّان وُلـے هير شوې دې نن
دوې تـه پـه مـيـنـه مـحـبـت دلتـه کتـے چې نـهٔ شـے
څـنـګه عاشق ئې د رسول ﷺ په لاره تلـے چې نهٔ شـے
تـانـه حسنؓ، حسينؓ هيــر شـوې پـه جهان وُلـے دې
تـانـه د پـاك نبـي ﷺ هيــر شوې تول ياران وُلـے دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـهٔ د تـورتـم نـه پـه دنيا دلتـه وَتـے چـې نـهٔ شـے
څنګه عاشق ئې د رسول ﷺ په لاره تلے چې نهٔ شے
تـاتـه احـمـدعـلـی دا وعـظ او نـصـيـحـت کـړے دے
تـا پـرېښـودلـے پـه دنيا کښې د وحـدت پـړے دے
د بـدعـتـونـو نـه دلتـه جُدا کيدے چې نـهٔ شـے
څنګه عاشق ئې د رسول ﷺ په لاره تلے چې نهٔ شے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿147﴾

د مـصـطـفـیٰ ﷺ نـه پـس نبـی ﷺ نشتـه دے
اعـلـیٰ پـه شـان د هـاشـمـی ﷺ نشتـه دے
قـول او ګـفـتـار ئې د ګـېـن پـه شـان دے
څـوك پـه مـخـلـوق کښې ئې ثـانی نشتـه دے
ښـکـلـے کـردار او ادا ګـانـو سـره
بشـر ښـائستـه داسې عـالـی نشتـه دے
مـولـیٰ رهبـر دے ګـرځـولـے مـونـږ لـه
زمـا رهبـر بـل حـقـيـقـی نشتـه دے
يـو ګـلـدستـه د صـفـتـونـو تـولـو
داسې اعـلـیٰ بـل صـفـتـی نشتـه دے
هـريـو بشـر پـه هـغـه دلتـه مـئين
بـل پـه جهـان څـوك مـرکـزی نشتـه دے
ښـکـلـے حسنؓ، ښـکـلـے حسينؓ د جهـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي اعلیٰ ئي نور نمسی نشته دے

احمد په هغه ذات مئين دلته دے

بل رهنما ديو ولی نشته دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿148﴾

طالب چي زۀ د اطمينان شمه نو نعت وليکم

طالب د نور چي د باران شمه نو نعت وليکم

کله سيرت ته د نبی ﷺ چي دلته زۀ اوُګورم

په تصوّر کښي دغه اَن شمه نو نعت وليکم

خيال د جانان راجمع کوومه او لفظونه ورکوم

ذکر سره د مهربان شمه نو نعت وليکم

راته کوځے چي مخامخ د مصطفیٰ ﷺ د رشی

ورته په خيال کښي ور روان شمه نو نعت وليکم

راسره ښکلے تذکره چي د نبی ﷺ کوی څوک

په تصوّر کښي د جانان ﷺ شمه نو نعت وليکم

احمد په خوند مزو سره دغه نعتونه ليکی

طالب د خوند چي په جهان شمه نو نعت وليکم

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿149﴾

رڼاګانے د جهان دی مدينه کښي

لکه څنګه چي سپوږمی وی توره شپه کښي

د جهان د پاره ستوری د جهان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عمرؓ سره صديقؓ هغه حجره کښې
د خوشبو طالب دے لاړشي مدينے ته
هلته هرخوا ته خوشبو ده هر حصه کښې
بل طرف ته په دنيا کښې ليدے نشي
د رحمت طالبان اُوسي په روضه کښې
ملاويږي نور حکمت د شريعت
لاړشه خير د مدينے شته هر کوڅه کښې
زۀ احمدعلي عاشق په هغه دريم
خير دے پروت د مدينې هره ذرّه کښې

نعتِ مصطفٰی ﷺ ﴿150﴾

ورو ورو روانيږي په طرف د مدينې نبي ﷺ
ځي چې د مکې نبي ﷺ، هغې ښکلې ښار ته
غم او مصيبت سره
درد د غه ساعت سره
پريښودے مکے کښې د مکے تولے نقشې نبي ﷺ
ځي چې د مکې نبي ﷺ، هغې ښکلې ښار ته
حکم د مولٰی دغه
حکم دے صفا دغه
ځي چې روانيږي مدينه ته له کعبې نبي ﷺ
ځي چې د مکې نبي ﷺ، هغې ښکلې ښار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورســـــــــره صـــــــديــــــق اكبــــــــرؓ

هــــــم شــــــــورو كــــــوي ســـــــفـــــر

ګوره شوروكـړے دا سفرلـه تورے شپـي نبـي ﷺ

ځـی چـي د مـكـي نبـی ﷺ، هـغـي ښـكـلی ښـارتـه

فـــــــضـــــــل د مــــــولــــــــیٰ ســـــــره

حــــــكـــــم د الـــــــــلّٰـــــــه ســـــــره

بـچ شـو لـه كـفـارونـه پـه صـرف معجـري نبـي ﷺ

ځـی چـي د مـكـي نبـی ﷺ، هـغـي ښـكـلی ښـارتـه

ډيــــــره عـــــجـيــــــــه قـيــــصـــــــــه

وايـــــــــه دا پـــــــــه خـــــونـــــد مــــــزه

داسـي يـادوي احـمـده ! هـريـو درونـد سـړي نبـي ﷺ

ځـی چـي د مـكـي نبـی ﷺ، هـغـي ښـكـلی ښـارتـه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿151﴾

پـــــه درود ســـلام كـښـــي پـــروت د زړۀ عـــلاج دے

اولـيـــاء پـــري ښـــائـسـتـــۀ كـــړے خـپـــل مـــزاج دے

كـــۀ څـــوك غـــواړي پـــه تـورتـم كـښـي رڼـا ګـانـے

پـــه تـيـــرو كـښـــي د جـهـــان رڼـــا ســـراج دے

هـــرعـــزت دے د درود پـــــه وظـيـــفـــه كـښـــي

بـــادشـــاهـــانـو لـــه د ســـر پـــاس تـــاج دے

كـــۀ څـــوك غـــواړي مـــحـبـــت د مـــحـــمـــد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا درود د محبت ئي يو معراج دے
كـۀ څوك غواري د بدعت نه حفاظت
دا علاج د هر فساد او د رواج دے
دا احمد علی په زړه وظيفه ده
هر بشر د دغي وُرد لته محتاج دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿152﴾

بهترين وظيفه ښكلے درود ده
د هر زړۀ سكون د پاره نن موجود ده
د نقصان نه حفاظت په هر مقام دے
يو قلعه له هر شيطان او له مردود ده
قاصدان ئي په مقام باندي خبر دي
وظيفو كښي وظيفه دا د محمود ده
له ګبين نه ده شرينه په صفت
په وينا كښي حق وينا الكه داود ده
د درود په عالي وظيفه نشته
راليږے مونږ د پاره رب ودود ده
دا قُربت د محمد ﷺ دے هر ساعت
وظيفه د هر قاصد او د مقصود ده
دا احمد علي په زړه تل مدام ده
وظيفه د هر فلاح او د بهبود ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿153﴾

څو چې ملګرو مدينې ته مهربان هلته دے
په مُرسلانو کښې نبی اخرزمان ﷺ هلته دے

درد صديقؓ اکبر ياديږي په هردر دلته کښې
درد حضرت عمرؓ ياديږي په هردر دلته کښې
هغه عظيم صفت سيرت ښکلے انسان هلته دے
په مُرسلانو کښې نبی اخرزمان ﷺ هلته دے

هلته انوار دي د حضرت علی په هر طرف
هلته انوار دي د هريو ولی په هر طرف
د پاك نبی ﷺ ښکلے قاصد حضرت عثمانؓ هلته دے
په مُرسلانو کښې نبی اخرزمان ﷺ هلته دے

هر طرف حُسن او ښُکلا په دې جهان هلته ده
رڼا هر ځائے کښې هرطرف ته د ايمان هلته ده
نور برکت په هرطرف د دې قرآن هلته دے
په مُرسلانو کښې نبی اخرزمان ﷺ هلته دے

څکه احمدعلی هروخت ياديږي هغه
په دغې سترګو کښې ئې در دلته اُوسيږي هغه
څکه د زړونو په دنيا کښې اطمينان هلته دے
په مُرسلانو کښې نبی اخرزمان ﷺ هلته دے

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿154﴾

د علم ښار دے بس هغهٔ کور
د نور مینار دے بس هغهٔ کور
ګل د ګلاب دے شاعران وائی
د زړهٔ قرار دے بس هغهٔ کور
په کښې ساکن دے خیر البشر ﷺ
دار د لدار ﷺ دے بس هغه کور
په کښې آفتاب دے رڼا رڼا
یاد په هر دار دے بس هغه کور
مشك او عنبر هلته پراته دي
ټول خوشبودار دے بس هغهٔ کور
زما یادیږی نهٔ مې هیریږی
ډك له اسرار دے بس هغهٔ کور
کور صدیقؓ دے کور د عمرؓ دے
عالی مزار دے بس هغهٔ کور
ښکلے جنګلے دی په هغه کور کښې
زما پکار دے بس هغهٔ کور
کور د عزت دے کور د رحمت دے
کور د بهار دے بس هغهٔ کور
احمد دیدن ئې دلته کښې غواړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسين ګلزار دے بس هغۀ کور

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿155﴾

په هر خوار زړه باره
د طهٰ ﷺ زړه باره

هر خوبي په کښې موجود ده
ښۀ اعلیٰ زړه باره

دا تيرول ختمونه کے
د صبار زړه باره

دروغ نۀ دي په دنيا کښې
د ريښتيا زړه باره

سپين قمر ورته کړے
چې د چار زړه باره

تول ماحول ئې ښائسته کړے
مرحبا زړه باره

دا احمد دلارے مَل ده
ښۀ صفا زړه باره

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿156﴾

ډير عاليشان د پيغمبر ﷺ نوم دے
لکه د نمر يا د سحر نوم دے

هر يو صفت ئې څکه دلته کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د محبوب د ربِ اکبر ﷺ نوم دے
سترګے په دې سره يخيږي زمونږ

داسې رڼا نور د نظر نوم دے
زړۀ په ادب ئې هر حصه ليکمه

داسې اعلىٰ مې دلبر ﷺ نوم دے
هريو حصه ئې مزيداره ښکلے

د رهبرانو د رهبر نوم دے
هريو په دې سره ښائستۀ ښکاريږي

ځکه هر نوم نه بختور نوم دے
په کښې دولت د هر جهان پروت دے

د خوشحالو د هر اختر نوم دے
مشك او عنبر ئې د وجود حصه ده

ښۀ خوشبوداره معطَر نوم دے
ما د خپل زړۀ سره هر وخت لګولے

احمده! ډير ښکلے او ستر نوم دے

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿157﴾

زمونږ رسول ﷺ دے پيغمبر ﷺ د امن
داعي هر ځائے کښې په هر در د امن

بل په دنيا داسې داعي نشته دے
عالي صفت عظيم بشر د امن

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیـــرے دظـــلـــم ورســـره ختـــمـــے شـــوے
عـــالـــی صـــفـــت عـــالـــی رهبـــر د امـــن
لارے کـــوخـــے ورســـره بشـــکـــلـــے شـــولـــے
راغـــلـــــــه رنـــا راغـــے ســـحـــر د امـــن
تـــعـــلـــیـــم د میـــنـــے مـــحبـــت راکـــړے
هـــغـــي عـــظـــیـــم صـــفـــت افســـر د امـــن
مـــونـــږ تـــه تـــعـــلـــیـــم ئـــي د وحـــدت راکـــړے
احـــمـــده ! هـــرځـــائـــے پیـــغـــمبـــرﷺ د امـــن

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿158﴾

بشـکـارم غـمـژن خـو خـوشـحـالـو کښـي اوسم
څـــکـــه د یـــار پـــه تـــذکـــرو کښـــي اوسم
خـوشـحـالـه څـکـه پـه دنیـا کښـي یـمـه
یـــمـــه ذاکـــر څـــکـــه ژونـــدو کښـــي اوسم
غـــم بـــه زمـــانـــه لـــرے اُوســـی
تـــرڅـــو چـــي زهٔ د یـــار کـــوڅـــو کښـــي اوسم
زهٔ بـــے وفـــا نـــهٔ یـــم پـــه جـــاروایـــمـــه
پـــه یـــاد د یـــار زهٔ پـــه مـــزو کښـــي اوسم
زمـــا د میـــنـــي کـــور ودان ورســـره
احـــمـــده ! زهٔ چـــي دي جـــمـــلـــو کښـــي اوسم

★★★★★★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿159﴾

څوك چي چمنونه د نبي ﷺ غواړي
حُسن په دنيا كښي حقيقي غواړي
مينه محبت په مدينه كښي دے
دغه د دنيا هر يو ولي غواړي
لارے تولے ښكلے مدينه كښي دي
څكه ئي امام او مقتدي غواړي
هر يو خوشبو ئي ده په لارو كښي
څوك چي په دنيا كښي خوشبوئي غواړي
در د صالحانو مدينه ښكلے
هر څوك ئي د درنن غلامي غواړي
هر يوه ذره رڼا رڼا الري
دردغه مسكن احمدعلي غواړي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿160﴾

څوك چي ديدنونه د نبي ﷺ غواړي
هغه حقيقت كښي زندگي غواړي
څوك چي په نبي ﷺ درود سلام وائي
هغه رڼا ګانے ابدي غواړي
څوك چي اطاعت د محمد ﷺ كوي
هغه د رسول الله ﷺ ياري غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــا چـي پــه اخـلاص كـلـمــه وئيـلـے ده
هـغــه پــه آخـركښـي كـاميــابـى غـواړي
څــوك چـــي تـــلاوت كـــوى اخـــلاص ســـره
هــغـــه نـعـمـتـونـــه قيـمـتـى غـوارى
چـــا چـــي د نبــى ﷺ يـــاران مـنـلـے دي
هـغـــه خـوشـحـالـى او شيـريـنـى غـواړي
غـــواړه د نبـــى ﷺ ميـنـــه پـــه جـار سـره
دا ميـنـــه مـولـىٰ نـــه هـــرولـى غـــواړي
خـــكـــل كـــړهٔ هـــر ادا د مـحـمـد ﷺ دلتـــه
څـــوك چـــي تـعـلـق د مـدنـــى ﷺ غـواړي
څـــوك چـــي وفـــاداره د نبـــى ﷺ اُووســـى
هـــغـــه پـــه هـــر لاره تـــرقـــى غـــواړي
لاره د نبـــى ﷺ ښـــهٔ خـــوشبـــوداره ده
څـــوك چـــي د سـنتـو خـوشبـوئـى غـواړي
مـــا احـمـد ئـــي ذكـــر پـــه ادب كـــړے
قُـــرب ئـــي هـــر امـــام او مـقـتـدى غـواړي

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿161﴾

چـــي د نبـــى ﷺ د ر مـــلـــنګ شـــمـــه زهٔ
هـلـــه پـــه ديـن بـانـدې بـه رنګ شـمـه زهٔ
هـلـــه بـــه رنګ پـــه دې وجـود مـي راشـى

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـکـــه د شـمـعـې چــې پتـنګ شـمـــه زهٔ
درود سـلام مــې مشـغـولتيـا دلتــه شـی
کـلـه چــې دلتــه پــه ژوند تـنګ شـمــه زهٔ
څـنګ بــه د خيـر نـــه لـرې شـمــه ؟
چــې د بــاطـل سـره پــه جـنګ شـمــه زهٔ
لار د نبــی ﷺ د هــر عـــزت دلتـــه ده
پــه بـل څــهٔ دلتــه بــه څنګ دنګ شـمـه زهٔ ؟
احــمــد دا لاره خـــوښـــه ځـــان لــــه
وائـــی لائــق چــې د هــر نـنګ شـمــه زهٔ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿162﴾

ښـکلی ښـائسـتـهٔ دی د نبـی اٰخرزمان ﷺ خيـالونـه
زمـا سـره دی هـر سـاعت د خپل جانان ﷺ خيـالونـه
دا تـصوّر پـه دې جهـان باندې ډيـرزيات اوچـت دے
ځـکـه دی دلتــه کښـې د ډيـر عـظيم انسان خيـالونـه
هـريـو لـمحـه پـه دغـې فـکر ښـهٔ ښـائسـتـهٔ دلتـه وی
دا حـقيـقـت کښـې دی د نـور او د عـرفان خيـالـونـه
ورسـره ژونـد ددې جهــان پــه هـر مـقـام اوچـت وی
دا د عـظـمـت دی پـه دنيـا د مسـلـمـان خيـالـونـه
هـريـو مؤمـن پـه دې خيـالـونو کښـې خـوشحاله بـه وی
د ټـولـو زړونـو دلتـــه دی د اطـمـيـنـان خيـالـونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد په دغي خيال كنبي دلته تل خوشحاله به وی
ورسره تل وی چي هروخت د قدردان خيالونه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿163﴾

څوك چي رسول ﷺ نه مني، رب نه مني
هغه اسلام او چت مذهب نه مني
څوك چي ياران د پاك رسول ﷺ نه مني
سلسله پاكه د عرب نه مني
قران كنبي شك نشته د رب كتاب دے
منكران دا په كوم سبب نه مني
دا نادانان دي، په څه نه پوهيږي
چي حق رسول ﷺ له منتخب نه مني
صفت د حسن په كنبي چرته به وی؟
څوك چي دنيا باندي ادب نه مني
احمد اسلام كنبي هر ادا منلے
د شر شيطان هريو مكتب نه مني

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿164﴾

تا راته وئيل چي تا د چا المن نيولے ده
ما د محمد رسول الله ﷺ لمن نيولے ده
څكه مي غم نشته د غمونو نه آزاد يمه
څكه مي غم نشته په وجود لكه فولاد يمه
ما د كائنات د مسيحا لمن نيولے ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


تا راته وئيل چې تا د چا لمن نيولے ده
ما د محمد رسول الله ﷺ لمن نيولے ده
ځکه زۀ خوشحاله په وجود باندې ښکاريږمه
ځکه زۀ خوشحاله هر طرف ته پاتے کيږمه
ما د هر بشر د رهنما لمن نيولے ده
تا راته وئيل چې تا د چا لمن نيولے ده
ما د محمد رسول الله ﷺ لمن نيولے ده
ځکه هر سحر مې اطمينان سره تيريږي نن
ځکه هر سحر مې د قرآن سره تيريږي نن
ما خو د محبوب د پاك الله لمن نيولے ده
تا راته وئيل چې تا د چا لمن نيولے ده
ما د محمد رسول الله ﷺ لمن نيولے ده
لاړ به ترينه نشمه دنيا کښې يو طرف ته زۀ
لاړ به ترينه نشمه وينا کښې يو طرف ته زۀ
ما خو په دنيا کښې د دانا لمن نيولے ده
تا راته وئيل چې تا د چا لمن نيولے ده
ما د محمد رسول الله ﷺ لمن نيولے ده
زۀ احمد خوشحاله يم خوشحاله به وسيږمه
زۀ په دغې در سره په خلقو کښې ياديږمه
خير نه د حکمت نه ډکه ما لمن نيولے ده
تا راته وئيل چې تا د چا لمن نيولے ده
ما د محمد رسول الله ﷺ لمن نيولے ده

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿165﴾

رڼــا دنیــا کښــي پــه جهــان د هــاشــمي ﷺ خــوره ده
دا کــــامیــــابــي د ټــول جهــــان تـل ابــدی خـــوره ده
تیــــرے تــورتــم وو هـــر طـــرف تــه پــه جهــــان اول
دنیـــا کښــي غـم وو هــر طـرف تــه پــه جهــان اول
اُوس طــریـقــه پــه کـــائـنــات کښــي نـوراني خوره ده
رڼــا دنیــا کښــي پــه جهــان د هــاشــمي ﷺ خــوره ده
د لات مـــنـــات خبـــرے نشتـــه، د تـــوحيد بيـــان دے
د لات مـــنـــات خبـــرے نشتـــه دے دا يـــو اعـــلان دے
اوس پـري راغـلـــے طـريـقـــه د پـاك نبـي ﷺ خـوره ده
رڼــا دنیــا کښــي پــه جهــان د هــاشــمي ﷺ خــوره ده
ځـوئـے د خپـل پـلار دے قـدردان د دغـي ديـن پـه وجـه
هـر ځـائـے سـکون دے اطـمينـان د دغـي ديـن پـه وجـه
د دغـــي ديـــن نـــه پـــه جهـــان کښــي وروروَلـي خـــوره ده
رڼــا دنیــا کښــي پــه جهــان د هــاشــمي ﷺ خــوره ده
نـــرم شـــول زړونـــه هـغـــه ټول چـي وو د کـانړو نـــه جوړ
د دي جهـــان نـــه پـــه دنيـــا کښــي هــر انسـان شـولـو موړ
د پــاك نبـي د ديــن نـــه هـــر ځـائـے خوشحـالي خوره ده
رڼــا دنیــا کښــي پــه جهــان د هــاشــمي ﷺ خــوره ده
پـــه لـــر او بـــر کښــي خــوشـحـالـے ځـکـه احـمـده! دی نـن
پـــه بـحـــر و بـــر کښــي خوشحـالـے ځـکـه احـمـده! دی نـن
ويــنـــا دنيـــا کښـــي د مـکـــي ﷺ او مـدنـي ﷺ خـوره ده
رڼــا دنیــا کښــي پــه جهــان د هــاشــمي ﷺ خــوره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿166﴾

آخرين او اوّلين چې د دنيا دے
دا صفت د محمد رسول الله ﷺ دے
د هر در د پاره سپورے د رحمت دے
د هر درد پاره حُسن او ښکلا دے
په امام د مرسلانو ياد هغه دے
نوراني صفت راغلے نور رڼا دے
مرتبه کښې بره بره له اسمانه
د هر چا نه په مخلوق کښې تل جدا دے
عاجزي ئې خوښه کړے په جهان ده
مرتبه کښې د هر چا نه ډير اعلیٰ دے
ټول مخلوق ته په جهان هغه محبوب دے
په سيرت باندې کامله ښۀ صفا دے
د الله سره ئې کړے ملاقات دے
هريو ځکه ئې فدا په هر ادا دے
په قرآن کښې په يٰسين سره ياديږي
په لقب سره حسين بدرالدجیٰ ﷺ دے
نوم ئې پاك له هر نکتے نه په جهان دے
اے احمده! په لقب خير الوریٰ دے

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

تمت بحمد الله تعالیٰ وبتوفيقه .... ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم وتب علينا انك انت التواب الرحيم ...وصلی الله تعالیٰ علیٰ خير خلقه محمد وآله واصحابه واهل بيته اجمعين . آمين

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library